# افغانستان
# د ۲۰۱۳ کال کلنی راپور
# په وسله واله جگړه کې د ملکي وگړو ساتنه



© 2013 Rahmat Gul/Associated Press　　ر حمت گل، اسوشیتید پریس


دبشری حقونو لپاره دمکرو ملتونوعالی کمیشنری دفتر

دافغانستان لپاره دملگرو ملتونومرستندویه پلاوی

کابل افغانستان

فبروری، ۲۰۱٤

# AFGHANISTAN ADMINISTRATIVE DIVISION




منبع: یوناما ، جی آی اِس ، جنوری ۲۰۱۲

# افغانستان
# د ۲۰۱۳ کال کلنی راپور
# په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه


دبشری حقونو لپاره دمګرو ملتونوعالی کمیشنری دفتر

دافغانستان لپاره دملګرو ملتونومرستندویه پلاوی



کابل افغانستان

فبروری، ۲۰۱٤

په لومړي مخ تصوير(رحمت ګل ، اسوشيټيد پريس) : د ۲۰۱۳ کال د نومبر د مياشتې په ۲۸ مه نېټه د ننګرهار ولايت په اچين ولسوالۍ کې د سړک د غاړې دوه بمونو چاوديدو وروسته يو افغان وګړی يو ټپي هلک روغتون ته وړي. دويم چاوديدونکی وسيله هغه مهال وچاوديده چې د لومړنۍ چاودنې زيانمن شويو خلکو سره مرسته کونکي يې په نښه کړل. دواړه چاوديدونکو توکو څلور ملکيان وژلي او اته نور يې ټپيان کړي.

**" په افغانستان کې روانه شخړه چې د انسانانو د مړینې په بیه تمامیږي ویره وونکې ده. د ملکي خلکو د ساتنې لپاره باید له هیڅ کوښښ څخه ډه ډه و نه شي."**

یان کوبیش ، د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی ، د ۲۰۱۴ کال جنوري

# صلاحیت/واک

دغه کلنی راپور په افغانستان کې د ملکرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه چمتوشوې دي چې د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ د لومړۍ ورځې څخه د جون تردیرشمې نیټې پورې موده رانغاړي. دا راپور د بشري حقونو د عالي کمشنرۍ د دفتر لخوا د تخنیکي مرستې او کتنې وروسته چمتو شوی دی.

دغه راپور د یوناما د هغه صلاحیت له مخې چمتو شوی دی چې د ملکرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا د ۲۰۹۶ /(۲۰۱۳) پریکړه لیک په اساس ورته ورکړې شوې څو د ملکي وګړو وضعیت وڅاري ، د دوی د ساتنې په موخه هڅې همغږې کړي ، حساب ورکوونه تقویه کړي او د اساسي ازادیو او بشري حقونو ، چې د افغانستان اساسي قانون او د نړیوالو تړونونو ، چې افغانستان یې غړیتوب لري ،برخه ده ، په بشپړ ډول پلي کیدو کې مرسته وکړي ، په ځانګړي ډول د ښځو د ټولو بشري حقونو څخه د برخمن کیدلو په اړه هڅې وکړي.

د امنت د شورا ۲۰۹۶/(۲۰۱۳) پریکړه لیک ،په افغانستان کې د وسله والو شخړو په ترڅ کې د ملکي وګړو د وضعت او په ځانګړې توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړوند روانې څارنې او راپوروركونې ته اهمیت ورکوي .

یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف یې په ملکي وګړو د جګړې د اغیزو راکمول دي لکه: په خپلواکه او بې پلوه ډول د داسې پېښو څارنه چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځي ، د وسله والو نښتو څخه د اغیزمن شویو ملکي وګړو د ساتنې په اړه ، د ملاتړکونکو فعالیتونو او نورو نوښتونو ترسره کول چې په نښتو کې ښکېلې خواوې د بشرپالنې او بشري حقونو د نړیوالو قوانینو او د افغانستان د اساسي قانون د احکامو رعایت کولو ته رابولي.

دا راپور د ملکرو ملتونو د عالي کمشنرۍ ( او سی ایچ ار) د بیا کتنې او تخنیکي مرستې په مټ چمتو شوی.

## اصطلاح ګانې

**هوايي برید:** له الوتکې څخه ویشتونکي مهمات چې په هغو کې نږدې هوایي ملاتړ (د الوتکې لخوا برید) او نږدې جنګي برید چې د چورلکې په مرسته ترسره کیږي ، راځي. همدارنګه په هوایې بریدونو کې هغه هوایې بریدونه هم شامل دي چې بې پیلوټه جنګي الوتکې یا ډرون یې تر سره کوي.

**ABP:** افغان سرحدي پولیس

**ALP:** افغان سیمه ایز پولیس

**ANA:** افغان ملي اردو

**ANP:** افغان ملي پولیس

**ANSF:** افغان ملي امنیتي ځواکونه ، یوه ټولیزه اصطلاح ده ، چې افغان سرحدي پولیس ، ملي اردو ، ملي پولیس او د ملي امنیت اداره په کې شاملیږي.

**دولت ضد عناصر :** په دې ډله کې ټول هغه اشخاص او ډلې راځي چې اوس مهال د افغانستان د دولت او نړیوالو نظامي ځواکونو پر ضد په وسله واله جګړه کې ښکیل دي. هغه وګړي چې د طالبانو په نامه پیژندل شوي او هغه اشخاص اوبیلا بیل ډلی چې په جګړه فعاله برخه اخلي ، او تر مختلفو نومونو لاندې لکه د حقاني شبکه ، حزب اسلامي او د القاعده متحدین لکه د ازبکستان اسلامي حرکت ، د اسلامي جهاد اتحاد ، لشکر طیبه او جیش محمد او نورې ملیشې او وسله والې ډلې چې سیاسي ، ایدولوژیکي او اقتصادي اهداف تعقیبوي یا نوري جرایم پیشه ډلې چې په جګړه کې د یوې ښکېلې خوا په استازیوب ګډون کوي ، په دغوعناصرو کې راځي

**وسلوالې ډلې :** نا دولتي وسلوالې ډلي چې شخړو کې ښکېلې وي او په څرګند ډول د دو لت څخه بېلې وي چې د جوړښت پر اساس د ملیشو څخه واخله تر یاغي جنایي مجرمو ډلو پورې رسیږي. نادولتي وسلوالي ډلي دا وړتیا لري چې د وسلې او ځواک په کارولو سره سیاسي ، ایډیالوژیکي یا اقتصادي اهداف تر لاسه کړي ؛ خو د دولت د رسمي نظامي چوکاټ ، دولتي ایتلاف یا د دولت د خپلمنځیو ارګانونو برخه نه وي او د فعالیت سیمه یې د دولت د ولکې د باندې وي. وسلواله ډلې کیداي شي د دولت د رسمي ولکې او کنترول د سیمې نه د باندې وي خو کیداي شي چې د کوربه یا نورو هیوادونو مستقیم یا غیر مستقیم ملاتړ ولري. .دغه تعریف عبارت له لاندې ډلو څخه دي خو یوازې تر دوي محدودې نه د ی :یاغي ډلې ، سیمه یزې ملېشې ( توکمیز ، قبیلې یا په بل اساس) یاغیان ، ترهګر ، ګوریلا او نور مدني دفاعي ځواکونه او نیمه نظامي ډلې ( چې په څرګند ډول د دولت په ولکه کې نه وي).[1] دغه وسلوالې ډلې د افغانستان د قانون له مخې کوم قانوني بنسټ نه لري.

د یوناما په دی راپور کې بیان شوي دولت ضد وسلوال عناصر، غېر دولتي وسلوالې ډلي بولي لیکن د دولت سره د مخالفت په اساس یې توپیر کاندي.

AXO: پریښودل شوي چاودیدونکي توکي

**ملکي تلفات:**وژل شوي او ژوبل شوي ملکي وګړي

ملکي تلفات په دوه ډوله ډله بندي شوي دي:

- **مستقیم:** دا هغه تلفات دي چې په مستقیم ډول د وسله والې جګړې له امله راپیدا کیږي. د هغه تلفاتو په شمول چې د افغان او نړیواله پوځی ځواکونو د نظامي عملیاتو لکه هوایي بریدونه ، د افغان او نړیوال ځواکونو د ځان ژغورنې په موخه ، د نیولو او تلاشۍ ، د یاغیانو یا ترهګرۍ پر ضد عملیاتو تر سره کیدو په ترڅ کې رامنځ ته کیږي. همدارنګه په

---

[1] د ملګرو ملتونو د وسله والو ډلو سره د بشري مرستو اړوند خبرې اترې . د ګیرارد مک او مینویل بیسلر د فعالینو لپاره لارښود ، د ملګرو ملتونو لپاره د بشري چارو د همغږۍ دفتر ،نیویارک ، جنوي ۲۰۰۶. د وسله والو ډلو اوصاف ۲,۳ برخه وګورئ.

دې کې هغه تلفات هم شاملیږي چې د نا دولتي وسلوالو ډلو دفعالیتونو له امله  لکه په هدفي وژنې ، تعبیه شوي چاودیدونکي توکي او یا له حکومت پلوه ځواکونو سره د مستقیمې ښکلتیا په پایله کې رامنځته کیږي.

- **غیرمستقیم / نور تلفات:** هغه تلفات چې په غیر مستقیم ډول له وسله والې جګړې څخه راپیدا کیږي لکه د جنګې پاتې شویو چاودیدونکي توکو ، په محبسونو کې مړینه ، د کافي طبي شرایطو د نشتوالي له امله مړینې چې د نظامي عملیاتو په ترڅ کې پیښیږي او په داسې ځایونو کې چې طبي پاملرنې ته د لاس رسي مخنیوي شوي وي او یا موجود نه وي. په دې تلفاتو کې هغه مړینه هم شامل ده چې د مرګانیو پیښو مسؤل لوري پکې په پوره اطمینان سره نه شي په ګوته کیداي لکه هغه مرګ ژوبله چې د ډزو د تبادلې په پایله کې رامنځ ته کیږي.

**ماشومان:** د ماشوم د حقونو د کنوانسیون له مخې ماشوم داسې یوه شخص په حیث تعریف شوی چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي (۱۷ کلن ماشوم دی). د دې تر څنګ د روم د نړیوالې جزایي محکمې اساسنامې له مخې چې د افغانستان دولت هم په ۲۰۰۳ کې تصویب کړې ، د ۱۵ کلونو څخه کم عمر ماشومان په دولتي عسکري لیکو کې او یا غیر دولتي ډلو کې شاملول ا و ګمارل ، چې په فعال ډول په جنګ کې برخه واخلي جنګي جرم ګڼل کیږي د ۸ مادې (۲) (ب)(xxvi ) او ۸ مادې (۲) (ت) (vii) وګورئ.

**ملکي وګړي :** د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکي وګړي " هغه افراد دي چې هغه د نظامي/نیمه نظامي ځواکونو غړي نه وي یا په جنګ کې د یوې خوا په منظمو وسله والو ډلو کې غړیتوب ونه لري . ملکي وګړي  کیداي شي چې د بریدونو په وړاندې د خوندیتوب تضمین له لاسه ورکړي که چیرې دوي په نښتو کې کې نیغ په نیغه برخه واخلي. د ملکي وګړو  په څېر د جګړې څخه لویدلی کس hors de combat (ژوبل شوي ، ناروغ ، د ویجاړي شوي کښتۍ عمله ، توقیف شوي یا اوهم تسلیم شوي) یا هغه څوک چې د وسله والو ځواکونو په طبي یا مذهبي پرسونل پورې اړه ولري ،  دوی هم دبرید څخه د خوندیتوب حق لري.

COMISAF **کام ایساف:** افغانستان کې د نړیوال امنیتي مرستندویه ځواکونو قوماندان.

**د** EOF **پیښې:** د عکس العمل ښودلو پیښې ، چې د ځواک د ساتنې پیښې ورته هم وایي. په دې کې داسې حالات شامل دي چې کله ملکي وګړي  نظامي قطارونو ته د نږدې کیدو یا له هغو څخه د مخکې کیدو په وخت کې د نظامي پرسونل اخطارونو ته پاملرنه و نه کړي او یا د تلاشۍ په پوستو کې لارښوونو ته توجه و نه کړي او تر برید لاندې راشي.

ایساف یې بیا داسې تعریفوي: دا یو دفاعي حالت دی چې له وړاندې تهدید په ګوته کیږي او تهدید سره سم دفاعي  عکس العمل د ځواکونو د خوندی ساتنې لپاره اخستل کیږي.[۲]

ERW: له جګړې څخه چاودیدونکي پاتې شوني ، په دې مانا چې ناچاودي توکي  ،او پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي وي.

**IDP:** داخلي بې ځایه شوي وګړي

**IED:** ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي: یو بم چې د دودیزې نظامي طریقې په خلاف په نورو طریقو جوړیږي او کارول کېږي. نوموړي چاودېدونکي توکي کیداي شي د ځانمرګي بم په شکل استعمال شي لکه په ځان پورې تړلې ځاي پر ځاي شوي چاویدونکي توکي (BBIEDs)، دغه راز له لېرې څخه کنترول شوي ځاي پرځاي  شوي چاودېدونکي توکي (RCIEDs)، په موټر کې ځاي پر ځاي شوي او یا تعبیه شوي چاودیدونکي توکي (VBIEDs) ، دقرباني د تماس سره فعالیدونکی چاودیدونکي توکي (VOIEDs) او د فشار په ذریعه چاودېدونکي وسیلې (PPIEDs) هم په دې ډله کې راځي.

**د ځاي پر ځاي شویو چاودیدنکو توکو استثمار**: د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو استثمار د هغو مالوماتو او موادو د تشخیص ،راټولولو ، پروسس او مالوماتو خپرولو پروسه ده چې د ځاي پر ځاي شویو چاویدنکو توکو د پیښې له ځاي څخه راټول شوي دي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي ، د ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو ضد پروسیجرونه او میتودونه غښتلي او د اورپکو منابع کمزوري او د دوي د عدلي تعقیب ملاتړ وشي. په دې کې د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو ساتنه ، د مختلفو برخو تشخیصونه د تخنیکي ، عدلي طب او بایومتریک ازمویني او تحلیل راځي چې د

[۲] د ۲۰۱۴ کال د جنوری په ۳۱ مه د ایساف په مرکز کې د یوناما مصاحبه .

واک لرونکي کارپوهانو له لوري تر سره کېږي. د چاوديدونکو توکو استثمار د اغيزمن او دوامداره چاوديدونکو پر ضد د اقداماتو يوه اساسي برخه ده .

**پېښې:** هغه پيښې دي چې په وسله والو جګړو کې ملکي وګړو ته تلفات اړوي. د يوناما په راپوروونو کې هغه تلفات نه دي شامل چې د جنايي پېښو په پايله کې پېښېږي.

**IHL:** د بشر پالنې نړيوال قانون

**نړيوال نظامي ځواکونه:** په دې ځواکونو کې ټول بهرني عسکر شامليږي چې د ايساف او په افغانستان کې د امريکا د ځواکونو (د ازادۍ د پايښت د عملياتو په شمول) يوه برخه وي او د ايساف د قوماندان COMISAF تر امر لاندې کار کوي. دغه اصطلاح همدا راز په هغو ځواکونو باندې هم د تطبيق وړ ده چې د ايساف د قوماندان تر امر لاندې نه دي ، لکه ځينې ځانګړې ځواکونه او د خاصو عملياتو ځواکونه.

**ټپونه:** د جسماني سختو ژوبلو يا ټپي کيدنو مختلف ډولونه په کې شامليږي. د يوناما په ډيتابيس کې د جسماني ژوبلې درجه نه ده شامله. اروايي يا روحي صدمه يا دماغي جړک پيښې په ژوبلو کې شاملې نه دي.

**ايساف:** په افغانستان کې مرستندويه امنيتي سوله ساتي ځواکونه : ايساف د ملګرو ملتونو د منشور د VII فصل له مخې د سولې د پلي کولو ماموريت يا دنده لري. ايساف د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا په امر او صلاحيت ځاي په ځاي کېږي. د ۲۰۰۳ کال په اګست کې د افغانستان د حکومت او ملګرو ملتونو په غوښتنه د ناټو سازمان د ايساف مشرتابه په غاړه واخيست. د ايساف قواوې اوس مهال د ۱۵ جنورۍ ۲۰۱۴ پورې ۵۷،۰۰۴ تنه سرتيري لري ، چې له ۴۹ هيوادونو څخه راغلي او د مرکزي دفتر کابل سربيره په شپږو سيمه ييزو برخو کې تنظيم شوي دي . د ۲۰۰۸ د نوومبر څخه د ايساف قوماندان په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو قوماندان هم دي ، که څه هم د مراتبو سلسله بېله پاتې شوې. د امنيت د شورا ۲۱۲۰ ( ۲۰۱۳ ) شميره پريکړه ليک د ايساف په اړه مخکيني پريکړه ليکونه تايدوي او د ۲۰۱۴ د دسمبر تر ۳۱ نېټې پورې د نورو ۱۴ مياشتو لپاره د ايساف ماموريت غزوي.

**MOI:** د کورنيو چارو وزارت

**NATO ناټو:** د شمالي اتلانتيک د تړون سازمان. د ناټو د سازمان غړي هيوادونه د ايساف اساسي مرستندويه هيوادونه دي. ايساف وګورئ.

**NDS:** د ملي امنيت رياست. د افغانستان د دولتي استخباراتو اداره

**NGO:** نادولتي سازمان/اداره.

**دولت پلوه ځواکونه**

**افغان دولتي ځواکونه:** ټول هغه ځواکونه او ډلې دي چې په نظامي او نيمه نظامي عملياتو يا د بغاوت ضد عملياتو کې برخه اخلي او په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه د افغانستان د دولت د قوماندې او ادارې لاندې دي. په دې ځواکونو کې افغان ملي اردو ، افغان ملي پوليس ، افغان سرحدي پوليس ، د ملي امنيت په شمول نور سيمه ييز امنيتي ځواکونه هم شامل دي. دغه اصطلاح نړيوال نظامي ځواکونه او نور خارجي استخبارات او امنيتي ځواکونه هم رانغاړي.

افغان ملي امنيتي ځواکونه عبارت دی له : ملي اردو ، چې د دفاع وزارت ته راپور ورکوي اوپه رسمي ډول د افغانستان په وسلواله ځواکونو شامل شوي دي ؛ سيمه ييز پوليس د فعاليت له مخې په رېښتينې بڼه د وسلواله ځواکونو برخه تشکيلوي او په قانوني ډول د ملکي خلکو په څير خونديتوب نه لري ؛ او افغان ملي پوليس ، افغان يونيفارم لرونکی پوليس او افغان سرحدی پوليس د قانون پلي کونکي ادارې دي چې په رسمي ډول د وسلواله ځواکونه برخه نه ده او کورنيو چارو وزارت ته مسؤل دي. د قانون پلي کونکي ادارو غړی هغه مهال خونديتوب د لاسه ورکوي چې د وسلواله ځواکونو دنده اجرا کړي او په جګړه کې نيغ په نيغه برخه واخلي. دوي د خپل ځان د فاع پر وخت د ځواک کارولو له امله د ملکي په څير خونديتوب له لاسه نه ورکوي.

**SOP:** معياري عملياتي کړنلاره

**په نښه شوي وژني** : هغه وژني دي چې په ارادي ، د مخه سنجول شوي او قصدي ډول د دولت او يا د دولت کارکونکو چې د قانون په چوکاټ کې دنده لري ، او يا په وسلواله شخړه کې د منظمو وسلوالو ډلو لخوا د يو په نښه شوي شخص پر ضد وژونکي ځواک وکاروي ، او هغه شخص د مرتکبينو د فزيکي ساتني او نظارت لاندي نه وي. سربيره پردي چې په ډيرو وختونو کې په نښه شوي وژنه د ژوند د حق څخه سرغړونه ده خو په استثنايي ډول په وسلواله شخړه کي ځيني وخت کيداي شي مشروعيت ولري.[٣]

UNDSS: د ملګرو مليتونو د مصؤنيت او امنيت څانګه

**UNAMA:** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی

**UNHCR:** د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنرۍ

**USSOF:** د متحده ايالاتو د ځانګړو عملياتو ځواکونه

**UXO:** نا چاودي توکي

**جنګي جرایم**: د نړيوال بشردوستانه قانون د ميثاقونواو عرفی قانون څخه جدی سرغړونه ته جنګي جرايم وويل کيږي. جنګي د جرمونو د نړيوالې محکمې منشور جنګي جرايم داسی تعريفوي ، د نورو تر څنګه ، په نړيواله شخړه کې د تطبق او پلی کيدونکو قوانينو او دودونو څخه جدی سرغړونه " او " د هغه قوانينو او دودونو جدي سر غړونه چې د غير نړوالې وسلوالې شخړی پر مهال د پلی کيدو وړوی".[٤] جنګي جرمونه عبارت دی د جنيوا کنوينسون ددریم مشترک بند څخه جدی سرغړونه ، د شخص او د هغه د ژوند حق څخه سرغړونه ،او په ځانګړی ډول د وژلو ټول ډولونه ، د معيوبولو ، بی رحمانه سلوک او شکنجه ، د شخص په وقار حرمت تجاوز ،په ځانګړی ډول تحقير او ټيټ ګڼلو سلوک ، يرغمل کول او د قانوني محکمی پرته چې ټول عدلي تضمينونه له ځان سره ولری او په عمومي ډول هغه تضمين چې جزلاينفک او منل شوي وي د داسی محکمې د مخکينۍ پريکړې پرته د سزاګانو صدور او يا د اعدامونو سزاګانو پلی کول د دی جرمونو زمره کې راځي .

---

[٣] د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلي ، د بشري حقونو شورا څوارلسمي ناستې د آجنډا دريم ټکي ، او د محکمي څخه بهر په خپل سر اعدامونو لپاره د ځانګړي راپورټر رپورټ ، او د فليپ آلسټون مکمل رپورټ د "د هدفي وژنو څيړنه" تر عنوان لاندي وګورئ. A/HRC/14/24/Add.6 د ۲۰۱۰ کال د مۍ مياشت وګورئ.

[٤] د جرمونو د نړيوالې محکمي منشور ، ۸ بند( حواله په دوېم جلد.II فصل. ۴۴ ، #۳ ) نړيوال عرفي قانون چې په نړيواله او غير نړيواله وسلواله شخړه کې د پلی کدو وړ دی د هغی له مخي د نړيوال بشر دوستانه قانون څخه جدي سرغړونو جنګي جرايم بلل کيږي. د هوادونو اجراات د نړيوال عرفی قانون نورمونه تشکلوي.قاعده ۱۵۶ د جنګي جرايمو تعريف. ای سی ار سی ، نړيوال عرفی بشردوستانه قانون ، ۱جلد ، قاعده ،ايډ جين ماری هنکرتز او لويز ډوزوالډ- بيک (CU P/ICRC, Cambridge {ICRC Study} (2005 او .See Additional Protocol II, article 13(2). د نړيوال جرمونو محکمي د روم منشور.جنګي جرمونه عبارت دی د غير نړيواله وسلواله شخړی کې پلی کيدونکو د جنګي قوانينو او عرفونو سرغړونې ته ويل کيږي چې لومړی مبنی يې د جنوا د ۱۹۴۹ څلور کنوانسيونونو دريم عمومي بند ،او ورسره د ۱۹۷۷ ضم دوېم پروتوکول ، د ۱۹۹۹ الحاقي پروتوکول د ۱۹۵۴ هاګ کنوانسيون چې په وسلواله جګړه کې د کلتوري ميراث خوندی ساتنی په اړه دی ، د ۱۹۸۹ اطفالو د حقونوکنوانسيون ، د ۱۹۹۴ د ملګرو ملتونو او نښلول شوی پرسونل دمصؤنيت کنوانسيون ، د نړيواله محکمي د رواندا او پخواني يوګوسلاويا لپاره منشور ، او د سريلون لپاره د ځانګړې محکمې منشور). د جرمونو د نړيوالې محکمي د روم منشور لاندی جنګي جرايم وګورئ او دهغی منابع د نړيواله بشردوستانه قانون موازنه ، ای سی ار سی د نړيوال بشر دوستانه قانون لپاره مشاورتی خدمتونه.

## د مطالبو فهرست


**میتودولوژي** i

حقوقي چوکاټ i

په نښته کې د ښکېلو خواوو قانوني مسؤلیتونه ii

**لنډیز** ۱

**سپارښتنې** ۱۲

**۱. د دولت ضد عناصر او د ملکیانو خوندي ساتنه** ۱٤

ځاي پر ځاي شوی چاودیدونکي توکي ۱٤

ځانمرګي او ډله ییز بریدونه ۲۱

د جنګي جرم په بڼه قتل: د ملکي وګړو هدفي وژنې ۲۳

د ټاکنیزوچارو په کارکوونکو او مرکزونو بریدونه او د ټاکنو څخه د مخه موده کې د ملکیانو ساتنه ۲۸

د ملکي تلفاتو په اړه د طالبانو عامه بیانونه ۳۰

**۲. د شخړې د ښکېلو ډلو تر منځ ځمکنۍ ښکېلتیا: د ډزو په تبادله کې د ملکي کسانو ایساریدل** ۳۷

د ځمکنیو نښتو څخه د راولاړ شویو ملکي تلفاتو منسوبونه ۳۷

افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسولیت لېږد او ملکي تلفات ۳۸

په ملکي سیمو کې غیر مستقیمې ډزې: په ځمکنیو نښتو کې د هاوانونو او راکټونو له امله ډیریدونکي ملکي تلفات ٤۰

دولت ضد عناصر: د ځمکنیو نښتو څخه را منځ ته شوي ملکي تلفات ٤۱

افغان ملي امنیتي ځواکونه: د ځمکنیو ښکېلتیاوو څخه را منځ ته شوي ملکي تلفات ٤۲

د ځمکنیو ښکېلتیاوو پر مهال د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا د بشري حقونو سرغړونې لوټ مار ٤۲

**۳. دولت پلوه ځواکونه او د ملکي کسانو ساتنه** ٤٤

هوایي عملیات ٤٥

د عکس العمل ښودلو پیښې ٤۷

د تلاشي عملیات ٤۸

افغان سیمه ییز پولیس او د ملکي کسانو ساتنه ٤۸

د حساب ورکونې نشتوالی: حکومت پلوه وسله وال ګروپونه ٥٥

**۴. د نښتو په ساحه کې د بشري حقونو ساتنه** ٥۸

ماشومان او وسله واله جګړه ٥۸

ښځې او وسله واله جګړه ٦۱

په طبي پرسونل او تاسیساتو بریدونه ٦۱

د جګړو څخه چاودیدونکي پاتې شونې توکي ٦۳

د سرحد د بلې خوا څخه ګولۍ ورول ٦۷

د جګړو له امله د ملکي کسانو بې ځایه کیدل ٦۸

**لومړی ضمیمه: د طالبانو د میاشتني (جنګي جرمونه) تر عنوان لاندې دبیانیو په هکله د یوناما تحلیل:** ۷۰

## میتودولوژي

یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې راپورونه تر هغه ځایه چې ممکن وي د مرګ ژوبلې په سیمه کې څېړي ؛له مختلفوسرچینو سره سلا مشوره کوي او د معلوماتو بیلا بیل ډولونه راغونډوي چې د اعتبار او ریښتینتوب له مخې ارزول شوي وي. یوناما د هرې پیښې په څېړنه او تحلیل کې زیاته هڅه کوي چې د امکان تر حده پورې له مختلفو منابعو څخه راټول شوي معلومات او نظریات کره او کنټرول کړي. په دې لړ کې د عیني شاهدانو او په مستقیم ډول د زیانمنو شویو وګړو بیانونه ،نظامي برخه والو (د افغانستان د حکومت او نړیوال نظامي ځواکونو په ګډون) ځایي کلي/د ولسوالۍ او ولایت چارواکو ، مذهبي او د ټولنې د مشرانو او هغه معلومات شامل دي چې په مستقیم ډول د ساحې له کتنې څخه او د پیښې له ځای څخه لاس ته راغلي اجناس/مدارک او شواهد او د هغوي فزیکي ازمایښت ، له روغتونونو او روغتیایي اسانتیاوو څخه کتنه ، ویډیوګانې او تصویرونه ، د ملګرو ملتونو د امنیت او مصوونیت د څانګې او د دې سازمان د نورو ادارو راپورونه ، د دویم لاس سرچینو بیانونه ، د خبري رسنیو راپورونه او له نا دولتي موسسو او دریم ګړي له خوا راټول شوي معلومات په کې شاملیږي.

ترهغه ځایه چې ممکن وي ، تحقیقات د قربانیانو یا د حادثې د عیني شاهدانو په مستقیم شهادت او د پیښې د ځای په پلټنو ولاړ وي. په ځینو وختونو کې ، د پېښې ځای ته د امنیتي ستونزو له امله لاس رسي محدود وي ، او دغه ډول تحقیقات ممکن نه وي ، په داسې وختونو کې یوناما یو لړ تخنیکونه کاروي چې دامکان تر بریده د پراخه معتبرو شبکو څخه معلومات تر لاسه کړي اوداعتبار اوباور له مخې یې کره کړي.

کله چې یوناما د یوې پیښې په اړه د معلوماتو د کره والي څخه ډاډمنه نه وي د هغې پېښې په اړه راپور نه ورکوي. په ځینو قضیو کې تحقیقات ښایي مخکې له هغه چې نتیجې ته ورسیږي ځواونۍ وخت ونیسي. دا پدې معنی ده چې د ملکي تلفاتو په اړه نتیجې ښایي چې بیا نوې شي ځکه چې نوي معلومات را رسیږي او په تحلیل کې ورځخه کار اخستل کیږي . په کوم ځاي کې چې معلومات ښه څرګند نه وی تر څو چې معتبراو قناعت بخښونکي شواهد لاس ته نه وي راغلي نو نتیجه ګیري نه کیږي او له دې څخه پرته قضیه تړل کیږي او احصایوي راپور کې د هغې خبر نه شاملیږي.

د ځینو پېښو په راپور کې د قربانیانو ملکي هویت (موقف) په بشپړ ډول نه شي ثابتیدلای او یا لانجه من ټکي وي ، په داسې قضیو کې یوناما د بشرپالنې د نړیوال قانون معیارونه په پام کې نیسي او داسې نه ګڼي چې د جنګ لپاره د عمر په لحاظ برابر نارینه جنګي یا ملکي کس دي. بلکه دا ډول ادعاګانې په پیښې پورې د اړوندو حقایقو پر بنیاد ارزول کیږي. که چېرې د یوه یا څو قربانیانو هویت څرګند نه وي ، د وژنې دغه ډول پیښې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په عمومي شمیر کې نه شاملیږي.

په وسله والو شخړوکې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د راپور ورکولو او تحلیل لپاره یوناما په ۲۰۰۹ کال کې یو بریښنایي ډیټابیس پرانیست. ډیټابیس داسې طرح شوي دي چې د معلوماتو سیستماتیکه ، یوشان او اغیزمنه ټولونه او تحلیل اسانه کوي ؛ چې د جنس ، عمر ، مرتکب ، تاکتیک ، او نورو اړخونو په لحاظ د معلوماتو ویشل او تحلیل هم په کې شامل دي.

یوناما تر ممکنه بریده هڅه کوي چې د ملکي مرګ ژوبلې پیښې کره او مسؤل لوري په مشخصه توګه په ګوته کړي. د عملیاتو په ډګر کې د ستونزو له امله لکه د ځینو نظامي عملیاتو ګډ ماهیت ، او د لومړنیو سرچینو ناتواني چې په ډیرو قضیو کې نه شي کولاي د بیلا بیلو نظامي برخه والو/ دولت ضد وسلوالو په منځ کې توپیر وکړي ، او کله چې هیڅ یوه خوا د یوې پیښې مسوولیت نه وي منلي ، یوناما د یوې خاصې پیښې مسوولیت یا خو دولت پلوه او یا دولت ضد عناصرو ته منسوبوي. یوناما ادعا نکوي چې په دغه راپور کې شمیرې بشپړې دي ؛ د کار په چاپیریال کې د محدویت په نظر کې نیولو سره کیداي شي یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې پوره راپور نه وي ورکړې.

## حقوقي چوکاټ

د دې راپور لپاره حقوقي چوکاټ کې نړیوال جزایي قانون ، د بشری حقونو نړیوال قانون ، نړیوال بشردوستانه قانون ، ملي قانون او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پریکړه لیکونه د منابع په ډول کارول شوي .[5] په دی ټولو منابعو

[5] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۰۹۶ ( ۲۰۱۳) پریکړه لیک د ټولو ښکېلو لورو مسؤلیتونه او مکلیفیتونه په ګوته کوي چې د نړیوال قانون " په شمول د نړیوال بشردوستانه قانون ، د بشری حقونو قانون سره په تطابق کې وی او ټول هغه مناسب اقدامات دی تر سره شي چې د ملکي خلکو خوندی ساتنه ډاډمنه کړای شي ."

کې د افغانستان په وسلواله جګړه کې د ملکي خلکو د خوندي ساتنې اړوند ټول مکلفیتونه شامل دی. دغه مکلفتیونه په دې راتلونکې برخه کې په وضاحت سره بیان شوي.

### په نښته کې د ښکېلو خواوو قانوني مسؤلیتونه

یوناما په دې باور ده چې په افغانستان کې وسله واله جګړه یوه غیرې نړیواله وسله واله جګړه ده چې د افغانستان د دولت ، او د هغه د وسله وال فوځ چې د نړیوالو نظامي ځواکونو ملاتړ ورسره دي (په دې راپور کې او په افغانستان کې "دولت پلوه" ځواکونه بلل شوي دي) او د غیر دولتي وسله والو ډلو (په دې راپور او په افغانستان کې "د دولت ضد عناصر بلل شوي " ترمنځ روانه ده.

### دولت پلوه ځواکونه

دولت پلوه ځواکونه هغو وسلوالو ځواکونو غړو ته ویل کیږي چې د ملي اردو ملاتړ کونکي ځواکونه دي ، په شمول د نړیوالو نظامي ځواکونو ( د ایساف او ځانګړي ځواکونو قطعات) افغانستان ، د ازادي د پایښت عملیاتو غړي ، او ځانګړو عملیاتو ځواکونه چې د دې چتر د باندې دي) او نور افغان امنیتي ځواکونو څخه عبارت دي.په جګړه کې د ښکېلو خواو پوځي ځواکونو ټول غړي ملکی وګړي نه دي ،لیکن طبي او مذهبي پرسونل یې جنګیالي نه ګڼل کیږي. افغان ملي امنیتي ځواکونه ، لکه افغان ملي پولیس ، ملي امنیت ، او سرحدي پولیس هغه مهال خپل ملکي هویت له لاسه ورکوي چې په وسلواله شخړه کې نیغ په نیغه برخه اخلي د دولت پلوه ځواکونو په کتار کې شمیرل کیږي.

د دولت پلوه ځواکونو په ډله کې کیداي شي هغه وسلوالي ډلې هم شاملی شي چې په وسلواله شخړه کې ښکیلې وي او په شخړه کې د ښکیلو خواو مهمه برخه تشکیل کړي او د جګړې د یو لوري د وسلوال ځواک څخه یوه برخه وګرځي ، د بیلګې په څیر که د یو دولتي مسؤل شخص د غیر رسمي قوماندې لاندې د امنیت او یا یاغیتوب پر ضد عملیات تر سره کوي ، لکه د امني قوماندان ، د ملي امنیت چارواکی ، او یا ولسوال.

### دولت ضد عناصر

دولت ضد عناصر ټول هغه افراد او وسلوالې ډلې له ځان سره رانغاړي چې اوس مهال په وسلواله جګړه یا وسلوال مخالفت کې د افغانستان د دولت یا نړیوالو ځواکونو سره ښکیل دي ، او هغه څوک هم په دې کتار کې شمیرل کیږي لکه طالبان او نور هغه افراد اونادولتي منظمې وسلوالې ډلې چې په جګړه کې فعاله ونډه اخلي او د مختلفو نومونو لاندې چې عبارت دي له ؛ حقاني شبکه ، حزب اسلامي ، د ازبکستان اسلامي تحریک ، اتحاد جهاد اسلامي ، لشکر طیبه او جیش محمد شامل دي.

د دولت ضد وسلوالو ډله بندي په وسلوالو جنایي ډلو د تطبیق وړ نه ده لیکن که دغه ډله په شخړه کې د ښکېل لوري د یوې مخالفې ډلې په استازیتوب جګړیزو فعالتیونوکې ښکیلې وي.[6]

په وسلواله شخړه کې ښکېلې خواوې ـ افغان امنیتي ځواکونه ، نړیوال پوځي ځواکونه او غیر دولتي وسلوالې ډلې د نړیوال قانون په رڼا کې د ملکي خلکود خوندي ساتنې ښکاره مکلفیت لري.

### (i) د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې مکلفیتونه

افغانستان د ژنیو د ۱۹۴۹ کال د څلورګونو ترونونو او د ۱۹۷۷[7] کال د ژنیو د مل دویم پروتوکول غړی هیواد دی ، دغه ترونونه او دوهم پروتوکول په غیر نړیواله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه کوي. دغه پروتوکول د ملکي وګړو په وړاندې او د هغو اجناسو په ضد بریدونه منع کوي چې د ملکي وګړو د بقاء لپاره ضروري ګڼل کیږي.

---

[6] د تعریفونو په اړه دغه برخه هغه حقوقي چوکاټ تعقیبوي کوم چې په لاندي منابعو کي راغلي دي: د جنګیالي تعریف ، ۴-۲ او ۴-۳ فصلونه ، د انګلستان د دفاع وزارت له خوا ترتیب شوي ، د وسله والو نښتو د حقوقو په اړه لارښود ، د اکسفورد د پوهنتون نشر ، اکسفورد ۲۰۰۴ ، او د سره صلیب نړیواله کمیته (آي سي آر سي)، د نړیوالي بشرپالني تعاملی حقونه ، ۳ مه قاعده. د وسله والو نښتو ټول ښکیل غړي ، د طبي او مذهبي کارکوونکو څخه پرته ، جنګیالي ګڼل کیږي.

[7] دویم الحاقي پروتوکول ۱۹۷۷ د افغانستان له خوا د ۲۰۰۹ کال د نومبر په ۱۰ تصویب شو ، دغه پروتوکول د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په ۲۴ نافد شو.

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د څلور ګونو تړونونو ګډه دریمه ماده حد اقل معیارونه ټاکي چې دولتي او غیر دولتي وسله والې ډلې یې باید په داخلي وسله واله نښته کې مراعات کړي. دریم عمومي بند د ملکي خلکو وژل[۸]،تاوتریخوالي ، د محکمې پرته اعدام ، شکنجه ، معبوبول او د تاوتریخوالی داسی نورې کړنې صراحتا منع کړي دی.[۹] دغه کړنې هر وخت ، هر ځای هر څنګه چې وي منع دي.
د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د څلورګونو تړونونو او د مل پروتوکولونو څو اصول د نړیوال دودیز قانون[۱۰] برخه ګرځیدلې ده او تر ټولو زیات اړونده اصول چې افغان نظامي ځواکونه ، نړیوال نظامي ځواکونه او غیر دولتي وسله والې ډلې یې د داخلي وسله والې نښتې د ښکیلو خواوو په څیر باید مراعات کړي ، دا دي:

· تشخیص او تمیز: ملکي وګړي په عمومي ډول او ملکي انفرادي اشخاص باید تر برید لاندې رانه شي.[۱۱] "[ښکیلې خواوې] باید په هر وخت کې د ملکي خلکو او جنګیالیو او د ملکي او نظامي هدفونو ترمنځ توپیر وکړي.

· تناسب: "هغه برید منع دي چې کیدای شي په تصادفي ډول د ملکي وګړو د وژنې ، ژوبلې ، د دې دواړو سبب وګرځي او ښایي د هغو مشخصو او مستقیمو نظامي بریاوو په پرتله ډیرې زیاتې وي چې له برید څخه یې تمه کیږي."[۱۲]

· په برید کې احتیاط: "ملکي وګړي باید په عمومي ډول د نښتې له خطرونو څخه په امن کې وساتل شي."[۱۳] په نظامي عملیاتو کې په پرلپسې ډول باید دې ته پاملرنه وشي چې ملکي خلک تلف نه شي او ملکي شیانوته زیان ونه رسیږي. او په پوره ډول ممکن احتیاط وشي چې " د ملکي وګړو د تصادفي تلف کیدلو ، ملکي شیانو ته د زیان رسیدلو او د ملکي وګړو د ژوبل کیدلو څخه مخنیوی وشي."[۱٤]

ټول هیوادونه چې اوس مهال په افغانستان کې له نړیوالو نظامي ځواکونو سره مرسته کوي ، لکه په افغانستان کې نړیوال سوله ساتي ځواکونه (ایساف) د امریکا ځانګړې قواوې ، د ازادۍ د پایښت د عملیاتو غړي ځواکونه یا هغه ځانګړي ځواکونه چې د قوماندې د دغو جوړښتونو له حدودو څخه بهر فعالیت کوي د ژنیو د ۱۹۴۹ کال د څلورګونو تړونونو غړي هیوادونه دي. که څه هم ټول هغه هیوادونه چې افغانستان ته یې نظامي ځواکونه استولي دي د ۱۹۷۷ کال مل لومړي اودوهم پروتوکولونو غړي ندی ، خو د دې سره سره د هغو اصولو په مراعت کولو مکلف دي چې د نړیوال دودیزه قانون برخه ده.

### (ii) د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې مکلفیتونه

د بشري حقونو نړیوال قانون هم د وسله والې نښتې او هم د سولې په وخت کې د تطبیق وړ ګڼل کیږي. د بشري حقونو نړیوال قانون د بشر پالنې د نړیوال قانون سره متممي او یو د بل پیاوړي کوونکي په توګه د تطبیق وړ دي.

---

[۸] د وژلو په اړه د جنګي جرایمو چې د روم منشور کې د جرمونو نړیوالې محکمي تعرف کړی بوناما د ملکي خلکو د قصدی وژنې اصطلاح کاروی چې عبارت له هدفي وژنو ، چې هغه عمل بانوی چې جنګي جرم ګڼل کدای شي او دهغه وژنې د عمل څخه توپیر وکړای شي چې د بو کس په لاس تر سره شی چې د وسلواله جګړی د قرنني د باندې وي. ورته اصطلاح ګانې لکه هدفي وژنې ، د محکمې پرته وژنې ، اختطاف او وژنې ، قصدی وژنې ځنې وختونه کارول کیږي چې هغه په جنګ کې د ښکیلو خواو له لوری د ملکي خلکو هغه قصدی وژنې بیان کړي چې د افغانستان په داخلي وسلواله شخړي په قرنه کې راپیښیږی .
[۹] د ۱۹۴۹ د اګست ۱۲ د جنوا کنوانسون دریم مشترک بند ، د داخلي وسلواله شخړی پرمهال د پلی کدو وړ دی. هغه مهال چې شخړه نړیواله شخړی اوصاف ونه لري او د غړي هیواد په سمه کې رامنځ ته شي ، نود جګړی د ښکیلې خواو هر لورې دی کم تر کم لاندی مادو احترام باندی مکلف دی: (۱) هغه کس چې په جګړه کې فعاله برخه نه اخلي په شمول د هغه وسلواله ځواکونو چې خپله وسله کیږدي او یا نور د ناروغي ، ټپونو ، توقف ، یا نورو لاملونو له کبله نه جنګیږي خو په ټولو حالاتو کې ورسره د تبعض پرته چې د نسل ، رنګ ، مذهب ، عقدی ، جنس ، زیږبدنې او جانداد او یا بل کوم معیار وي انساني چلند کیږي. په دی اړه دلاندی کړنې هر وخت ، هر ځای هرنګ چې وی د پورتنې ذکر شوی وګړو پر ضد منع دی . (a) د شخص او د هغه د ژوند حق څخه سرغړونه او په ځانګړی ډول د وژلو ټول ډولونه ، د شلشوټ کولو ، بی رحمانه سلوک او شکنجه (b) د شخص په وقار حرمت تجاوزپه ځانګړی ډول تحقر او ټیټ ګڼلو سلوک (c) برغمل کول (d) د سزاګانو صدور او یا د اعدامونو سزاګانو پلی کول د بو قانوني محکمی د مخکنی پریکړي پرته چې ټول عدلي تضمنونه له ځان سره ولری او په عمومي ډول هغه تضمن جزلاننفک او منل شوي وي.
[۱۰] ړ دغه مرجع ته مراجعه وکړئ: د سره صلیب نړیواله کمیټه (آي سي آر سي)، د نړیوالي بشرپالني عرفي حقونه ، لیکوال: جان ماري هینکارتز تو لویس دوسوالد بک (CU P/ICRC, Cambridge 2005) د اي سي آر سي څیړني.مطالعه کمیته.
[۱۱] دویم الحاقي پروتوکول. ۱۳(۲) ماده.
[۱۲] دغه مرجع ته مراجعه وکړئ: د سره صلیب نړیواله کمیټه (آي سي آر سي)، د نړیوالي بشرپالني عرفي حقونه ، لیکوال: جان ماري هینکارتز تو لویس دوسوالد بک (CU P/ICRC, Cambridge 2005) د اي سي آر سي څیړني.مطالعه کمیته..
[۱۳] دویم الحاقي پروتوکول. ۱۳ (۱) ماده.
[۱٤] د نړیوال سره صلیب د نړیوال بشر دوستانه عرفی قانون په اړه د مطالعی د ۱۵ څخه تر ۲۱ پوری قواعد .

افغانستان د بشري حقونو څو نړيوال تړونونه لاسليک کړي دي[۱۵] چې په هغو کې د مدني او سياسي حقونو نړيوال تړون (آی سي سي پي آر) شامل دي او د افغانستان دولت په دې مکلف کوي چې په خپل قلمرو يا د دولت د حاکميت په سيمه کې د ټولو اوسيدونکو د بنسټيزو بشري حقونو ساتنه وکړي

سره له دې چې په افغانستان کې نا دولتي ډلې ، د وسله والو ډلو په ګډون ، نه شي کولای په رسمي ډول د بشري حقونو دنړيوالو تړونونو غړي شي ؛ خو کوم ځای چې نادولتي ډلې ، لکه طالبان عملاً سيمه په ولکه کې لري ، نو طالبان په دې اړه ډير مکلف ګڼل کيږي ،چې د نړيوال بشري حقونو مکلفيتونه مراعات کړي.[۱٦]

د بشري حقونو د نړيوال قانون له مخې چې د جګړې پر وخت د پلی کيدو وړ دي ، دولتونه دنده او مکلفيت لري چې د خپل ځواکونو لخوا[۱۷] په ځانګړې ډول د هغه ځواکونو چې قانون پلي کونکي وي د وژونکې يا مهلکې قوې د کارولو په اړه پلټنه وکړي. دولت دغه مکليفيت د بالقوه مسؤليت ياني ځواب ويلو مسؤليت سره يو ځای چې په پلی کولو کې پاتې راغلي ، د ژو ند حق څخه سر چينه اخلي.[۱۸] د حکومت لخوا پلټنه بايد سم لاسي ، هر اړخيزه ، بی پري او او خپلواکه وي چې د اغيزمن پلټلو غوښتنو ته ځواب وويلی شي او په ازاد ډول عام خلک تنقيد وکړای شي .[۱۹] [۲۰] حکومت مکلفيت لري چې د تطبيق وړ قوانينو په رڼا کې ټولې پيښی په شمول د هغه پيښو چې د وسلوالې جګړې له امله رامنځ ته شوې وي ، وڅيړي. دا شونې ده چې عسکر د جګړې پر وخت د قانون پلی کيدو فعاليتونه هم تر سره کړي.[۲۱]

### (iii) د نړيوال جنايې قانون په وړاندې مکلفيتونه

افغانستان په ۲۰۰۳ کال کې د روم نړيوالې جنايي محکمې اساسنامه تصويب او له هغې سره يو ځاي شو. له دې امله افغانستان لومړني مسووليت لري چې د نړيوالو جرمونو په اړه تحقيق وکړي ؛ لکه جنګي جرمونه ، د بشريت ضد جرمونه او

۱۵ افغانستان د بشري حقونو د بين المللي لاندنيو تړونونو او معاهدو يو غړي هيواد دي: د مدني او سياسي حقونو نړيوال تړون په ۲۴ اپريل ۱۹۸۳ ؛ د اقتصادي اجتماعي او کلتوري حقونو تړون ۲۴ اپريل ۱۹۸۳ ؛ د نژادي تبعيض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو بين امللي تړون ، ۵ اګست ۱۹۸۳ ؛ د ښځو په وړاندې د تبعيض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو تړون ، ۵ مارچ ۱۹۸۳ ؛ د شکنجې او نورو توهينوونکو او غير انساني جزا او چلند د منع کولو تړون ، ۲۶ جون ۱۹۸۷ ؛ د ماشوم د حقونو تړون ، ۲۷ اپريل ، ۱۹۹۴ ؛ او دماشومانو د حقونو ، دماشومانو د پلورلو ، د ماشومانو د فحاشی او د پورنوګرافی د منع د کنوانسيونو اختياري پروتوکول ، ۱۹ اکتوبر کال ۲۰۰۲ ؛ او په وسله واله جګړه کې د ماشوم ګډون په باب د تړون اختياري پروتوکول چې د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر په ۲۴ تصويب شوي دي. منبع :
http://www.aihrc.org.af/English/Eng_pages/X_pages/conventions_af_z_party.html

١٦ د ملګرو ملتونو عمومي سر منشي ، په سريلانکا کې د حساب ورکونې په اړه د عمومي منشي د کارپوهانو د پلاوي راپور ۲۰۱۱ ، ۳۱ مارچ پاراګراف ۱۸۸. دغه راز وګورئ د ليبيا په عربي جمهوريت کې د بشرپالنې د بين المللي قانون د نقض په اړه د څيړنو د بين المللي کميسيون د تحقيقاتو راپور A/HRC/17/44 ۱ جون ۲۰۱۱.

[۱۷] د ملګرو ملتونو د لاندينی اصولو نهم ، لسم او اوه لسم شميری پاراګرافونو ته مراجعه وکړئ:
See Paragraphs 9, 10 and 17 of the *United Nations Principles on the Effective Prevention and Investigation of Extra-Legal, Arbitrary and Summary Executions*, adopted on 24 May 1989 by the Economic and Social Council Resolution 1989/65,

[۱۸] د ملګرو ملتونو د بشری حقونو د کميټی لاندينی عمومی کتنو ته مراجعه کړئ:
UNHRC, General Comment No. 31 (2004), § 15; UNHRC, General Comment No. 6 (1982), § 4; ECtHR, *McCann case*, § 169; ECtHR, *Kaya case*, § 86; ECtHR, *Ergi v. Turkey*, Application No. 23818/94, Judgment of 28 July 1998, §§ 82, 86; ECtHR, *Isayeva v. Russia*, Application No. 57950/00, Judgment of 24 February 2005, §§ 208-9, 224-5; IACiHR, *Abella (La Tablada) case*, § 244; IACiHR, *Alejandre case*, § 47; ACiHPR, *Civil Liberties case*, § 22.

[۱۹] لاندينی مرجع وګورئ:
IACiHR, *Abella (La Tablada) case*, § 412; ECtHR, *Özkan case*, § 184; ECtHR, *Orhan v. Turkey*, Application No. 25656/94, Judgment of 18 June 2002, § 335; ECtHR, *Isayeva et al. case*, § 210-11; ECtHR, *McCann case.*

۲۰ لاندينی مرجع وګورئ:
ECtHR, Hugh Jordan v. the United Kingdom, Application No. 24746/94, Judgment of 4 May 2001, § 109; ECtHR, Özkan case, § 187; ECtHR, Isayeva et al. case § 213; ECtHR, Isayeva case, § 214.

[۲۱] لاندينی مرجع وګورئ: سي. ډروک وګورئ " د قانون پلي کونکي او د جګړې د تر منځ توپير "
C. Droege, "Distinguishing Law Enforcement from Conduct of Hostilities" P57-63 Expert Meeting "Incapacitating Chemical Agents" Law Enforcement, Human Rights Law and Policy Perspectives Montreux, Switzerland 24 To 26 April 2012 Available at http://www.icrc.org/eng/assets/files/publications/icrc-002-4121.pdf; Nils Melzer, "Conceptual Distinction and Overlaps between Law Enforcement and the Conduct of Hostilities," in *The Handbook of the International Law of Military Operations* (Oxford: Oxford University Press, 2010), pp. 43-44.Nils Milzer, *Human Rights Implications Of The Usage Of Drones And Unmanned Robots In Warfare*, Directorate-General For External Policies Of The Union, Policy Department (2013) Available at
http://www.europarl.europa.eu/delegations/en/studiesdownload.html?languageDocument=EN&file=92953

نسل وژنه ، او د خپلو محاکمو په صلاحیت کې هغه تر عدلي تعقیب لاندي ونیسي. که افغانستان ونشی کولای او یا و نه غواړي چې دغه کار وکړي ، نړیواله جنايي محکمه کولای شي په افغانستان کې خپل صلاحیتونه عملي کړي.

هغه دولتونه چې نظامي ځواکونه یې په افغانستان کې د نړیوالو نظامي ځواکونو په لیکه کې شامل دي او د افغانستان د شخړې یو لوری دی ، مسوولیت لري چې هغه نړیوال جرمونه تحقیق او تعقیب کړي چې د دوي اتباع په افغانستان کې ددغو جرمونو په ارتکاب تورن وي.[٢٢]

په ځانګړي توګه دولتونه مکلف دي چې د نړیوالې جنايي محکمې د اساسنامې ۸ (۲) (اي) (آی) مادې څخه سرغړونه تر عدلي تعقیب لاندي ونیسي. دغه ماده وایي "په قصدي ډول په عام ولس یا انفرادي اشخاصو باندې چې په مستقیم ډول په شخړو کې ښکیل نه وي مخامخ برید کول" په داخلي وسله والو شخړو کې جنګي جرم ګڼل کیږي.

*د امنیت شورا ۱۳۲۵ پریکړه لیک*

څرنګه چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په ۱۳۲۵ پریکړه لیک کې ویلي ،چې د ټولو هیوادونو لپاره خورا مهمه ده چې د ښځو او نجونو په اړه د نړیوال بشردوستانه او د بشر حقونو اړوند ټول نورمونه پلي کړي او د وسلواله شخړې په مهال د جنس په بنیاد د تاو تریخوالي د مخنیوي په موخه د ښځو او نجونو د خوندي ساتنې لپاره ځانګړي اړین ګامونه واخلي.[٢٣]

### (iii) د ملي قوانینو په وړاندې مکلفیتونه

د دولت ضد عناصر د افغانستان د جنايي قوانینو له مخې د عدلي تعقیب وړ دي.د نړیوالو پوځي ځواکونو غړي د دوي د خپلو دولتونو د ملي قوانینو د نقض له امله پر حساب ورکولو مسؤول دي.

### د ملکیانو تعریف

یوناما د ملکي وګړو لپاره یو تعریف کاروي او تطبیقوي چې د نړیوال قانون سره سمون خوري. په افغانستان کې د وسله والې شخړې نورې خواوې او فعالان د ملکي وګړو لپاره خپل خپل تعریفونه جوړوي چې په لاندي برخه کې به توضیح شي.[٢٤]

یوناما د ملکي وګړو لپاره هغه تعریف کاروي چې د بشرپالنې د نړیوال قانون په معیارونو برابر دي. د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکي" هغه څوک دي چې د نظامي/ نیمه نظامي ځواکونو او یا هم د منظمو وسله والو ډلو غړي نه وي چې په شخړه کې د یو لوري برخه وي . یو ملکي وګړی هغه وخت او دهغې مودې په ترڅ کې خپل موقف له لاسه ورکوي چې په وسلواله شخړه کې په مستقیم ډول برخه واخلي.

د بشرپالنې نړیوال قانون په شخړه کې له ښکیلو خواوو څخه غوښتنه کوي چې د نظامي عملیاتو په ترڅ کې تل د ملکي وګړو او جګړه مارو ترمنځ توپیر وکړي. هغه وګړي چې په شخړه کې برخه نه اخلي یا له دې وروسته په شخړه کې برخه نه اخلي خوندي دي او باید برید ور باندې ونشي. نظامي یا نیمه نظامي غړي هغه وخت د ملکي وګړو حیثیت لري کله چې (ژوبل شوي ، ناروغه ، ویجاړه شوي کښتۍ عمله ، توقیف شوي یا تسلیم شوي وي) یا هغه وګړي چې د وسله والو ځواکونو د روغتیایي یا مذهبي پرسونل برخه وي ، د بشرپالنې د نړیوال قانون لاندې له بریدونو څخه خوندي دي.

د افغانستان په وسلواله شخړه کې دغه راپور د خلکو د بیلا بیلو کټګوریو په وړاندې بریدونه مستندوي چې په جګړو کې په مستقیم ډول برخه نه اخلي لکه د عامه خدمتونو کارکونکي ، ښوونکي ، د روغتیایي کلنیکونو کارکونکي او په عامه خدمتونو کې شامل وګړي ، سیاسي مشران او دفتری کارکوونکي ، د نا دولتي موسسو کارمندان او د ملکي پولیسو پرسونل چې د جنګیالو په څیر وظیفي نه تر سره کوي او د دولت ضد عناصرو پر خلاف عملیاتو کې برخه نه اخلي.

---

[٢٢] پرته له دې نظر نیولو کې چې دولتونه د نړیوالې جنايې محکمې غړي دي او که ندي ، دوي بیا هم مکلفیت لري چې د بشري حقونو او دبشر پالنې نړیوال قانون څخه د سختو سرغړونو تحقیق وکړي هغه مهال چې د افغانستان په سمه کې عملات تر سره کوي چې د ای سي سي غړی دی او دا رنګه د نړیوال جنایی قانون لاندی مکلفت لري .

[٢٣] دغه مراجعو ته مراجعه وکړئ: ;S/RES/1325 (2000) او همدارنګه S/RES/1820. (2008), S/RES/1888 (2009), S/RES/1889 (2009), and S/RES/1960 (2010)

[٢٤] په دی راپور کې وروسته د طالبانو لخوا د " ملکیانو" کارول شوی تعریف وګورئ .

## لنډيز

*سهار مهال  نږدې لس بجې وې چې  زه په کور کې وم.  ناڅاپي د ټوپک ډزې شوې او بيا لويه چاودنه وشوه. زموږ ټول کور ولړزيد اود خاورپه دوړو کې پټ شو. ښځو او ماشومانو چيغې وهلې ..... د دې لړ وروسته بله چاودنه وشوه چې څان وژونکي بريدګر په څان پسې تړلي چاوديدونکي مواد وچول. د باندې ما ته  زما  تره او تره زامنو د مرستې لپاره چيغې وهلې خو زه ورسيدلی نشوم. وروسته مې د کور په انګړ کې د يو مړ ماشوم جسد وموند. کله چې په پوړيو پورته وختلم نو د کور په چت مې د ماشومانو د بدن غړي وموندل . د ګاونډي په کور کې مې پنځه ماشومان وژل شوي وو.*

-- د ننګرهار ولايت په جلال اباد ښار کې د اګست په دريمه نېټه  د هند په قونسلګرۍ د ډله يز بريد په اړه  د  يو کس د سترګو ليدلی حال ، په دې بريد کې لس ملکي خلک وژل شوي او ۲۳ نور ټپيان شوي وو ، چې ډيری يې هغه ماشومان وو چې په محلي  مسجد کې د مدرسې نه راستانه شوي وو.[۲۵]

د افغانستان وسلوالې جګړې په ۲۰۱۳ کال کې ملکي خلکوته  نه جبرانيدونکي تلافات اړولي دي. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی ( يوناما ) په ۲۰۱۳ کال کې ۸،۶۱۶ ملکي تلفات ( ۲،۹۵۹ وژل شوي او۵،۶۵۶ ټپيان) ثبت کړي ، چې  په وژل شويو کې اوه سلنه او ټپيانو کې ۱۷ سلنه ډيروالی راغلی  او په  ټوليز توګه  دا د ۲۰۱۲ کال د تلفاتو  پرتله ۱۴ سلنه ډيروالی ښيي.[۲۶]

د ۲۰۱۳ کال په مهال د ملکي خلکومرګ ژوبله کې ډير والی د ۲۰۱۲ کال ملکي تلفاتو د کموالي په  خلاف په شاتګ دی ، خو د ۲۰۱۱ کال د تلفاتو کې ډيروالي سره ورتوالې لري.[۲۷]  د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ د لومړۍ نېټې راپديخوا په افغانستان کې وسلواله جګړی د ۱۴،۰۶۴ ملکي افغانانو ژوند اخستی دی.

يوناما د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې  ۷۴ سلنه حکومت ضد وسلوالو ته ، ۱۱ سلنه يې دولت پلوه ځواکونو ته او لس سلنه تلفات بيا د دولت ضد وسله والو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ نښتو ته منسوب کړي دي. پاتې پنځه سلنه ملکي تلفات هيڅ يو لوري ته ندی منسوب شوي او ډيری دغه  تلفات د جګړی د چاوديدونکو پاتې شونو توکو په پايله کې رامنځ ته شوي دي.[۲۸]

د يوناما  د ۲۰۱۳ کال په شپږ مياشتني راپور کې ياد شوي تمايلاتو اوبدلونو په منعکس کولو سره چې له دې جملې د دولت ضد وسله والو لخوا ځای پر ځای شوي چاويدونکي توکي ، د ملکي خلکو د ګڼې ګونې په سيمه کې ډله ييز بريدونه ،[۲۹]  د دولت ضد وسله والو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ ډير ځمکنۍ نښتې  چې ملکي خلک د دواړو خواو ترمنځ ډزو کې نښتي وو ، په ۲۰۱۳ کال کې د ډير  ملکي تلفاتو عمده لاملونه وو.  د ښکېلو لورو ترمنځ ځمکنۍ نښتو په ۲۰۱۳ کال کې  ۲۷ سلنه ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې ده.

ښځو او ماشومانو  په ۲۰۱۳ کال کې مخ په ډيريدونکي ډول  زيان ګاللی چې د جګړی له امله ۲۳۵ ښځې وژل شوې او ۵۱۱ نورې (۷۴۶ د ښځو تلفات ) ټپيانې شوې او د ۲۰۱۲ کال  په نسبت ۳۶ سلنه ډيروالی ښيي.  پنځه سوه يو شپېته (۵۶۱) ماشومان وژل شوي ۱،۱۹۵ نور ټپيان شوي ( ۱،۷۵۶ ټول ماشومانو تلفات) چې د  ۲۰۱۲  کال پر تله پکې ۳۴ سلنه زياتوالې راغلی دی.  په ۲۰۱۳ کال  يو نوی رجحان دا وو چې ډيرې ښځې او ماشومان ځمکنۍ نښتو کې وژل شوې او د ښځو او ماشومانوتلفات د ټولو تلفا تو ۳۹ سلنه تشکيلوي  او ځمکنۍ نښتې د دې تلفاتو يو مخکښ لامل ګڼل کيږي.

---

[۲۵] په جلال اباد ښار کې د ۲۰۱۳ کال د اګست په څلورمه د ډله ييز بريد د شپږ قربانيانو خپلوان او د پېښې عيني شاهد سره د يوناما مرکه.

[۲۶] يوناماما په ۲۰۱۲ کال کې ټول ۷،۵۸۹ ملکي تلفات ( ۲،۷۶۸ يې وژل شوي او ۴،۸۲۱ ټپيان شوي ) ثبت کړي. لاندی لنک وګورئ :
http://unama.unmissions.org/LinkClick.aspx?fileticket=K0B5RL2XYcU%3D

[۲۷] يوناما په ۲۰۱۱ کې ۷،۸۳۹ ملکي تلفات ( ۳،۱۳۳ وژل شوي او ۴،۷۰۵ټپيان ) ثبت کړي. په دی اړه وګورئ د يوناما د ۲۰۱۱ کال د ملکي خلکو د خوندي ساتنې کلنی راپور وګورئ:
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf
همداراز د يوناما د ۲۰۱۲ کال د شپږ مياشتني راپور ۹۶ فوټ نوټ هم وګورئ.


[۲۸] . د جګړې نا چاوده پاتې شونې عبارت دي له ناچاوده توکو او يا هم پريخودل شوی چاوديدونکو توکو څخه.


[۲۹] د شميرې او  اړونده تحليل لوستو له پاره د «ځای پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي او مځکنۍ نښتو» برخې په دې راپور کې وګورئ.

که څه هم په ۲۰۱۳ کال کې ځمکنۍ نښتو ډیرې ښځې او ماشومان ټپیان کړل ، خو ترټولو ډیرې ښځې او ماشومان د ځای پرځای شوي چاودیدونکو توکو ووژل.

یوناما د ۲۰۱۴ کال په پیل کې د جګړې د ښکېلو خواو فوري پاملرنې غوښتنه تکراروي او په ځانګړې ډول دولت ضد وسلوالو څخه غواړي چې پرملکي افغانانود جګړې ناوړه اغیزې ودروي. د دولت ضد عناصرو لخوا مخ پر ډیریدونکي ډول د توپیر پرته او غیر قانوني تعبیه شوي چاودیدونکو توکو استعمال په زرګونو هغه افغانان وژلي او یا هم ټپي کړي چې د ورځني ژوند لپاره وتلي وو. د ملکي خلکو هدفي وژنو او د مخالف وسله والو او د دولت پلوه ځواکونو ترمنځ ځمکنۍ نښتو ډیری ملکي خلک په خپلو کورنو او ټولنو کې د مرګ او ژوبلې د ګواښ سره مخ کړي.

یوناما یو ځل بیا په شخړه کې ښکېلو خواو باندې غږ کوي چې د نړیوال بشردوستانه قانون سره سم خپل مکلفیتونه پرځای کړي او ټول هغه تدابیر ونیسي چې ملکي خلک د جګړې د زیانونو څخه وژغوري.



**د د ولت ضد عناصر او د ملکي وګړو خوند يتوب**

په ۲۰۱۳ کال کې د ټول ملکي تلفاتو ۷۴ سلنې لامل د دولت ضد عناصرو عمليات وو چې په ارادي ډول يې په ټول هيواد کې ملکيان هدف ګرځولي او انساني ژوند ته د پاملرني پرته يې بريدونه کړي. يوناما د ۶،۳۷۴ ملکي تلفات ( ۲،۳۱۱ ملکيان وژل شوي او ۴،۰۶۳ ټپي شوي) د دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي ، چې دا د ۲۰۱۲ کال پرتله ۴ سلنه ډير والی ښيي.[٣٠]

د دولت ضد وسله والود توپير پرته او غير قانوني تعبيه شوي چاوديدونکو توکو استعمال په ۲۰۱۳ کال کې د ملکي خلکو د مرک ژوبلې مخکښ لامل و ،چې د ټول ملکي تلفاتو ۳۴ سلنه همدې ته منسوب شوې ده. يوناما د ځای پرځای شوي چاوديدونکو توکو[٣١] له امله د ۹۶۲ ملکي وګړو مړينه او ۱،۹۲۸ کسانو ټپی کيدنه مستند کړې چې د ۲۰۱۲ کال په نسبت ۱۴ سلنه لوړوالی ښيي.[٣٢] د ۲۰۰۹ کال راهيسې افغانستان کې تعبيه شوی چاوديدونکي توکو په ۳،۷۱۶ بيلا بيلو پېښوکې ۱۲،۵۰۴ ملکی وګړي ( ۴،۵۱۵ وژل شوي ۷،۹۸۹ ټپيان) وژلي يا ټپي کړی.

يوناما د ليری څخه کنترول کيدونکو چاوديدونکو توکو په پايله کې د ملکي تلفاتو ډيروالي په اړه اند يښنه په ډاګه کوي او د دې ۳۵۶ جلا پېښي يې ثبت کړي دي.[٣٣] دې وسيلو ۲۵۷ملکي وګړي وژلي او ۸۹۲ نور يې ټپيان کړي (۱،۱۴۹ ملکي تلفات ) چې د ۲۰۱۲ کال په نسبت ۸۴ سلنه ډيروالې په ګوته کوي.[٣٤]

د فشاري يا قرباني سره د تماس له امله فعاليدونکي چاوديدونکو توکو له امله ملکي تلفات د ۲۰۱۲ کال پر تله ۳۹ سلنه کم شوي ،چې د ۲۴۵ ملکي کسانو مړينې او ۳۱۲ ژوبل کيدو (ټول ۵۵۷ ملکي تلفات ) لامل ګرځيدلی.[٣٥] ملکي تلفاتو کې کموالي ښه راغلاست دی ، خو په ۲۰۱۳ کال کې دفشاري چاوديدونکو توکو د بريدونو له امله انساني قيمت پرځای لوړ پاتې دی. د فشار سره چاوديدونکي توکي په عامه ځايونو کې کارول شوي چيرته چې ملکي وګړو شتون درلود لکه سړک ، مارکيټ ، دولتي دفترونه ، بازارونه ، ښوونځيو منځ يا نږدې او د بسونو تم ځايونو کې چول شوی دي. يوناما يو ځل بيا خپله غوښتنه تکراروي چې فشاري يا قرباني د تماس سره فعاليدونکې وسيلې بې توپيره او غير قانوني دي او دولت ضد وسلوالو باندې غږ کوي چې د دې کارول ودروي.

ځانمرګو او ډله ييزو بريدونو د ۲۰۱۳ کال کې په ۷۳ پېښو کې ۱،۲۳۶ ملکي وګړو ته تلفات ( ۲۵۵مړه او ۹۸۱ ژوبل شوي) اړولي دي. سره له دې چې د پېښو تعداد ۲۰۱۲ کال ته ورته دی ، خو د دې بريدونو له امله د تير پر تله په ملکي تلفاتو کې ۱۸ سلنه ټيټوالی راغلی دی . په هر حال ځانمرګي او ډله ييز بريدونه په ۲۰۱۳ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۵ سلنه جوړوي.[٣٦]

يوناما د ۶۰۵ هدفي وژنو پېښو په پايله کې د ۷۴۳ ملکي کسانو مړينه او ۳۳۳ ژوبله ( ۱،۰۷۶ ملکي تلفات ) ثبت کړی.[٣٧] د ۲۰۱۲ کال په څير د دولت ضد وسلوالو هغه ملکي خلک هدف ګرځولي او وژلی دی چې دوي ورباندې د افغانستان حکومت سره د ملاتړ ګمان کړی ، په دوي کې دولتي چارواکي ، قومي او مذهبي مشران ، د عدليي چارواکي ، قبايلي مشران ، د ټاکنو کار کونکي ، رخصت پوليس او د سولې پروسې اشخاص شامل دي.

---

[٣٠] يوناما په ۲۰۱۱ کال کې د ۵۶۳۶ ملکي تلفات ( ۲،۲۰۸ ملکيانو مړينه او ۳۴۲۸ ټپي شوي کسان ) ثبت کړي. د يوناما د ۲۰۱۱ کال د ملکي خلکو د خوندی ساتنې کلنی راپور وګورئ :
.http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf

[٣١] په دی شميرو کې د ځان مرګو او ډله ييزو بريدونو ( په دی کې هم چاوديدونکي توکي تاکتيک کارول کيږي) په نتيجه کې ملکي تلفات شامل ندي.

[٣٢] يوناما په ۲۰۱۲ کال کې ۸۶۸ ملکي کسانو مړينه او ۱،۶۶۳ ټپيان ( ۲،۵۳۱ ملکي تلفات ) ثبت کړي دي.

[٣٣] د ليری څخه کنتروليدونکي او فشاري چاوديدونکوتوکو اړوند تلفات د تعبيه شوي چاوديدونکو توکو په شميرو کې ګډ شمارل شوي.

[٣٤] يوناما يواځې هغه پيښی ثبتوي چې ملکي تلفات ولري.

[٣٥] يوناما په ۲۰۱۲ کال کې ۳۹۳د ملکي کسانو مړينه او ۵۲۰ کسانو ژوبله (۹۱۳ملکي تلفات) د فشاري چاوديدونکو توکو په نتيجه کې ثبت کړې.

[٣٦] يوناما د ۳۲۸ ملکي کسانو مړينه او ۱،۱۸۲ کسانو ژوبله ( ۱۵۱۰ ملکي تلفات) په ۷۲ ځانمرګو او ډله ييزو بريدونو پېښو کې په ۲۰۱۲ کال کې مستند کړې ده.

[٣٧] د هدفي وژنو لپاره ددی راپور حقوقي برخه وګورئ . هدفي وژنې کيدای شي د ډيرو ملکي خلکو په يوځل د مرګ ژوبلی سبب شی بيا په ځانګړی ډول هغه وخت چې تعبيه شوی چاوديدونکو توکو په څير بی توپيره تاکتيک وکارول شي. يوناما هغه ټول تلفات ثبتوي چې نيغ په نيغه د هدفي وژنو پېښو په پايله کې رامنځ ته کيږي چې په دې کې د متوازي عدلي جوړښتونه هم شامليږي چې هغه مهال يو کس د وژنو په وخت د وژونکي په فزيکي ولکه کې وي.

د دولت ضد وسلوالو لخوا ديني عالمانو ته ګواښ او پر هغوي بريدونه له دې امله چې دوي د دولت ملاتړ کوي ، په ۲۰۱۳ کال کې په مسجدونو او عالمانو دا ډول بريدونه درې چنده ډېر شوي دي.[۳۸]

يوناما په ۲۰۱۳ کال کې د دولت ضد وسلوالو لخوا د ټاکنو په کار کونکو او ځاينو ۲۵ بريدونه ثبت کړي چې په پايله کې څلور تنه مړه او ۱۲ نور ټپيان شوي ( ۱۶ ملکي تلفات ).[۳۹]

طالبانو په ۲۰۱۳ کال کې د ۱۵۳ هغه بريدونو مسؤليت په غاړه اخستی چې ملکي وګړي يې اغيزمن کړي ،[٤٠] اود ۲۰۱۲ کال پرتله د مسؤليت ادعاګانو کې يې ۲۹۲ سلنه ډيروالی راغلی دی.[٤١] د يوناما موندنې ښيی چې په دې بريدونو کې ۹۴۴ ملکي تلفات ( ۳۰۲ مړه او ۶۴۲ ژوبل شوي ) رامنځ ته شوي ، چې دا د ۲۰۱۲ کال په نسبت د ادعا شويو تلفاتو کې ۱۳۶ سلنه ډيروالی په ګوته کوي.[٤٢] په ۲۰۱۳ کال کې داسې ډيری بريدونو کې د توپير پرته تاکتيکونه کارول شوي لکه په عامه ځايونه کې د تعبيه شوې وسيلو چول يا نيغ په نيغه ملکي خلک او يا هم ملکي شيان يې هدف ګرځولي ،او په ځانګړې ډول د دولت ملکي مامورين او دولتي ځايونو باندی بريد شوی دی.

يوناما په دی تاکيد کوي چې په ملکي خلکو باندې د توپير پرته بريدونه او هغوی په قصدي ډول هدف ګرځول د نړيوال بشردوستانه قانون له مخې په جدی ډول ممنوع دي ، او د افغانستان په شخړه کې ښکېلی خواوې د طالبانو په شمول بې په اطاعت مکلف دي . په ملکي خلکو بريد ، د علماو ، د ټاکنو کارکونکو ، قبايلي مشرانو او نورو هغه خلکو وژل چې په جګړه کې مستقيم برخه نه اخلي ممکن جنګي جنايت وګڼل شي.[٤٣]

يوناما د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې د طالبانو لخوا مخ په زياتيدونکي ملکي تلفاتو او جګړې کې د ښکېلو خواو (طالبانو او دولت پلوه ځواکونو) د سلوک په اړه عام پيغامونو خپريدل مشاهده کړي. طالبانو د ملکي تلفاتو د پېښو تفصيلي هغه مياشتني لستونه خپاره کړل چې تلفات يې پکې دولت پلوه ځواکونوته منسوب کړي دي.[٤٤] د ۲۷۷ ثبت شويو پېښو څخه يوناما ۹۱ پېښې د دې تر مخه ثبت کړې وې ، ۸۳ پېښې وپلټل شوې او د ۱۰۳ هغه پېښو تصديق يې ونه کړای شو ، چې په هغو کې دې د وسلوالې شخړې په ترځ کې ملکي تلفات رامنځ ته شوي وو.

د جون په ۱۷مه نېټه طالبانو د ملکي تلفاتو دمخنيوي په موخه د نظامي کميسون تر نظارت لاندې د يو ځانګړې کميټې د تشکيل اعلان وکړ.[٤٥] په اعلاميه کې ويل شوي چې د دی کمېټې دنده دا ده چې مالومات را ټول کړي ، پېښې وپلټي او د طالبانو د غړو د غفلت[٤٦] پېښی شرعي محکمې ته وړاندي کړي.[٤٧] د دی کميسون د عملي اجرااتو په اړه کوم علني مالومات ندي ورکړل شوي.[٤٨] يوناما په دی ټينګار کوي چې د معتبر ميکانيزم لپاره اړينه ده چې ملکي وګړي د نړيوال بشردوستانه قانون په رڼا کې تعريف کړي او د نړيوال بشردوستانه قانون د اصولو او نورمونو سره سم چلن ته وده ورکړي.

---

[۳۸] په ۲۰۱۲ کال کې يوناما اته پيښی ثبت کړې دي چې له امله يې اته ملکيان مړه او ۱۳ نور ټپي شول (ټول ۲۱ ملکي تلفات ).

[۳۹] د ۲۰۱۳ کال د جون دلومړۍ نېټې څخه تر ۲۰۱۴ کال دويمې جنورۍ په منځ کې د ټاکنو خپلواک کميسون د ټاکنو پروسې پر ضد ۸۲ پېښې ثبت کړې دي. په دی شميرو کې د ۲۳ د بريدونو پېښې ، ۲۲ پېښې د ټاکنو دکميسون د پرسونل ته د ګواښ او ډارونې پېښې او ۱۲ پېښی د تعبيه شوي چاوديدونکو توکو ، د ليرې کنټروليدونکي چاوديدونکي توکي ، د موټر په واسطه ځانمرګي بريدونه شامل دي چې په پايله کې ملي پوليس ، د ټاکنو کميسون عملې ، ګرځنده کاروانونو ته يې مرګ ژوبله اړولې او يا د ټاکنو کميسون دفتر ته تصادفي زيان اوښتی دی. په دی اړه د ټاکنو د کميسون امنيتي راپوروګورئ ، د سيمه ييزو عملياتو اداره ، امنيتي همغږۍ دفتر ، ۲۰۱۴ کال د جنورۍ دويمه نېټه د يوناما فايل.

[٤٠] هغه پيښې چې ملکي وګړي اغيزمنوي عبارت له ملکي وګړو مرګ ژوبله ، ګواښ ډارونې ، ځورونې ، د معيشت د لاسه ورکړه ، او بشری حقونو بی برخي کيدل ، د بيلګې په ډول د تعبيه شوی چاوديدونکو توکو له امله د ښوونځيو او کلينکونو تړل.

[٤١] په ۲۰۱۲ کال کې يوناما ۴۶ داسی پيښی ثبت کړې دي چې طالبانو يې مسؤليت په غاړه اخستی . د يوناما د ۲۰۱۲ کال د ملکي وګړو د خوندي ساتنې کلنی راپور ۲۷ مخ وګورئ.

[٤٢] د ملکي وګړو په اړه د طالبانو تعريف ( بشپړ راپور سره دې وکتل شي ).

[٤٣] نړيولا بشر دوستانه قانون د ژوند ، د روغتيا ، فزيکي او رواني صحت په ضد تاوتريخوالی منع کړی په ځانګړی ډول ، وژل ، شکنجه ، د بدن د غړو پريکول ، يا نور جسمي تعذيب يې هر وخت په هر ځای کې منع کړی . ۴۲ (الف ) ماده د کليدی تضمينونه ، الحاقي پروټوکول II ( ۱۹۷۷ ) د جنيوا ۱۹۴۹ کنوا نسيون او همدا رنګه د جنيوا د کنوانسيون دريم عمومي بند وګورئ.

[٤٤] د طالبانو مياشتنۍ اعلاميه په دې اړيکه ، http://www.shahamat-english.com/index.php/interviwe په2014 14 January د لاس رسی وړ.

[٤٥] د پيښو تفصيل لپاره ددې راپور اولنی ضميمه وګورئ.

[٤٦] د طالبانو اعلاميه ، د ملکي تلفاتو د مخنيوي د کمېټې مشر ښاغلي سرحدي سره مرکه ، د ۲۰۱۳ کال د جون ۱۷ مه ، په لاندې اړيکه کې وګورئ : http://www.shahamat-english.com/index.php/interviwe/32843-interview-with-mr-sarhadi,-the-director-of-the-special-committee-for-the-prevention-of-civilian-losses, accessed 14 January 2014

[٤٧] مخکينی ماخذ.

[٤٨] مخکينی ماخذ.

## په جګړه کې د ښکېلو لورو تر منځ ځمکنۍ نښتو له امله د ملکي وګړو تلفات

یوناما د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو[49] تر منځ د ځمکنیو نښتو ۹۶۲ پېښو په پایله کې ۵۳۴ ملکي کسانو مړینه او ۱،۷۹۳کسانو ژوبله (۲،۳۲۷ ملکي تلفات) ثبت کړې ، چې د ۲۰۱۲ کال په نسبت پکې ۴۳ سلنه لوړوالی راغلی.[50]


ځمکنۍ نښتې په ټول هیواد کې د ملکي تلفاتو دویم ستر لامل و ، چې د ټول ملکي وګړو مرګ ژوبلی ۲۷ سلنه تشکیلوي او تر ټولو ډیر یې ښځې او ماشومان وژلي چې په ۲۰۱۳ کال کې د ښځو ماشومانو د وژنو ۳۹ سلنه له همدی څخه رامنځ ته شوې ده.[51]

د ځمکنۍ نښتو ټولې هغه پېښې چې له ځان سره ملکي تلفات لري ، د ۲۶۶ کسانو مړینه ، او ۷۶۴ ژوبله (۱،۰۳۰ ملکي کسانو تلفات) اړولي چې د ځمکنۍ نښتو د تلفاتو ۴۴ سلنه کیږي د دولت ضد وسلوالو ته منسوب شوې دي.[52]

یوناما د ۹۹ ملکی کسانو مړینه او او ۲۷۶ کسانو ژوبله ( ۳۷۵ ملکي تلفات ) د دولت پلوه ځواکونو عملیاتو ته منسوب کړي ، چې دغه د ځمکنۍ نښتو د ټولوتلفاتو ۱۶ سلنه تشکیلوي. دځمکنۍ نښتو ۳۸ سلنه ملکي تلفاتو ( ۱۵۹ مړه ، ۷۱۸ ټپیان او ټول ۸۷۷ ملکي تلفات ) ګرم لوری ندی په ګوته شوی او د ۲۰۱۲ کال په پرتله دې کې۷۶ سلنه ډیر والی راغلی.[53]

د جګړې دغه تت محرک په افغانستان کې د جګړې بدلیدونکي بڼه منعکسوي چې مخ په ډیریدونکي ډول په ملکي او ګڼه ګوڼی سیمو ته وړل شوي او ملکي خلک د جنګ په منځ کې بند پاتې دي.

پاتې دوه سلنه د ملکي وګړو تلفات د پولې د بلې غاړې ګولۍ ورولو ته منسوبوي چې په کنړ او ننګرهار ولایتونو باندې ورول شوې وې[54] اوله امله یې ۳۷ ملکي وګړو ته تلفات ( نهه ملکي وګړی وژل شوي او ۲۸ټپیان) رسولي وو او ځمکنۍ نښتو درې نورې پیښې چې له امله یې یو ملکي وګړی مړ او اوه ټپیان شوي(اته ملکي تلفات) ، لوری یې مالوم نه دی.




[49] په دی شمیرو کې د پولې بلې غاړې څخه په افغانستان ګولې ورولو له امله ملکي تلفات شامل دي چې هغه د ځمکنۍ نښتو یوه کمه برخه جوړوي.
[50] یوناما په ۲۰۱۲ کال کې د ۴۴۴ کسانو مړینه او ۱۱۸۷ کسانو ژوبله ( ۱۶۳۱ ملکي تلفات ) د ۷۵۶ ځکمنۍ نښتو په پېښو کې ثبت کړې.
[51] که څه هم په ۲۰۱۳ کال کې د مځکنۍ نیښو له امله ډیري ښځې او ماشومان ژوبل شوي دي ، خو ځای ځای پر شویو توکو ډیری ښځې او ماشومان وژلي دي.
[52] یوناما د ځمکنۍ نښتو پېښې چې د ځان سره ملکي تلفات ولري د څو منابعو سره تصدیقوي ، چې هغوی کې عیني شاهد ، قرباني ، د ټولنې سرچینې ، د ولسوالۍ چارواکي او نور اړوند اداري شاملې دي ، چې دملکي تلفاتو مسؤل طرف په ګوته کړي د بېلګې په ډول ، د هوان مرمۍ د کوم لوری لخوا فیر شوي.
[53] یوناما په ۲۰۱۲ کال کې د ۱۵۸ کسانو مړینه او ۳۷۸ کسانو ژوبله ( ۸۸۰ کسانو تلفات) یو لوري ته ندی منسوب کړي .
[54] د پولی بلې خوا نه د ګولیو د ویشتل کیدو په هکله ددې راپور برخه وګورئ.

## دولت پلوه ځواکونه او د ملکي وګړو ساتنه

دولت پلوه ځواکونو[٥٥] د ټول تلفاتو څخه ١١ سلنه ملکي وګړو ته تلفات اړولي ( ٩٥٦ ملکي تلفات - ٣٤١ مړه او ٦١٥ ژوبل) چې د ٢٠١٢ کال پرتله ٥٩ سلنه ډیر والی ښیي. یوناما د هغه ملکي وګړومړینه او ژوبله چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا ملکي وګړو ته رسیدلی ، ٥٧ سلنه افغان ملي امنیتي ځواکونو ، ٢٧ سلنه نړیوال نظامي ځواکونو او١٦ سلنه ګډو عملیاتوته منسوب کړې ده.

یوناما ملکي تلفاتو کې دا ډیر والی د افغان امنیتي ځواکونو ځمکنو عملیاتو ته منسوب کړي. په ټولیز ډول د ٩٩ ملکی کسانو مړینه او٢٧٦ کسانوژوبله (٣٧٥ ملکي تلفات) د دې ځواکونو ځمکنیو عملیاتو ته منسوب شوي چې دا شمیره د ٢٠١٢ کال په پرتله ١٢٩ سلنه ډیر والی په ګوته کوي.[٥٦]

یوناما د نړیواله نظامي ځواکونو د هوایي عملیاتو په ترځ کې ٢٠١٣ کال کې ١٨٢ ملکي تلفات (١١٨ ملکي کسان مړه او ٦٤ نور ټپیان) ثبت کړي ، چې دا ځل د ٢٠١٢ کال پرتله داسی عملیاتو کې ١٠ سلنه ملکیتلفاتوکې کمښت راغلی دی.[٥٧] دولت پلوه ځواکونو ته منسوب ټولو تلفاتو څخه ١٩ سلنه تلفات او د ټولو تلفاتو دوه (٢) سلنه تلفات د هوایی عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوي دي. د هوایی عملیاتو په ترځ کې رامنځ ته شوي تلفاتو تر منځ ٤٥ سلنه تلفات د ښځو او ماشومانو دي.

یوناما په ٢٠١٣ کال کې د بی پیلوټه الوتکو یا ډرون[٥٨] په بریدونو کې ٤٥ ملکي کسان مړه او ١٤ کسان نور ژوبل ( ٥٩ ملکي تلفات)[٥٩] مستند کړي ، چې دا تلفات د ٢٠١٢ کال په نسبت درې چنده ډیر دي.[٦٠] یوناما مشاهده کړی چې د تهاجمي هوایی برید په ترځ کې دوامداره ملکي تلفات د دې اړتیا په ګوته کوي چې نړیوال نظامي ځواکونه دې د برید او ښکیلتیا ترمخه احتیاطي تدابیرو ته له سره کتنه وکړي.[٦١]

یوناما په ٢٠١٣ کال کې د ځواک د خوندي ساتنې او قوې کارونې د ٤١ پېښو په ترځ کې د ٣١ کسانو مړینه او ٤٤ کسانو ژوبله (٧٥ ملکي تلفات ) ثبت کړې ده ، چې د ٢٠١٢ کال په نسبت ٤٧ سلنه ډیر والی ښیی.[٦٢] د دې پېښو له امله ملکي تلفاتو کې ډیر والی د ٢٠١١ او ٢٠١٢ کال د کمښت پر ځای په شاتګ ګڼل کیږي.

د افغان امنیتي ځواکونو او نړیوال نظامي ځواکونو خپلواک او ګډ تلاشي عملیات په ټولیز ډول د ٣٧ ملکی کسانو د مړیني او ٨٣ کسانو ژوبلیدو ( ١٢٠ ملکي تلفات) لامل شوي دي.

*افغان امنیتي ځواکونه او د ملکي وګړو خوندیتوب*

د ٢٠١٣ په اوږدو کې د یوناما د افغان امنیتي ځواکونو (ملي اردو ، ملي پولیس سرحدي پولیس او ملي امنیت ) په مشرۍ عملیاتو او نښتو په پایله کې د ٨٣ ملکي کسانو مړینه ٢٨٤ کسانو ژوبله (٣٦٧ کسانو تلفات) ثبت کړې ده. دا تلفات د ٢٠١٢ کال پر تله ٢٨٢ سلنه ډیروالی ښیي.[٦٣]

[٥٥] دولت پلوه ځواکونه افغان امنیتي ځواکونه دي او نور هغه ځواکونه چې نظامي یا نیمه نظامي ځواکونو کې د بغاوت ضد عملیاتو کې دخیل دي او مستقیم او غیر مستقل ډول د افغان حکومت د قوماندې لاندې دي. دا ځواکونه عبارت له ملی اردو ، افغان ځانګړي ځواکونو ، ملی پولیس ، سرحدی پولیس ، ملي امنیت ، سیمه ییز پولیس او نور دولت پلوه محلي دفاعي ځواکونه دي . دا اصطلاح ایساف ، ځانګړی ځواکونه ، د ځانګړی عملیاتو ځواکونه او نور نړیوال نظامي ځواکونه په شمول د خارجي استخبارات او نور امنیتي ځواکونه د ځان سره رانغاړي . د ایساف او افغان نظامي سرچینو مطابق په ٢٠١٣ کال کې نږدې ټول نظامي عملیات په افغانستان کې افغان امنیتي ځواکونو رهبري کړی او یوازې په یو ځوعملیاتو کې ورسره نړیوالو ځواکونو په ګډه عملیات تر سره کړي.

[٥٦] په ٢٠١٢ کال کې ٧٤ ملکي مړه او ٩٠ ټپیان ( ١٦٤ ملکي تلفات) ثبت شوي.

[٥٧] په ٢٠١٢ کال کې یوناما د ١٢٥ ملکي کسانو مړینه او ٧٧ کسانو ژوبله (٢٠٢ ملکي تلفات ) د هوایی بریدونو په نتیجه کې ثبت کړې ده.

[٥٨] بی پیلوټه ته دلیری پیلوټي الوتکه هم وایی. د ار پی ای ، یو ای وي او ډرون تر منځ توپیر نه شته.

[٥٩] د بی پیلوټه الوتکوپه بمبارۍ کې د ملکي تلفاتو شمیره شاید د یوناما د ثبت شویو تلفاتو ډیره وي ځکه یوناما کیدای شی د هوایی عملیاتو په مهال د استعمال شوی وسیلې په مالومولو ونه توانیږی ( الوتکه ، چورلکه یا د لیرې کنترولیدونکي) د ملکي تلفات لامل شوې.

[٦٠] په ٢٠١٢ کال کې یوناما د ١٦ ملکي کسانو مړینه او او دری نورو ژوبله ( ١٩ ملکي تلفات ) د بې پیلوټه الوتکو د بمبارۍ په پایله کې ثبت کړېدي.

[٦١] د متحده ایالاتو د ځواکونو مرکز ، د افغانستان د ملکي تلفاتو مخنیوی ، ملاحظات . نظرونه او سبقونه ، د تیرو څخه د زده کړې مرکز ، د متحده ایالاتو غیر محرم ، متحده ایالاتو پوځي ،٢٠١٢

[٦٢] یوناما په ٢٠١٢ کال کې د ١٤ ملکي کسانو مړینه او ٣٧ ژوبله ( ٥١ ملکي تلفات ) د دولت پلوه ځواکونو د ځواک د ساتنې په مهال په ٣٥ داسی پېښو کې ثبت کړې ده.

[٦٣] یوناما د افغان امنیتي ځواکونو په عملیاتو کې د ٣٣ ملکي وګړو مړینه او د ٦٣ ژوبله ثبت کړې ده.

د نړیوال امنیتي نظامي ځواکونو څخه افغان امنیتي ځواکونو ته د ۲۰۱۳ کال د جولای میاشت کې د امنیت مسؤلیت د لیږد وروستۍ مرحله ترسره شوه ، چې له دې وروسته به افغان ملي امنیتي ځواکونه په ټول هیواد کې دعملیاتومشري په غاړه لري.[٦٤] یوناما بیا خپله غوښتنه تکراروي چې د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو کې دې مستقل څانګې رامنځ ته شي چې په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتوادعا وپلټي ، د مخنیوي لارې چارې یې پیل او دې ته ادامه ورکړي.

د جمهوري ریاست د مالوماتو هم غږی مرکز(PICC ) کې د ملکي تلفاتو د تعقیب هیئت د ۲۰۱۲ کال د مۍ په میاشت کې ایجاد شوی چې یواځې د امنیتي ځواکونو څخه ملکي تلفات راټولوي خو د افرادو یا کومې اداری لخوا شکایت نه ثبتوي. په سیمه ییز یا ولایتي کچه د پخوا شته اداري لکه د عملیاتو د هغمږی مرکز[٦٥] قوي کړي چې د ملکي تلفاتو ادعا تر لاسه کولو وروسته د مناسب تحقیقاتو دپاره مناسبې چارې همغږی کړي.[٦٦]

د ملکي خلکو او نظامي ځواکونو پر وړاندې د تعبیه شوی چاودیدونکو توکو مخ پر زیاتیدونکی ګواښ ته په پام سره ، یوناما د حکومت لخوا د چاویدونکو توکو د یو سترګواښ پر ضد دوامداره فعالیت ستایي. ایساف د ټریننګ ، منابع چمتوالي ، روزلو او وسایلو په ورکړه سره د افغان ځواکونو د ماین ضد ظرفیت لوړولو کې اساسي رول لوبولی دی. یوناما د حکومت سره د نړیوالې ټولنې لخوا دوامداره مرستې ضرورت باندی ټینګار کوي چې افغان امنیتي ځواکونه وروزل شي اود منابع چمتو کولو ډاډ ورکړي ، تر څو د ۲۰۱۴ په مهال او له دې وروسته د چاودیدونکو توکو پر ضد عملیاتوترسره کولو وړتیا ولري.

د ژورې اندیښنې خبره دا وه چې په ۲۰۱۳ کال کې د ځینې افغان امنیتي ځواکونولخوا په ځینې سیموکې د څمکنې او تلاشي عملیاتو پر مهال د بشري حقونو سرغړونې او ناوړه چلن کره راپورنه ورکړل شوي دي. یوناما په فاریاب او کندوز ولایتونو کې د افغان امنیتي ځواکونو لخوا د ملکي وګړو وهل ، د شتمنۍ ویجاړول او لوټول مستند کړي.

یوناما د افغانستان په حکومت غږکوي چې د نړیوال قانون غوښتنې سره سم دې دافغان امنیتي ځواکونو لخوا د بشري حقونو د سرغړونې او ناوړه چلن ټولې ادعاګانې وڅیړي.

**افغان سیمه ییز پولیس او د ملکي خلکو خوندیتوب**

په ډیرو ولسوالیو کې ځایي ټولنو د سیمه ییزو پولیسو د شتون له کبله د ښه امنیت راپور ورکړی دی. د ډیرو مثبت راپورونو تر څنګ بیا هم یوناما د سیمه ییزو پولیسو په عملیاتو کې د دوامداره ملکي وګړو تلفاتو ترڅنګ د ځینې سیمه ییزو پولیسو لخوا د بشري حقونو سرغړونه او ناقانونه کړنې مستند کړي دي. د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې یوناما د سیمه ییزو پولیسو په لاس تر سره شوي د بشري حقونوجدي سرغړونې ثبت کړي ، چې هیڅ محسابه ورسره نه ده شوی او تر شایې د ولایتي یا سیمه ییزو زورواکانو لاس وو. دا ډول پېښې د فاریاب ، کندوز ، ننګرهاراو اوروزګان ولایت په ځینو ولسوالیو کې ثبت شوي دي.

یوناما په ۲۰۱۳ کال کې دسیمه ییزو پولیسولخوا په ۶۵ بیلا بیلو پېښو کې د ۳۲ملکي وګړو مړینه او ۳۹ کسانو ژوبله (جمله ۱۲۱ ملکي تلفات) ثبت کړې ده.[٦٧] د ملکي تلفاتو داحا لت نږدې د ۲۰۱۲ کال پرتله سیمه ییزو پولیسو ته منسوب تلفاتو کې درې ځل ډیروالي ښيي[٦٨] ډیری داسی تلفات د ځینې سیمه ییزو پولیسو لخوا په اړوند سیموکې د محکمې پرته اعدامونو ، قصدی وژلو ، مجازات کولو او غچ اخیستنې په نتیجه کې رامنځته شوي دي. سربیره په دی د ګواښ ، ډارولو ، ځورولو ، ناقانونه تالاشي او د ښوونځیو د نیولو پېښې هم ثبت شوي دي.

---

[٦٤] د ناټو عمومي قوموندان افغانانو ته د انتقال هرکلی ورکولو اعلامیه ، ۱۸ جون ۲۰۱۳ ، دا لینک وګورئ:
http://www.nato.int/cps/en/natolive/news_101482.htm

[٦٥] د ولایتي عملیاتو هغمغږی مرکز( او سی سی پي) اود عملیاتو سیمه ییز همغږی مرکز( او سی سی ار) ، ولایتی او سیمه ییز د عملیاتو د همغږی اداري دي چې عملیات تنظیموي او د افغان امنیتي ځواکونو مالومات یو له بل سره شریکوي.


[٦٦] د دې لاملونو په اساس یوناما په دې اند ده چې افغان امنیتي ځواکونو ته منسوب ملکي تلفات یې په بشپړ ډول ندی راپور کړي.

[٦٧] د ۲۰۱۱-۲۰۱۳ پورې د یوناما په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنې شپږ میاشتنی او کلنی راپور د سیمه ییزو پولیسو د پروګرام شالید او ددوي په اړوند د بشري حقونو اندیښنو لپاره وګورئ.
ttp://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=13941&language=en-US

[٦٨] په ۲۰۱۲ کال کې یوناما ۴۳ داسې پیښې ثبت کړې چې محلي پولیسو ته منسبوب شوې او ۳۴ ملکي وګړو ته په کې تلفات رسیدلي دي.

د کورنیو چارو وزارت کې د سیمه ییزو پولیسو ریاست چې د سیمه ییزو پولیسو د نظارت دنده لري په ۲۰۱۳ کال کې د سیمه ییزو پولیسو پر ضد د ۱۰۰خخه ډیرې پېښې څېړلې ، چې له دې جملې ۵۹ پېښې په ولایاتوکې نظامي څارنوالۍ ته سپارلې.[٦٩] د ستاېلو د دې قدم تر څنګ نوموړي ریاست ونکړای شو چې د قانوني تعقیب ، محکوم شویو ، د وظیفي څخه د لرې کیدو او یا نورو اجراااتو په اړه مالومات ورکړي.

یوناما د سیمه ییزو پولیسو د سرغړونې په صورت کې د قانوني حساب ورکړې لپاره د زیاتو هلوځلوغوښتونکې ده. د سیمه ییزو پولیسو هر هغه غړی چې د بشري حقونو څخه په سرغړونه کې ښکېل وی باید فورا له دندې لرې او بې وسلې شي او په اړه یې تحقیقات تر سره شی او د سیاسی تړاو په نظر کې نیولو پرته دی قانوني تعقیب لاندی ونیول شي. کوښښ دې وشي چې د سیمه ییزو پولیسو ریاست ظرفیت نور ځواکمن شي چې نظارت او قانوني تعقیب په ښه ډول ترسره کړای شي.




نوټ : له «نور» نه هدف د عکسل العمل ښود لو پیښې ، بندي کول ، تیښتول او متوازي عدلي سزاګانې دي.

## وسله والې ډلې او د ملکي وګړو خوندیتوب

یوناما د دولت پلوه وسلواله ډلو د معافیت سره د بشري حقونوځخه دسرغړونې ۳۹ داسې پېښې ثبت کړي چې په ترڅ کې ۱۸ ملکي کسان مړه او ۳۷ نور ټپیان شوي دي. ډیرې پېښې په هغه سیموکې رامنځ ته شوی چې هلته وسله والو ډلو زیات قوت او اغیزدرلود. د اوروزګان ولایت د یوې پېښې پرته د وسله واله ډلو د بشري حقونو څخه د سرغړونې نورې ټولې پېښې په کندوز ، فاریاب ، بغلان او جوزجان ولایتونو کې ثبت شوې دي. یوناما د وسله واله ډلو په لاس د وژنو په شمول د بشري حقونو څخه جدّی سرغړونې د ۲۰۱۲ څخه تر ۲۰۱۳ کلونو پر مهال د کندوز ولایت په کنم کلان کلی کې ثبت کړې دي. په دې پېښه کې تورن قوماندانان تر اوسه نیول شوی ندي.

یوناما یو ځل بیا په حکومت غږ کوي چې د داسې ډلو د منحلولو او بې وسلې کولو کوښښونه لا زیات کړي.

[٦٩] د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ په نهمه نیټه د کورنیو چارو وزارت کې د سیمه ییزو پولیسو ریاست سره د یوناما جلسه.

## ماشومان او وسلواله جګړه

په ۲۰۱۳کال کې ډیرشمېر افغان نجونو او هلکانو ته مرګ ژوبله اوښتې. د وسلواله شخړې تاؤتریخوالی ۱،۷۵۶ ماشومانو (۵۶۱ مړه او ۱،۱۹۵ ژوبل) ته تلفات اړولي چې دغه شمېره د ۲۰۱۲ کال پر تله ۳۴ سلنه لوړه ده. د ماشومانوتلفات د ټولو تاکتیکونوپه نتیجه کې وو ، خو ډیری یې د چاودیدونکو توکواوځمکنۍ نښتو په پایله کې رامنځ ته شوي دي.

د افغان ماشومانو تر ټولو ستر وژونکې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي دي. یوناما د ۱۹۲ ماشومانو مړینه او ۳۱۹ ژوبله د ځای پر ځای شوی چاودیدونکو توکو په نتیجه کې ثبت کړې چې دا شمیره د ۲۰۱۲ کال پرتله ۲۸ سلنه ډیره ده. دځای پرځای شوی چاودیدونکو توکو برسیره ځمکنۍ نښتې په دویم کتار کې ډیرو ماشومانو ته زیان اړولی. یوناما د ځمکنۍ نښتوپه ترڅ کې د ۱۳۷ ماشومانو مړینه او ۵۰۴ نورو ژوبله مستند کړی چې د ۲۰۱۲ کال په نسبت پکې ۵۹ سلنه ډیروالي راغلی دی.

د ۱،۷۵۶ افغان ماشومانو د مرګ ژوبلی د ډلی څخه ۹۶۴(۳۲۸ مړینه او ۶۳۶ ژوبل) د دولت ضد عناصرو فعالیتونو ته منسوب شوی او ۲۶۶ ماشومانو (۹۳ مړینه او ۱۷۳ ژوبله) تلفات په ۲۰۱۳ کې دولت پلوه ځواکونه ته منسوب شوی.

د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ ډزوکې ۲۴۵ ماشومانو (۵۰ مړه او ۱۹۵ ژوبل) ته تلفات اوښتی او سربیره پر دی د پولې د بلی غاړی ګولي ورولو ۱۳ ماشومانو(۲مړه او ۱۱ ژوبل) ته تلفات اړولي دي. پاتې ۲۶۸ ماشومانو تلفات (۸۸ مړه او ۱۸۰ ژوبل) هیڅ لوری ته ندي منسوب شوي چې ډیری دجګړې څخه پاتې چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي. ماشومان د د جګړې څخه چاودیدونکو پاتې شونو پر وړاندې تر ټولو ډیر زیانمنونکي پاتې شوي او د چاودیدونکو پاتې شونو له امله د ټول ۳۴۳ تلفاتو څخه ۲۸۴ تلفات یوازې یې ماشومان دي ، چې د ۲۰۱۲ کال پرتله پکې ۷۴ سلنه ډیر والی راغلی دی. د جګړې څخه چاودیدونکو پاتې شوني ډیری قربانیان ځوانان هلکان وو چې د دې تلفاتو ۸۳ سلنه تشکیلوي.

## وسلواله جګړه او ښځې

د ولسوالۍ جګړې له امله ښځو ته په ۲۰۱۳ کال کې ډیر زیان رسیدلی او یوناما په ۲۰۱۳ کال کې د ۷۴۶ ښځو تلفات( ۲۳۵ مړینه او ۵۱۱ ټپي کیدنه) ثبت کړي دي چې دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۳۶ سلنه زیاتوالی ښیې.[70] د دولت ضد عنا صرو له خوا ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو د ۲۰۱۳ کال په وسلواله جګړه کې یو وار بیا ډیرې ښځې ووژلې چې ۸۶ ښځې یې ووژلې او ۹۱ ټپیانې شوې (۱۷۷ د ښځو تلفات) او دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۲۰ سلنه زیاتوالی را په ګوته کوي.[71] که څه هم ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو له بل هر یو تکتیک نه ډیرې ښځې ووژلې ، خو مځکنۍ نښتو بیا ډیرې ښځې ټپیانې کړې او د ښځو ډیر تلفات ( ۳۳۴ تلفات ، د ۷۳ مړینه او د ۲۶۱ ټپي کیدنه)[72] د مځکنۍ نښتو له امله منځ ته راغللي چې ۴۶ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي او په ۲۰۱۳ کال کې مځکنۍ نښتې د ۴۵ سلنې د ښځو د تلفاتو سبب شوې دي. په دې کې هغه تلفات هم شامل دي چې په جنګ کې د ښکیلو خواو د متقابولو ډزو په وخت کې ښځې ایسارې شوي دي او یا نامالومه مرمۍ ددوي په کورونو لګیدلې دي.

## د جګړې څخه چاودیدونکي پاتې شوني

د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې د جګړې څخه چاودیدونکو پاتې شوني[73] د ملکي وګړو ژوند او رزوګار د مخ په زیاتیدونکي ګواښ سره مخامخ کړی وو. یوناما د جګړې څخه د چاودیدونکو پاتې شونو په نتیجه کې د ۱۴۴ ملکي کسانو مړینه او ۲۲۹ کسانو ژوبله (۳۴۳ ټول تلفات ) مستند کړي چې دا د ۲۰۱۲ کال په نسبت ۶۳ سلنه ډیر والي ښیي. د ټول قربانیانو دجملی څخه ۸۳ سلنه یې ماشومان وو. د جګړی څخه د چاودیدونکو پاتې شونو له امله ملکي تلفاتو کې ډیر لوړ والي د جګړی د ښکېلې خواو ترمنځ د ځمکنۍ

[70] په ۲۰۱۲ کال کې یوناما ۵۴۸ د ښځو تلفات ( ۱۹۶ مړینه او ۳۵۲ ټپي کیدنه) چې له هر ډوله پیښو نه منځ ته راغلي وو ، ثبت کړي دي.
[71] په ۲۰۱۲ کال کې یوناما ۱۴۸ د ښځو تلفات ( ۸۱ مړینه او ۶۷ ټپي کیدنه) چې ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو له امله منځ ته راغلي وو ، ثبت کړي دي.
[72] په ۲۰۱۲ کال کې یوناما ۲۲۹ د ښځو تلفات ( ۵۳ مړینه او ۱۷۶ ټپي کیدنه) چې د مځکنۍ نښتو له امله منځ ته راغلي وو ، ثبت کړي دي.
[73] د جګړې څخه پاتې چاودیدونکي توکي (ERW) ، ناچاوده توکي (UXO) او پریښودل شوی چاودیدونکي توکي (AXO).

نښتو تلفاتو سره مطابقت لري.[٧٤] دويم لامل يې د ايساف د نظامي هډو او د ډزو تمريناتو ځايونه په په بيړه تړل وو ، چې ډيری يې د تړلو تر مخه د ناچاوده توکوڅخه په بشپړ ډول پاک شوی نه وو.[٧٥]

## د پولې د پورې غاړې ګولۍ ورول

د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې يوناما د پولې پورې غاړې څخه ګولۍ ورولو په پايله کې د نهه (۹) ملکی کسانو مړينه او ۲۸ کسانو[٧٦] ژوبله (۳۷ ملکي تلفات)[٧٧] ثبت کړې ، چې په کنړ او ننګرهار ولايتونو کې د ۱۳۰ پېښو ترڅ کې رامنځ ته شوي ، او د ۲۰۱۲ کال په نسبت داسی تلفاتو کې ۵۱ سلنه کمښت راغلی دی.[٧٨] د پولې پورې غاړې ګولۍ ورول د کورونو ، جوماتونو او څارويو د زيان لامل شوی او هغه ځايونو کې يې د سيمه ييزو خلکو په لويه کچه غصه اوقهر راپارولی دی.

## د جګړې له امله بې ځايه کيدل

د جګړی سره تړلي تاوتريخوالي اوناامني په افغانستان کې په لويه کچه د د اخلي بی ځايه کيدنې لامل شوي دي. د داخلي بيځايه شويو خلکو کاري ګروپ د وسله والې شخړی له امله په ۲۰۱۳ کال کې ۱۲۴،۳۵۴ داخلي بې ځايه شوي ملکي کسان ثبت کړي.[٧٩] دا د ۲۰۱۲ کال پرتله ۲۵ سلنه ډير والی ښيي چې هغه مهال ۱۰۲،۰۰۰ خلک د جګړې له امله بې ځايه شوي دي. د ۲۰۱۳ کال د نومبر د ۳۰مې پوری په افغانستان کې د داخلي بيځايه شويو وګړو شمير ۶۳۱،۲۸۹ تنه وو ، چې نږد د نيمايي څخه زيات يې په تيرو درې روستيو کلنو کې بيځايه شوي.[٨٠]

## وسله واله جګړه او روغتيا ته د لاس رسي حق

د روغتيايی مرکزونو او د دې کارکونکو پر ضد بريدونو او ګواښونو په ۲۰۱۳ کې زياتوالی مونډلی چې يوناما د روغتيايی مراکزو او طبي عملې پر ضد د بريدونو او ګواښونو ۳۲ پيښې ثبت کړې ، چې دغه ډول ۲۰ پېښې په ۲۰۱۲ کال کې ثبت شوی وي.[٨١] يوناما د پنځه روغتيا پالو مړينه او څلور نورو ژوبله ثبت کړې.[٨٢] ټولی داسی پيښی چې له ځان سره يې ملکي خلکو مرګ ته ژوبله اړولې د دولت ضد وسلوالو ته منسوب شوی.

## وسلواله جګړه او د زده کړې حق

د جګړې له امله تاوتريخوالي د هيواد په ټولو سيمو کې نيغ په نيغه زده کړو ته لاس رسي اغيزمن کړی. يوناما ۶۲ پېښې تصديق کړې چې په دې کې هدفي بريدونه ، د ښوونځيو سوځول ، ښوونکو او عملې ته ګواښ کول او ويرول ، د ښوونځيو تر څنګ چاوديدونکې توکې ځای پر ځای کول ، چاپې وهل او ځمکنۍ نښتي شاملې دي. ښوونځي د نظامي اهدافو لپاره

---

[٧٤] د ځمکنۍ نښتو په نتيجه کې ډير ملکي تلفات د ملکي خلکو د ګڼې ګوڼې په سيمه کې د ډيروجګړوښکارندوی دي او کيدای شي دا جګړې له ځان سره ډير ناچاوده چاوديدونکي يا پريښودل شوي چاوديونکي توکي پريږدي.

[٧٥] د ناچاوده چاوديدونکو توکو مبدا مالومول ستونزمن دی او په ځانګړي ډول کله چې وچوي. د دې امله يوناما د هر ناچاوده توکو د ملکي تلفاتو پېښې چاپيريال تحليلوي. د بيلګې په توګه د ايساف په يو پخوانۍ هډه کې د يو ناچاوده چاوديدونکي توکي له امله ملکي تلفات ، خو د دی توکو د مسؤليت لوری د مبدا د کره والي تر وخته پوری مسؤليت يې چاته نه منسوب کيږي.

[٧٦] يوناما د پولې پورې غاړې ګولۍ ورولو په پايله کې ملکي تلفات د ځمکنۍ نښتو تلفاتو په کتار کې شميري.

[٧٧] يوناما د پولي پوری غاړی څخه د افغانستان په خاوره کې د ګولۍ ورولو ۱۳۰ پيښی ثبت کړي. د د دی پيښو په پايله کي ۲۴ ملکي تلفات رامنځ ته شوي دي.

[٧٨] يوناما په ۲۰۱۲ کال کي د ۱۲ ملکي کسانو مړينه او ۶۳ کسانو ژوبله (۷۵ ملکي تلفات) د پولي پوری غاړی ګولۍ ورولو په ۲۰۶ پيښو کې د افغانستان په ختيځ ننګرهار او کنړکې ثبت کړې دي.

[٧٩] د داخلي بی ځايه شويو کاري ګروپ د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمشنرۍ او د کډوالو او راستنيدونکو چارو وزارت په ګډه مشری کوي . دا لومړنۍ اداره ده چې د جګړی په تړاو بی ځايه شوی خلک ثبتوی او هم مرسته ورسوی.

UNHCR Brief, Conflict-Induced Internal Displacement- Monthly Update, December 2013, received 14 January 2014.

[٨٠] د يو اين ايچ سي ار ( د جګړې له کبله داخلي بی ځايه شوي تمايلات ۲۰۱۳ کال او مخکينی ماخذ.

[٨١] په صحي مراکزو کې روغتونونه ، کلنيکونه ، د لومړنۍ مرستو ځايونه ، لابراتوار ، د ويني بانکونه ، درملتونونه شامل دی ، او صحي پرسونل کې ډاکټران ، نرس ، لومړنۍ مرستو کارکونکي ، کمبوډر ، او مرستندويه پرسونل چې طبي چارې ورسپارل شوې وي لکه د صحي مراکز تنظيمول او يا امبولانس چلونکي وي. - صحی پاملرنه په خطر کي ، يو تريخ حقيقت ، ای سی ار سی کابل افغانستان ۲۰۱۳

[٨٢] په ۲۰۱۲ کال کي يوناما د درې صحي کارکونکو مړينه او نهه نور ژوبله په ۲۲ بيلابيلو پيښو کې ثبت کړې ده.

نیول شوي او کارول شوی دي چې د نړیوال بشر دوستانه قانون له مخې یې د ښوونځیو د خوندیتوب حیثیت او ماشومان د خطر سره مخ کړی. یوناما په ۲۰۱۳ کال کې پر ښوونځیو د قبضې اوه پېښې ثبت کړي دي.[۸۳]

## په ۲۰۱۳ کال کې په ملکي وګړو د وسله وال جګړې اغېزې

په ۲۰۱۳ کال کې د د ځمکنۍ نښتو له امله د ډیرو ښځو تلفاتو په شمول د ډیر ملکي وګړو مرګ او ژوبله یو نوی بدلون دی چې د کال په اوږدو کې د جګړې بدلیدونکي محرکات یې منعکس کړي دي. د نړیوال پوځي ځواکونو د هڅو ترڅ او د ایساف لخوا د هوایی او ځمکني عملیاتو کې کمښت ، بیا په ځانګړی ډول د ایساف افغان امنیتی ځواکونو سره ګډ ځمکني عملیات د دولت ضد وسلوالو ته په ځینې سیمو کې د ډیر خوځښت موقع ورکړه او هغوی د دې جوګه شو چې پر افغان ځواکونو باندی بریدونه ترسره کړي ،او د تیرو کلونو پر تله مخالف وسلوالو بریدونو پر وړاندې ډیر خوندي نه وو. ملکي وګړي بیا په ځانګړي ډول ښځې او ماشومان تل د ډزو په منځ کې بند پاتې وو.

سربیره په دې امنیتي خالیګاه او د وسلوالو ډلو او دزورواکانو تر منځ په سیمه باندی د اغیز لپاره رقابتي کوښښ او همدا رنګه سیاسي فعالیت کونکو دمخ په ډیریدو امنیتي پېښورامنځ ته کیدو لامل و چې ملکي وګړو پکې خوندیتوب نه درلود. د نړیوال ځواکونو څخه افغان امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسؤلیت د انتقال پنځمه او وروستنۍ مرحله د ۲۰۱۳ کال[۸٤] د جون په میاشت کې پیل شوه چې په ځینې سیمو کې یي امینتي خالیګاه پریښوده چې تر دې دمه یې افغانان امنیتي ځواکونو تشه نه وه ډکه کړې. او له دې کبله ځیني سیمې د دولت ضد وسلوالو بریدونو په وړاندې زیانمنې وي چې تل پکې ملکي وګړو ته تلفات اوښتي وي.

د دولت ضد عناصرو لخوا کوښښونه چې د جګړې په سیمه کې منطقوي اغیز وښایی نو د افغان امنیتي ځواکونو سره د ځمکنۍ نښتو لامل ګرځیدلي چې د ډزو په تبادله کې ، یا دولت ضد وسلوالو لخوا د تعبیه شوی چاویدیدونکو توکو خښولو په ترڅ کې زیات شمیر ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې.

په افغانستان کې د سیاسي او امنیتي انتقال سر مل په ملکي تلفاتو کې لوړوالي د جګړې د ښکېلو خواوڅخه د نوي او ټینګې ژمنې غوښتنه کوي چې د ملکي افغانانو خوندي ساتنې لپاره نور تدابیر واخلي. ټولي خواوې په ځانګړي ډول د دولت ضد عناصر حتما خپل قانوني مکلفیت سره په مطابقت کې نور ډیر څه ته اړتیا لري چې د ملکي وګړو مرګ ژوبلي مخنیوی وکړي او د ملکي خلکو خوندیتوب نور تقویه کړي.

یوناما په دی تاکید کوي چې په ۲۰۱۴کال کې د امنیتي او سیاسي انتقال په حال کې ، باید ملکي تلفاتو کې کمښت او بشري حقونو په خوندیتوب کې وده د ښه ثبات او د سولې په لاره کې د کوښښونو اساسی معیار وي.

[۸۳] دا مالومات په جګړه کې د ماشومانو لپاره کارې ډلې راټول کړي او تحلیل کړي.
[۸٤] د ناټو عمومي سرمنشي د افغان انتقال پروسې اعلان ته هر کلی ویلی ، ۲۰۱۳ کال د جون ۱۸ مه ، په دې اړیکه وګورئ :
http://www.nato.int/cps/en/natolive/news_101482.htm.ildren and Armed Conflict.

## سپارښتنې

یوناما دملکي خلکو د خوندي ساتنې په موخه د لاندې سپارښتنو وړاندیز کوي:

### دولت ضد عناصرو ته

- د تعبیه شوي چاودیدونکو توکو بې توپیره او غیر متناسب استعمال ودروئ او په ځانګړې ډول په هغه سیموکې چې ملکیانو لپاره ځانګړي وي.
- د مذهبي اشخاصو په شمول د ملکي خلکو ، عدلیي چارواکو او دولتي مامورینو هدفي وژنې ودروئ.
- په ملکي ځایونو کې په شمول د هوټلونو ، عمومي سړکونو ، قونصلګري اومحکمو او ملکي حکومتي دفترونو څخه او ورباندې ټول بریدونه ودروئ.
- د نړیوالو قانون سره په مطابقت اود برید په وخت د توپیر ، تناسب او احتیاط د اوصولو په رڼاکې د ملکي وګړو د تلفاتو مخنیوی وکړئ او ملکي وګړي د نړیوال بشردوستانه قانون سره سم تعریف کړئ.
- داسی لایحه ، لارښونې پلې کړئ چې ستاسی غړو ته د ملکي تلفاتو د مخنیوی اود هغی څخه د ډ ډه کولو لارښونه کړی وي او هغه غړو سره محاسبه وکړئ چې ملکي وګړي په نښه کوي یا یې وژنې او ټپي کوي.

### د افغانستان حکومت ته

- د چاودیدونکو توکو پر ضد د ستراتیژۍ د بشپړ پلي کولو لپاره دې ټول اړین منابع ورکړي.د افغان امنیتي ځواکونو ظرفیت لوړوالي ته دې لومړیتوب ورکړل شي چې د تعبیه شوی چاودیدونکو تو پر ضد عملیات په اغیزمن ډول ترسره کولو قومانده او کنترول په لاس کې واخلي او د استثمار په شمول چاودیدونکي توکي له منځه یوسي.
- د تاکتیکي لارښودونو د بیا کتنې او تقویه کولو د لارې دی د ځمکنۍ نښتو اوصول او نور پروسیجرونو په ذریعه د ځمکنۍ عملیاتو په وخت د ملکي تلفاتو کمښت د پاره نور کوټلي ګامونه واخلي ، او د ملکي خلکو د خوندی ساتنې او تلفاتو کې د کمښت له امله د افغان امنیتي ځواکونو د مناسب روزنې او منابع چمتو کولو ډاډ ورکړل شي.
- په وخت او رنې پلټنې ترسره کول ، او افغان امنیتي ځواکونو ته منسوب د ملکي تلفاتوپیښو دقیق تعقیب دې ډاډمن کړای شي ، او د حکومت هغه څانګې دې نورې تقویه شي چې د ښه نظارت او افغان امنیتي ځواکونو سره د حساب کولو وړتیا ولري په هغه صورت کې چې ملکي تلفات یې اړولي وي.
- د افغان امنیتي ځواکونو پر ضد د بشری حقونو سرغړونې او ناوړه چلن ټول ادعا دې وڅیړل شي ، او ګرم پیژندل شوي کسان دې د افغانستان او نړیوال قانون سره سم عدلي تعقیب او مجازات شي.
- دسیمه ییزو پولیسو هغه ډلې دی دندې ګوښه کړي چې د معافیت سره یې د بشری حقونو سرغړونه او جرمونه کړی او ورسره دی د سیمه ییز پولیسو پر ضد د بشري حقونو د سرغړونې او جرمونو ټولې ادعاګانې عدلي تعقیب او وڅیړل شي.
- غیر قانوني ټولې وسلوالې ډلي د ملغا او د بی وسلي کیدو پروسه دی ادامه ومومي.

### نړیوال نظامي ځواکونه


- افغان امنیتي ځوکونو سره لازیاته مرسته وکړئ تر څو د هغوی پوره منابع په لاس کې ولري او ښه مجهز او وروزل شي چې د تعبیه شوي چاودیدونکو توکو پر ضد عملیات په اغیزمن ډول ترسره کولو قومانده او کنترول په لاس کې واخلي او د استثمار په شمول چاودیدونکي توکي له منځه یوسي.
- د ملکي وګړو د زیانمنیدو د مخنیوي لپاره دې اغیزناک تدابیرونه ونیول شي چې د نظامي هدو او ډزو د تمریناتو ځایونه چې د ایساف د عملیاتو د پېل وروسته تړل شوي د هغه ځای ناچاوده توکو نقشه کښل ، اوپه نښه کولو سربیره یې پاک کړي.

- ایساف او افغان امنیتي ځواکونوکې داسی یو میکانیزم رامنځ ته شي  چې د هوایي اوځمکني عملیاتو څخه پاته ناچاوده توکو د موجودیت په اړه مربوطه چارواکي خبرشي او د خطرناکه سیمو په نښه کول او تصفیه کول  ډاډمن شي.
- د هوایي تهاجمي برید دپاره د نښتې څخه د مخه باید ټول ملحوظات او احتیاطي تدابیر په  بشپړ ډول بیا وکتل شي اونور  هغه میکانیزمونه مشخص شي چې ملکي تلفات راکم کړي . هغه مهال چې ملکي وګړو ته د نړیوال نظامي ځواکونو  یا استخباراتو لخوا تلفات واوړي  ، د داسی عملیاتو په پای کې د افغانستان حکومت په ګډه همکارۍ سره عملیاتو ته بیا کتنه او وپلټل شي  ، او د حساب ورکونې  ، د ښه عملیاتو بیلګې او د خساری د جبران په موخه دې اړین ګامونه واخستل شي.

### ۱. د دولت ضد عناصر او د ملکيانو خوندي ساتنه

په ۲۰۱۳ کال کې ۷۴ سلنه ملکي تلفات د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي. يوناما ۶۳۷۴ ملکی تلفات (۲۳۱۱ د ملکي وګړو مړيني او ۴۰۶۳ ټپي کېدنې) ثبت کړي چې د دولت ضد عناصرو له خوا تر سره شول او د ۲۰۱۲ کال[۸۵] په پرتله په کې څلور سلنه زياتوالی راغلی.

د دغو تلفاتو زياتره چې د دولت ضد عناصرو له خوا رامنځته شول په بې توپيره توګه د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو وسيلو د کارونې، په ټول هېواد کې په عمدي ډول د ملکي وګړو هدف ګرځول او د ملکي وګړو ژوندانه ته د پاملرنې پرته د بريدونو په ترڅ کې رامنځته شول.




#### ځاي پر ځاي شوی چاوديدونکي توکي

*دا د بازار ورځ وه او په پام کې مې وه چې د خپلو ملګرو سره په بازار کې د غرمې ډوډۍ په يوه رستورانت کې وخورم. زه د کور څخه همدغه مهال را و وتلم چې هغوی وګورم چې ناڅاپه مې د چاودنې غږ واورېد. زه د مارکيټ پر لور په منډه شوم چې قربانيان مې تر سترګو شول چې د مرستې غوښتنه يې کوله. ما خپل د تره زوی ومونداو هغه مې د ميمنې روغتون ته ولېږدولو خو هلته د ماسپښين په ۲ بجو د ټپونو له امله مړ شو.*

- د لېرې څخه د اداره کېدونکي ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي وسيلې له لارې په رستورانت د بريد د قرباني د تره زوی او قومی مشر، په دغه بريد کې چې د فارياب د ولايت د ميمنې په ښار کې د ۲۰۱۳[۸۶] کال د فبروری په ۷ نيټه تر سره شو څلور ملکي کسان په کې و وژل شول او نور۱۹ ټپيان شول.

---

[۸۵] په ۲۰۱۱ کال کې يوناما ۵۶۳۶ ملکي تلفات (۲۲۰۸ ملکي مړينې او ۳۴۲۸ ټپي کېدنې) ثبتې کړي دي چې دولتی ضد عناصرو ته منسوب دي. وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۱ کال کالنی راپور وګورئ:
http:// unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20ReportFinal_Feb%202012.pdf

[۸۶] د فارياب د ولايت د ميمنې په ښار کې کې د ۲۰۱۳ کال د فبروری په ۱۰ نيټه د يوناما مرکه.

د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې په بې توپیره او ناقانونه ډول د دولت ضد عناصرو له خوا د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو وسیلو کارول د ملکي وژنو او ټپي کېدنو عمده لامل و چې همدغه وسیلې د ټول ملکي تلفاتو ۳۴ سلنه تشکیلوي. یوناما ۲۸۹۰ ملکي تلفات (۹۶۲ ملکي وژني او ۱۹۲۸ ټپي کېدني) [۸۷] مستندې کړې دي چې دا د ۲۰۱۲ [۸۸] کال په پرتله د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو وسیلو د لارې د ملکي تلفاتو ټولټال ۱۴ سلنه زیاتوالی څرګندوي.


د ۲۰۰۹ کال راهیسې په افغانستان کې د ځای پر ځاي شوو چاودیدونکو وسیلو د کارولو په پایله کې ۱۲۵۰۴ ملکیان مړه او ټپي شول (۴۵۱۵ ملکیان مړه او ۷۹۸۹ ملکیان ټپي) چې دا د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو وسیلو د ۳۷۱۶ جلا جلا بریدونوپه ترځ کې را منځته شول.

په ۲۰۱۳ کال کې د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکوتوکو له امله په زیاته پیمانه کې ښځې او ماشومان زیانمن شول چې د یوناما له خوا د ۱۷۷ ښځو تلفات (۸۶ ښځې وژل شوې او ۹۱ نورې ټپي شوې) ثبت شوی ، چې دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۲۰ سلنه زیاتوالي جوتوي. د وژل شوو او ژوبلو ماشومانوشمېره په ۲۰۱۳ کال کې ډیره لوړه شوه چې په کې د ماشومانو تلفات ۵۱۱ (۱۹۲ ماشومان مړه او ۳۱۹ نور ټپي) وو ، او دا د ۲۰۱۲ کال پرتله ۲۸ سلنه زیاتوالی ښیي .

کندهار اود هلمند ولایتونه – لا هم – هغه ولایتونه دي چې هلته ملکیان په ډیره شمېره کې د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو وسیلو د لارې اغیزمن شوي دي ، په دې پسې خوست ، غزني او د ننګرهار ولایتونه راځي.

**په سیمه ییزه کچه د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو له امله د ملکیانو مرګ ژوبله**

**د جنوری څخه تر دسمبر : ۲۰۰۹-۲۰۱۳**




| | مرکزی سیمه | مرکزي لوړه سیمه | ختیځ | شمال ختیځ | شمال | سویل ختیځ | سویل | لودیځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2009 | 90 | 0 | 101 | 52 | 47 | 383 | 1079 | 125 |
| 2010 | 108 | 0 | 233 | 199 | 129 | 554 | 1316 | 207 |
| 2011 | 106 | 0 | 234 | 176 | 149 | 597 | 906 | 292 |
| 2012 | 179 | 0 | 181 | 151 | 230 | 653 | 876 | 261 |
| 2013 | 138 | 39 | 288 | 137 | 254 | 675 | 1106 | 253 |

[۸۷] په دې ارقامو کې هغه ملکي تلفات چې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې رامنځته شوي دي نه دي شامل ( په دې کې د ځای پر خای شوو چاودیدونکو وسیلو تاکتیکونه شامل دي). ددغو تاکتیکونو په اړه په لاندنۍ برخه کې بحث شوی دی.

[۸۸] په ۲۰۱۲ کال کې یوناما ۲۵۳۱ ملکی تلفات( ۸۶۸ ملکي وژنې او ۱۶۶۳ ټپي کېدنې) چې د ځاي پر خاي شوو چاودیدونکو توکو له امله رامنځته شوي دي ثبت کړي دي.

د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو وسیلو د لارې د ملکی تلفاتو زیاتوالی په بې توپیره او غیر متناسبه ډول د دولت ضد عناصرو له خوا د دغو وسیلو د کارولو په نتیجه کې را منځته شوی دی. د دې سربېره په ځانګړې ډول د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو وسیلو په عمدي توګه کارول زیاته اندېښنه را منځته کړی. په بې توپیره او نا متناسبه ډول بریدونه او هغه بریدونه چې په کې په عمدي توګه ملکي نفوس او ملکیان تر هدف لاندې راغلي وي د بشر پالنې د نړیوال قانون څخه جدي سرغړونه ده او په ټولو حالتونو کې ممنوع دي.[٨٩]

د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې یوناما ګڼه شمېره کې داسې پېښې مستندې کړې دي چې د دولت ضد عناصرو په کې د ځاي پر ځاي شویو چاودیدنکو وسیلو څخه کار اخیستی دی او په عمدي توګه یې ملکیان هدف ګرځولي[٩٠] چې په هغو کې ملکي دولتي مامورین ، قومي مشران ، دیني عالمان او د ټاکنو کار کونکي شامل دي. د بېلګې په ډول د سپټمبر په درېیمه نېټه دوه ځاي پر ځاي شوې چاودیدونکي وسیلې د بدخشان د ولایت د فیض اباد د ښاروال د موټرو د کتارپه وړاندې و چاودیدلې چې له امله یې څلور تنه ساتونکي و وژل شول او دوه نور ټپیان شول. طالبانو د دغه برید مسوولیت منلی دی.

په بې توپیره توګه د بریدونو په اړه یوناما دې ته ادامه ورکوي چې د هغو پېښو پخلی وکړي چې په کې د دولت ضد عناصر ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکې وسیلې ښخوي او یا هم ورڅخه په هغو محلاتو کې کار اخلي چې هغه نیغ په نیغه نظامي هدفونه نه دي ، او ځاي پرځاي شوي چاودیدونکي وسیلې په داسې ډول او ځای کې کاروي چیرته چې د چاودیدونکې وسیلې د چاودنې اغیزې محدودې نه شي پاتې کېدلای. یو ناما د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو وسیلو د چاودونو زیاتې داسی پېښې مستندې کړې دي چې په مارکیټونو ، عامو سړکونو او نورو عامه ځایونو کې چې هلته ملکیان تګ راتګ کوي تر سره شوي دي.[٩١] د بېلګې په ډول د اکتوبر په ۲۴ نېټه د پکتیا د ولایت د جاني خیلو په ولسوالۍ کې د سړک د غاړې ښخ شوې چاودیدونکې وسیله په یوه تراکتور وچاودیدله چې په پایله کې یې دوه ملکیان و وژل شول او نور دوه یې ټپیان کړل.

یوناما د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو توکو د نا متناسبه بریدونو ګڼ شمېر پېښې ثبتې کړې دي ، په تېره بیا له مخابری څخه کنترول شوي ځای پر ځاي کړای شوي چاودېدونکي توکي چې په کې ملکیانو ته له اندازې زیات زیان اوښتي — باید دهغه چا له خوا چې دغه توکي کاروي په معقول ډول سنجش شوي وي — چې له برید څخه د نظامي مستقیمو او مشخصو بریاوو په پرتله زیات و. د بېلګې په ډول د جون د میاشتې په ۲۷ نېټه د دولت ضد عناصرو له لېرې څخه کنترول شوي ځاي پر ځای کړای شوي چاودیدونکي توکي د لغمان د ولایت د مهترلام په ولسوالۍ کې د یوه شخصي موټر په وړاندې چې موخه یې د محلي پولیسو قوماندان و وچول. د دغه برید په پایله کې څلور ملکیان چې په کې د قوماندان زامن هم شامل وو و وژل شول او یو ملکي کس ټپي شو. په دغه برید کې یو تن ملکی پولیس هم و وژل شو او د محلي پولیسو قوماندان ته تاوان وانه اوښت.

د بشر پالنې نړیوال قانون چې د هغه په رعایتولو د دولت ضد عناصر هم مکلف دي بې توپیره او نا متناسبه بریدونه او هغه بریدونه چې په کې په عمدي ډول ملکي وګړي هدف ګرځول کیږي منع کوي. دغه ډول اعمال کیدلای شي د جنګي جرمونو په لړ کې وشمېرل شي.

## له لېرې څخه د کنترول شویو (مخابری سره کنترول) او قوماندې سره فعالیدونکو ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو له امله ملکي تلفاتو کې پرلپسې زیاتوالی

د تیورۍ له مخې څرنګه چې د قوماندې- د لارې فعالیدونکي ځاي پر ځآي شوي چاودیدونکي توکي (له لېرې څخه کنترولیدونکي) له لېرې واټن څخه فعالیږي او کولای شي چې فعالونکو ته د دې امکان ورکړي چې له وړاندې څخه ځاي پر ځاي کړای شوې وسیله په لنډ وخت کې کله چې هدف موخه ییزې ساحې[٩٢] ته داخلیږي وچوي ، د ځاي پر ځاي شویو

[٨٩] د ژنیو د کنوانسیونونو مشترکه درېیمه ماده او د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ نیټې د ژنیو د کنوانسیون او په غیرو نړیوالو وسله والو شخړو کې د قربانیانو د محافظت په اړوند دوهم الحاقي پروتوکول ۱۳ ماده وګورئ .

[٩٠] له هغه ځایه چې د ملکي وګړو په قصدي توګه هدف ګرځول د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې ممنوع دي د ځاي پر خاي شوو چاودیدونکو توکو په بې توپیره توګه د کارولو خصلت د هغو د غیر متناسبه اغیزو سره یوځای د دغه تاکتیک ثقلت لا هم زیاتوي.

[٩١] د دولت ضد عناصر ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي وسیلې په تېره هغه یې چې په کې د فشار په ذریعه د چاودیدنکې وسیلې د ماشې تجهیز موجود وي په ترانزیتي لارو د پیاده کوچنیو لارو څخه واخله تر سترو لارو پورې راځي او د کارونې له امله یې که ملکي وګړي پیاده وي ، یا پر بایسکل یا هم بسونو ، ټکسي ګانو او یا شخصي موټرو کې سپاره وي مړه او یا هم ټپي کیږي.

[٩٢] د کوچنیو وسلو سروې "ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکی توکي" ، ۱۰ څپرکی ، مهلکه ماشینونه ؛ ۲۲۰/۲۲۱ مخ.

چاودیدونکو توکو استعمال کې کیدلای شي د ځینو داسې فکټورونو له مخې لکه په مناسب ډول د وسیلې فعالول او په کې د ټولو ممکنه احتیاطي تدابیرو څخه کار اخیستل کولای شي چې د ملکي وګړو ژوند وژغوري او په دې توګه د ملکي وګړو د تلفاتو په شمیره کې کمښت را شي.

په ۲۰۱۳ کال کې د لیرې څخه د کنترول شویو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو د کارولو له امله ملکي تلفاتو کې ۷۴ سلنه ډیروالي سره یوناما ډیره اندیښمنه ده . یوناما له لیرې څخه د کنترول شویو ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو توکو ۳۵۶ جلا جلا بریدونه مستند کړي دي چې د دولت ضد عناصرو له خوا ترسره شوي دي او په پایله کې ۱۱۴۹ تنه ملکي تلفات (۲۵۷ ملکیان مړه او ۸۹۲ تنه ټپي) رامنځته شول چې د ۲۰۱۲ [۹۳] کال په پرتله ۸۴ سلنه زیاتوالی ښرګندوي. له لیرې څخه کنترول شوي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکو د ټولو ملکي تلفاتو ۲۴ سلنه او د ځاي پر ځاي کړای شوو چاودیدونکو توکو په دغه کال کې د ټولو ملکي تلفاتو۱۳سلنه تشکیلوي.

## له لیرې څخه د کنترول شویو ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو تو کو په بریدونو کې د افغان اونړیوالو امنیتي ځواکونو هدف ګرځول

د یوناما له خوا له لیرې څخه د کنترول شویو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو دهرې پیښې چې په کې ملکي تلفات رامنځته شوي دي د تصدیق کولو په جریان کې همیشه د افغان امنیتي ځواکونو سره په تېره بیا د ملي امنیت د ریاست او د چاودیدونکو مهماتو د خنثی کولو د ټیمونو سره د کارول شوې وسیلې د نوعیت په اړوند مشورې کړي دي. د دغو منابعو په حواله له لیرې څخه د کنترول شویو ځاي پرځاي شویو چاودیدونکو توکو د۳۵۶ ثبت شویو بریدونو له جملې څخه چې په ۲۰۱۳ کال کې ترسره شوي دي په ۱۷۳ کې یې افغان ملي پولیس ، ۳۳ کې یې سیمه ییز پولیس ، ۲۴ کې یې افغان ملي سرحدي پولیس ، ۱۶ کې یې افغان ملي اردو ، پنځوو کې یې د ملي امنیت کارکوونکي تر بریدونو لاندې راغلي دي ، دریو نورو کې یې افغان ملي امنیتي ځواکونه او څلورو کې یې نړیوال امنیتي ځواکونه هدف ګرځیدلي دي.[۹۴]

یوناما داسې پیښې مستندې کړي دي چې په کې د دولت ضد عناصرو دولت پلوه ځواکونه له لیرې څخه د کنترول شویو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو په وسیله هدف ګرځولي دي چې د هغو په ترڅ کې د نظامي تلفاتو سربیره ملکي تلفات هم را منځته شوي دي. یوناما ۶۱۸ ملکي تلفات (۱۲۲ ملکي مړینې او ۴۹۶ ټپي کېدنې) چې له لیرې څخه د کنترول شویو ځاي پرځای شویو چاودیدونکو توکو د ۱۷۸ بریدونو پر مهال په کې افغان ملي پولیس موخه ګرځیدلي دي ثبت کړي دي. د دغو تلفاتو ډیری یې په داسې پیښو کې راغلي دي کله چې وسیله په عامه ځاي کې چاودیدلې ده او هغسې چې فکر کیدلو نه ده فعاله شوې (د هغې د نصبولو موخه نظامي هدف و خو هغه د وخت وړاندې منفجره شوې او یا هم داچې وروسته له هغې چې نظامي کتار تیر شوی چاودلې ، په دې سره وګړي او یا هم هغه ساحې زیانمنې شوي دي چې له وړاندې څخه هغه موخه نه وې) او یا هم په کې افغان ملي پولیس تر برید لاندې راغلي دي چې یواځې د ملکي قانون د تنفیذ په چارو کې بوخت و ، لکه د ترافیک پولیس او یا هغه پولیس چې رسما په دنده کې نه وو.

یوناما له لیرې څخه د کنترول شویو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو وسیلو د لارې ګنه شمیره کې پیښې ثبتې کړي دي چې په هغو کې د افغان سیمه ییز پولیسو په وړاندې په بریدونو کې چې له لیرې څخه د کنترول شویو ځای پرځاي شویو چاودیدونکو وسیلو د لارې شوي دي دهغو په ۳۳ بریدونو کې ۲۷ ملکیان وژل شوي او دوه اتیا [۹۵] ژوبل شوي دي. د بېلګې په ډول د ۲۰۱۳ کال د جولای په ۲۸ نېټه د زابل د ولایت د شاجوی په لسوالی کې له لیرې څخه کنترول شوې ځاي پر ځاي شوې چاودیدونکې وسیله د افغان سیمه ییز پولیسو د نقلیه وسیلې پر ضد د ملکي وګړو د ګڼې ګونې په ځاي کې

[۹۳] یوناما یوازې هغه پیښې مستند کوي چې ملکي تلفات رامنځته کوي.

[۹۴] د ملکی تلفاتو ارقام چې له لیری څخه د کنترول شویو ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو له امله رامنځته کیږي هغو کې د ملی اردو او افغان محلی پولیسو ځواکونه ملکیان نه ګڼل کیږي او د ملکیانو په ډله کې نه دی شامل او یا نور امنیتی ځواکونه چې په مستقیم ډول د برید په وخت کې په شخړو کې ښکیل وي او وژل شوي یا ټپي شوی وی ملکیان نه حسابیږي.

[۹۵] د افغان سیمه ییزو پولیسو مړینې او ټپي کېدنې د یوناما له خوا د ملکي تلفاتو په ارقامو کې نه دي راغلي. که څه هم افغان سیمه ییز پولیس د کورنیو چارو د وزارت تر قوماندې لاندې دي ، خو افغان سیمه ییز پولیس د افغان امنیتي ځواکونو یوه موجوده برخه ګڼل کیږي ځکه چې د هغوي د دندې له کبله ده او هغوي ته هغسې محافظت چې نور ملکي وګړو ته د بشر پالنې په نړیوال قانون کې په پام کې نیول شوی دی دوي ته نه دی حاصل.

وچاودیدله چې شپږ ملکي کسان یې و وژل او نور ۱۸ تنه یې ټپیان کړل چې په هغو کې پنځه تنه ماشومان اونور ۱۳ تنه نارینه شامل وو. د ملکي وګړو د تلفاتو سربېره په دغه پیښه کې اوه تنه سیمه ییز پولیس هم و وژل شول.

یوناما له لېرې څخه د کنترول شویو ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو توکو د کاروني په اړه ډیره اندیښنه په ډاکه کوي چې په هغه کې افغان امنیتي ځواکونه هدف ګرځول کیږي خو په ځانګړی ډول دغه وسیلي چې په عامه ځایونو کې چاودول کیږي نو غیر متناسب ډول زیان اړوي. د بېلګې په توګه د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر په ۱۵ نیټه له لېرې څخه کنترول شوې ځاي پر ځاي شوې چاودیدونکې وسیله چې افغان ملي پولیس یې په نښه کړي وو د هرات د ولایت د پښتون زرغون د ولسوالۍ په مرکزکې په یوه ګڼ مېشته سیمه کې وچاودیدله چې یوه ۱۵ کله نجلۍ یې و وژله او نور یولس ملکیان یې چې په هغو کې څلور ماشومان او یو تن ملي پولیس شامل وو ټپیان کړل . دغه وسیله هغه مهال وچاودیدله کله چې قربانیان د اختر له لمانځه څخه راستنیدل.

د شخړې د ټولو اړخونو څخه غوښتل کیږي چې باید د تناسب اصل په پام کې ونیسي. په داسې حال کې چې له لېرې څخه کنترول شوې ځاي پر ځای شوې چاودیدونکې وسیله کیدلای شي چې په لا زیات دقیق ډول نظامي موخې هدف وګرځوي ،او د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې اپریتر په دې مکلف دی چې د عملیاتو پر مهال " ضمني تاوان" تر حد اقل اندازې پورې را کم کړي او یایې مخنیوی وکړي او له هغو بریدونو څخه ډډه وکړي چې کولای شي په نا متناسب ډول ملکیانو او ملکي تاسیساتو ته زیان اړوي.

له لېرې څخه د کنترول شویو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو له امله په زیاتو پیښو کې ملکي تلفات افغان امنیتي ځواکونو او د استخباراتو چارواکو داسې ارزولې دي: د دولت ضد عناصر له لېرې څخه کنترول شوي چاودیدونکي توکي د دې لپاره ځاي پرځاي کړي چې افغان نظامي ځواکونه په نښه کړي خو دغه وسیله په هغه مهال نه ده منفجره شوې چې دوي یې پلان درلود چې بیا د ملکي تلفاتو لامل شوې ده. د بېلګې په ډول د ۲۰۱۳ کال د ډسمبر په ۷ نیټه له لېرې څخه کنترول شویو ځای پر ځاي شویو د چاودیدونکو توکو یوه وسیله چې په کې افغان نظامي ځواکونه په نښه شوي وو د بغلان د ولایت د تالا وبرفک د ولسوالۍ په ګڼ مېشته سیمه کې وچاودېدله چې یو ۱۳ کلن هلک یې و واژه او نور څلور ملکیان چې په کې درې تنه د ۱۲ او ۱۴ کالونو ماشومان شامل وو ژوبل کړل.

## له لېرې څخه د کنترول شویو ځای پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو هغه بریدونه چې په کې په عمدي ډول ملکیان په نښه کیږي

یوناما له لېرې څخه د کنترول شویو ځای پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو ۷۲ بریدونه ثبت کړي دي چې په کې په مستقیم ډول ملکیان یانې دولتي ملکي مامورین ، د روغتیا پالنې پرسونل ، قومي مشران ، ورځنې اجوری قراردادیان او د ساختمان کار کوونکي ، تعلیمي مرکزونه او ښوونکي ، د ټاکنو کار کوونکي تر برید لاندې راغلي دي.

یو ناما همدارنګه له لېرې څخه د کنترول شویو ځای پر ځایو شویو چاودیدونکو توکو څلور پیښې ثبتې کړي دي چې په هغو کې د ټاکنو کار کوونکي هدف ګرځیدلي دي. د بېلګې په ډول د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر په ۲۱ نیټه له لېرې څخه کنترول شوي ځای پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رایه ورکوونکو د ثبت د ګرځنده ټیم د سپرلۍ د وسیلې په وړاندې وچاودول شول چې د بغلان د ولایت د دوشي په ولسوالۍ کې په حرکت کې وه ، په دغه برید کې د ملي پولیسو دوه منسوبین چې دغه کتار یې بدرګه کولو و وژل شول او څلور نور ټپیان شول. طالبانو د دغه برید پړه پر غاړه واخیستله.

یوناما له لېرې څخه د کنترول شویو ځای پرځایو شویو چاودیدونکو توکو د اسې بریدونه مستند کړي چې هدف یې د دولت ملکي پلویان وو. د فبرورۍ په ۵ نیټه له لېرې څخه کنترول شوي ځای پر ځایی شوي چاودیدونکي توکی چې د فاریاب د ولایت د خواجه سبز پوش په ولسوالۍ کې په دیګ بخار کې ځاي شوی و وچاودید او په نتیجه کې یې څلور ملکیان و وژل شول او ۱۹ نور په کې ټپیان شول چې دوه یې د ۱۱ او ۱۲ کلونو ماشومان وو. د محلي چارواکو د وینا له مخې د دولت ضد عناصرو دغه برید د ۱۵ تنو متنفذو مشرانو پر خلاف پلان کړی وو کوم چې په رستورانت کې را ټول وو او د دولت پیژندلي پلویان وو.

یوناما له لېږې څخه د کنترول شویو ځای پر ځایو شویو چاودیدونکو توکو ۱۶ داسې پېښې ثبتې کړي دي چې هدف یې معلوم نه و. د بېلګې په ډول د جولای په ۲۰ نېټه د دولت ضد عناصرو د پکتیا د ولایت د سید کرم په ولسوالۍ کې له لېږې څخه کنترول شوی ځای پر ځاي شوي چاودیدونکی توکی چې په کثافات دانۍ کې یې ایښی و وچولو چې پنځه ملکیان یې د یو تن لس کلن هلک په شمول و وژل او ۱۲ نور یې ټپیان کړل.

له لېږې څخه د کنترول شویو ځای پر ځایو شویو چاودیدونکو توکو د ملکي تلفاتو نورې بېلګې:

- د فبرورۍ په ۲۷ نېټه له لېږې څخه د کنترول شویو ځای پر ځایو شویو چاودیدونکو توکو یوه وسیله د ننګرهار د ولایت د شینوارو په ولسوالۍ کې وچاودېدله چې یو تن قومي مشر یې چې په مار کیټ کې ګرځېدلو و وژلو او د درې تنه دکاندارانو او یو ډرایور په شمول شپږ تنه نور یې ټپیان کړل.
- د اګست په ۱۲ نېټه د کندهار په ښار کې له لېږې څخه د کنترول شویو ځای پر ځایو شویو چاودیدونکو توکو یوه وسیله چې د یوې هدیرې په خوا وشا کې ځای پر ځای شوې وه وچاودېدله او دوه تنه ملکیان یې چې په کې د ولسوالۍ د محلي شورا یو تن غړي شامل و و وژل او نور درې تنه ملکیان یې ټپیان کړل.
- د سپتمبر په ۶ نېټه له لېږې څخه د کنترول شویو ځای پر ځایو شویو چاودیدونکو توکو یوه وسیله د کندز ولایت د خان اباد په ولسوالۍ کې وچاودیدله چې د ښوونځي یو سر ښوونکی یې و وژلو. د هغه ځاي محلي وګړو دغه پیښه په دولت پلوه یوې وسله والې ډلې پورې چې په زیات ګومان سره د ولایتي محلي زور واکانو سره یې تړاو درلود منسوبه کړه.

### د فشار په ذریعه د چاودیدونکو وسیلو له امله د ملکي تلفاتو په شمېره کې کمښت

له لېږې څخه د کنترول شویو ځای پر ځایو شویو چاودیدونکو توکو په بریدونو کې زیاتوالی چې د ملکي تلفاتو لامل کیږي د هغه کمښت سره اړیکه لري چې د دولت ضد عناصرو له خوا د قرباني د تماس سره فعالیدونکي توکي چې په هغو کې د فشار په ذریعه فعالیدونکي ، د سیم د لارې د چاودنې وړ ځاي پر ځاي شوی چاودیدونکي توکي او د قرباني د تماس سره د فعالیدونکو د نورو توکو په ډولونو کې لیدل کیږي. یوناما ۵۵۷ ملکي تلفات (۲۴۵ مړینې ، او ۳۱۲ ژوبلې) د فشار په ذریعه د چاودېدونکو وسیلو په پایله د ملکي وګړو د تګ راتګ په سیمو کې ثبت کړي دي چې دا د ۲۰۱۲[۹۶] کال په پرتله ۳۹ سلنه کمښت په ډاګه کوي.

په داسې حال کې چې د دې کمښت هرکلی کیږي ، په ۲۰۱۳ کال کې د فشار په ذریعه د چاودیدونکي توکو د بریدونو انساني بیه لاهم لوړه ده. د فشار په ذریعه چاودیدونکي توکي په بې توپیره ډول په عامه ځایونو کې لکه سړکونه ، مارکیټونه ، دولتي دفترونه ، د عامه غونډو ځایونه چې په کې بازارونه او ښوونځیودننه او د باندې ، دوکانونه او د بس سټیشنونه چې هغه په عمومي صورت د ملکیانو له خوا کارول کیږي چاودول شوي دي.

د دولت ضد عناصرو له خوا په ترانزیت لارو چې په کې کوچنۍ پیاده لارې او سترې لارې شاملې دي ایښودل شوي چاودیدونکي توکي په تېره بیا هغه چې د فشار په ذریعه د چاودیدونکو توکو په وسیله مجهز شوي دي هغه ملکیان یې وژلي او ټپي کړي دي چې یا خو هغوي په لاره روان وو ، پر بایسکل سپاره او یا هم په بسونو ، ټکسي ګانو او شخصی موټرو کې سپاره وو. د بېلګې په ډول د اکتوبر په ۲۷ نېټه د فشار په ذریعه چاودیدونکي توکي د غزني ولایت د اندړو په ولسوالۍ کې د یوې ملکي نقلیه وسیلې په وړاندې وچاودیدلو چې له امله یې ۱۹ ملکیان و وژل شول چې په هغو کې ۱۵ ښځې او نجونې او یو ماشوم هلک شامل وو ، په دغه پیښه کې څلور تنه ښځې ټپي شولې. دغه قربانیان د یوه واده مراسمو ته په لاره وو.

د فشار په ذریعه چاودیدونکي توکي په افغانستان کې په عام ډول داسې ایښودل کیږي چې هغه مهال وچول شي چې د هدف لاندې کسان پرې روان وي او یا هم د هغوي له پاسه نقلیه وسیله په حرکت کې وي او د اټکل له مخې د ۲۰-۲۵ کلوګرام پورې چاودیدونکي مواد لري ؛ چې دا د ټانک ضد د یوه معیاري ماین څخه دوه برابره زیات منفلقه مواد لري خو ماشه یې د پرسونل ضد ماین څخه زیاته حساسه وي. دا په دې مانا ده چې د فشار په ذریعه دچاودیدونکي توکي ظرفیت او

---

[۹۶] په ۲۰۱۲ کال کې یوناما ۹۱۳ ملکي تلفات ( ۳۹۳ ملکي مړینې او ۵۲۰ ټپي کېدنې ) د فشار په ذریعه چې د چاودیدونکو وسیلو په پایله کې رامنځ ته شوی وو ثبت کړی دي .

زور د پرسونل ضد ځمکني ماين څخه زيات دی او د دې ظرفيت او زور لري چې يوه عراده ټانک ويجاړ کړي ، هغه ملکيان چې په دغو ماينونو قدم ږدي او يا په دغو ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو باندې په نقليه وسيله کې تيرېږي د دې په وړاندې هيڅ ډول دفاع نه لري او د ژغورنې ډير لږ امکان لري. په ۲۰۱۳ کال کې په زياته پيمانه کې ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي موندل شوي دي چې د چاودنې وزن يې ۲-۴ کلوګرامو ته رسيږي او په ځانګړي ډول داسې ډيزاين شوي دي چې هغه کسان چې پلي [۹۷] روان وي ټپي او يا هم و وژني.

د فشار په ذريعه د چاوديدونکو توکود بريدونو له امله د ملکي تلفاتو نورمثالونه:

- د جولای په ۳ نېټه د فارياب د ولايت د پشتون کوټ په ولسوالۍ کې د فشار په ذريعه چاوديدونکې وسيله د يوې کورنۍ دغړو په وړاندې چې د خرو په سپرلۍ د جنازې په مراسمو کې د ګډون لپاره په لاره وو و چول شوه چې په نتيجه کې يې څلور ښځې و وژل شوې او يو تن نارينه په کې ټپی شو.
- د اګست په ۷ نيټه د فراه د ولايت د بکوا په ولسوالۍ کې يو ه عراده ملکي نقليه وسيله د فشار په ذريعه د چاوديدونکي وسيلې سره چې دسړک په غاړه ځاي پرځاي شوې وه په تصادم کې شوه او په پايله کې يې پنځه ملکيان و وژل شول چې په کې دوه ميرمنې ، دوه ماشومان او يو تن ډرايور شامل وو.
- د نومبر په ۱۰ نيټه يوه ملکي نقليه وسيله چې ښځې او ماشومان يې لېږدول د سړک د غاړې د فشار په ذريعه د چاوديدونکې وسيلې باندی د زابل ولايت د قلات په ولسوالۍ کې وختله چې له امله يې د پنځه ښځو ، دوه ماشومانو او يو ډرايور په شمول اته ملکيان ووژل.
- د ډسمبر په ۲۹ نيټه يوه ملکي نقليه وسيله چې د واده مراسمو ته په لاره وه د کندهار د ولايت د ميوند په ولسوالۍ کې د سړک د غاړې د فشار په ذريعه د چاوديدونکي وسيلې باندی وختله چې يوه نهه کلنه نجلۍ او يو ۱۳ کلن هلک يې و وژل او نور آته تنه ملکيان يې ټپيان کړل چې په هغوکې څلور ماشومان شامل وو.

## د ځای پر ځاي کړای شويو چاوديدونکو وسيلو سره مقابله او د ځاي پر ځاي شوو چاوديدونکو وسيلو خنثی کول

د ۲۰۱۳ کال په اوږدوکې ځاي پر ځاي شوو چاوديدونکوتوکو د نورو ټولو تاکتيکونو په پرتله زيات ماشومان ، ښځې ، او نارينه وژلي دي او افغان امنيتي ځواکونو يې د ستر ګواښ سره مخ کړي. د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو د ګواښ سره مقابله د ملکي وګړو د ساتنې او په افغانستان کې د امنيت د را وستلو لپاره اهميت لري. په ۲۰۱۳ کال کې د افغانستان امنيتي ځواکونو او ايساف خپلوهلو ځلوته ادامه ورکړې څو چې د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو سره د مقابلې ملي ظرفيت[۹۸] د ځاي پر ځاي شوو چاوديدونکو توکو سره د مقابلې د ملي ستراتيژۍ [۹۹] د لارې تقويه کړي. دغو لاسته را وړنو يو قوي بنسټ رامنځته کړی دی څو چې د ځاي پر ځاي شوو چاوديدونکو توکو سره د مقابلې ملي ظرفيت تقويه کړي . افغان ملي امنيتي ځواکونو د ځاي پر ځاي شوو چاوديدونکو توکوپرضد خپل عمومي ظرفيت ښه کړی خو لا هم هلو ځلو ته اړتيا ده څو چې د مناسبو نظامي جوړښتونو په چوکاټ کې د ځاي پر ځاي شوو چاوديدونکو توکو ضد عمليات ځانته موسساتي شکل غوره کړي.[۱۰۰]

د دې لپاره چې د ملکي وګړو ساتنه وشي اود افغانستان امنيت پايداره شي نو دا خورا اهميت لري چې نړيواله ټولنه — په تېره بيا نړيوال نظامي ځواکونه — دواړه بايد د ځاي پر ځاي شوو چاوديدونکو توکوسره د مبارزې لازم ظرفيت او تخنيکي ملاتړ نظامي ځواکونو ته ولېږدوي او د حکومت د ځاي پر ځاي شوو چاوديدونکو توکو سره د مبارزې د هلو ځلوسره پايداره او اوږد مهاله ملاتړ ولري.

---

[۹۷] د ايساف د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکوتوکو د خنثی کولو د دفتر سره د يوناما مرکه ، د ۲۰۱۳ کال د مۍ مياشت ، دايساف قرار ګاه ،کابل.

[۹۸] په وسله واله جګړه کې د ملکيانو د ساتنې په اړه د يوناما د کال د نيمايي راپور و ګورئ ؛۴۵ — ۵۰ مخونه ، په:
Http://unama.unmissions.org/Link Click.aspx?fileticket=EZoxNuqDtps%3D&tabid=1225&language=en-US.

[۹۹] په ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۴ نېټه کې د افغانستان د امنيت شورا د ځاي پر خاي شوو چاوديدونکو توکو د خنثی کولو ملي ستراتيژي تصويب کړه چې موخه يې د دغه ډول عملياتو لپاره د ملي امنيتي واحدونو دعملياتو همغږي کول وو.

[۱۰۰] د هغو بحثونو په ترڅ کې چې د يوناما له خوا د کورنيو چارو ، د ملي دفاع د وزارتونو او ايساف سره د ځاي پر ځاي شوو چاوديدونکو توکو د خنثی کولو لپاره د ظرفيت په اړه وشول ، امنيتي ارګانونو په پرلپسې ډول ( که څه هم هميشه په عامه ډول نه) خپل نظر په دې اړه شريک کړ چې امنيتي ځواکونه دوامداره او زياتو مرستو ته اړتيا لري څو چې په اغيزمن ډول د ځاي پر ځاي شوو چاوديدونکو توکو د تهديد مخنيوی وکړي.

دا یقیني نه ده چې د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې د هڅو لپاره به نړیواله ټولنه په ۲۰۱۴ کال کې او تر هغه وروسته کومې زیرمې او تخنیکي ملاتړ افغان حکومت ته برابر کړي ، ځکه چې ایساف د یوناما د غوښتنو په وړاندې نور معلومات نه دي وړاندې کړي. د افغان ملکي وګړو په وړاندې د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو توکو زیاتېدونکی تهدید او په ۲۰۱۴ کال په افغانستان کې د نا امنۍ په اړه د زیاتېدونکو اندیښنو په یادولو سره یوناما پخپلو هغو وړاندېزونو باندې ټینګار کوي چې د افغانستان د حکومت سره د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو توکو سره د مقابلې په لړ کې خپل ملاتړ ته دوام ورکړي او لا نور یې هم زیات کړي.

## ځانمرګي او ډله ییز بریدونه [101]

په ۲۰۱۳ کال کې په ۷۳ ځانمرګو او پیچلو بریدونوکې یو ناما ۱۲۳۶ ملکي تلفات (۲۵۵ مړه او ۹۸۱ تنه ټپیان) ثبت کړي دي. دا د ۲۰۱۲ [102] کال په پرتله د همدغه تاکتیک له مخې په ملکي تلفاتو کې ۱۸ سلنه کموالی ښکاره شوی دی ، خو د دغه ډول بریدونو شمېر چې (۷۲) دی د ۲۰۱۲ کال په څېر دی. د ملکي تلفاتو ارقام چې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله رامنځته کیږي په هغو کې د هدفي وژنو څخه رامنځته شوي ملکي تلفات چې په کې د لومړنی تاکتیک په توګه د ځانمرګې وسیلې څخه کار اخیستل کیږي ، شامل نه دي.[103]

یوناما په تېره بیا د ډله ییزو د ترسره کولو له امله چې د ملکي محوطو او تاسیساتو په وړاندې کیږي خپله اندېښنه څرګندوي. د مثال په توګه طالبانو د هغه پیچلي برید مسوولیت پر غاړه واخیست چې د هرات په ښار کې د سپتمبر په ۱۳ نیټه د امریکې د متحده ایالاتو پر قونسلګرۍ یې ترسره کړ چې په هغه کې اته ملکي وګړي و وژل شول او نور ۵۳ تنه ټپیان شول چې په کې نهه تنه یې ماشومان وو. د ټپیانو زیاتره یې هغه مهال زخمي شول چې په نږدې سیمه کې پخپلو کورونو کې وو.

هغه پیچلي بریدونه چې د نظامي هدفونو په مقابل کې ادامه لري هغه په نا متناسب ډول ملکي ټولنو ته د تاوان لامل کیږي. د مثال په ډول د اګست په ۲۸ نیټه طالبانو د غزني د ولایت د غزني په ښار کې د ولایتي بیا رغونې ټیم مرکز په نقلیه وسیله کې د ځاي پرځاي کړاي شوې چاودیدونکې وسیلې په ذریعه ، ار پي جی (یا د راکټ د لاري ګوزاریدونکی بم) اود کوچنیو وسلو په ډزوسره تر برید لاندې راوست چې د هغه په پایله کې ستره چاودنه وشوه او درنو ډزو دوام درلود. د دغه برید له امله نهه تنه ملکیان و وژل شول چې په کې یو ماشوم شامل و او نور ۳۸ تنه ملکیان ټپیان شول چې اته یې نجونې ، څلور یې هلکان او دوه یې میرمنې وې. یوناما په دی پېښه کې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د یوه تن مړینه هم تاید کړې ده.

ځانمرګي بریدونه د هغو ډولونو څخه چې د منفردواشخاصو له خوا چې یا خو هغه واسکټونه په تن کوي او یا هم هغه نقلیه وسیلې چوي چې په کې چاودیدونکي توکي ځاي پر ځاي شوي وي او یاهم هغه ګڼ شمېر ځانمرګي بم چونکي دي چې پیچلي بریدونه تر سره کوي چې زیات شمېر جنګیالي په کې شامل وي.

د دولت ضد عناصر د بېلابېلو ځانمرګو بریدونو څخه کار اخلي چې د هغو په ترڅ کې ملکیان په عامه ځایونو لکه د ګڼې ګونې په مارکېټونو او داسې ځایونو کې چیرته چې قومي مشران راغونډیږي او یا هم هغه ملکي دولتي دفترونه وي هدف ګرځوی.د ملکیانو هدف ګرځول د تشخیص د نړیوال اصل څخه سرغړاوی دی.

د مثال په ډول د اګست په دریېمه نیټه د ځانمرګو بریدګرو یوې ډلې چې په نقلیه وسیله کې یې ځاي پر ځاي شوې چاودیدونکې توکي درلودل د ننګرهار د ولایت د جلال اباد په ښار کې د هند د قونسلګرۍ د باندې د پولیسو د کنټرول یوه

---


[101] یوناما د " ډله ییز" برید تعریف داسې کوي چې دا یو عمدي او همغږی شوی برید دی چې په کې یوه ځانمرګې وسیله ( لکه په ځان پورې تړلي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي ، په موټر کې ځاي پرځاي شوي چاودیدونکي توکي ) ، شامله وي ، او په کې د یوه څخه زیات بریدګر او دیوې څخه زیاتې وسیلې وي ( یانې په ځان پورې تړلي ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي + هاوانونه). ټول درې واړه عناصر باید د یوه برید لپاره موجود وي چې هغه ته ډله ییز یا کامپلکس برید و ویل شي.

[102] په ۲۰۱۲ کال کې یوناما د ۷۲ ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې ۱۵۱۰ ملکي تلفات( ۳۲۸ ملکي وژنې او ۱۱۸۲ ټپي کېدنې) ثبت کړي دي.

[103] لکه چې یوناما هر ملکي تلفات یواځې یوځل مستنده کړي دي ، د ملکي تلفاتو واقعي شمیره د ځانمرګوبریدونو له امله لوړه ده. د بېلګې په ډول هغه پیښې چې په کې یو ځانمرګی بریدګر د دولت لوړ پوړی چارواکی تر برید لاندې نیسي او یا هم د یوه جومات دننه چاودنه کوي دغه به د یوې " هدفي وژنې" د پیښې په توګه ثبت کیږی چې په کې د ، ، ځاي پر خاي شوو چاودیدونکو توکو ، ، څخه او یا ، ،هم ځانمرګي ، ، برید څخه کار اخیستل شوی دی. په ۲۰۱۳ کال کې یوناما د هدفي وژنو ۶۳ جلا جلا پیښې چې په کې د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو توکو دتاکتیک څخه کار اخیستل شوی دی او هدفي وژنې ترسره کړي مستندې کړي دي ، چې په پایله کې یې د ۱۱۸ ملکیانو وژنې او ۶۵ ټپي کېدنې ( ټولټال ۱۸۳ تلفات) رامنځته شوي دي.

پوسته یې تر برید لاندې راوستله او غوښتل یې چې قونسلګرۍ ته دننه شي.[۱۰۴] افغان ملي پولیسو په دغه نقلیه وسیله باندې ډزې پیل کړې او د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د دغې وسیلې ډرایور خپله نقلیه وسیله وچوله چې خپل ځان او نور دوه ځانمرګي بریدګر یې و وژل. دغې چاودنه کې نور لس تنه ملکیان و وژل شول چې په هغو کې اته تنه ماشومان هم شامل وو او نور ۲۳ تنه ملکیان یې چې په هغو کې ۱۲ ماشومان او درې ښځې شاملې وې ټپیان کړل. د قربانیانو ډیرى ماشومان وو چې نږدې جومات ته د اسلامي زده کړو لپاره په لاره وو ، او په نورو کې عام عبادت کوونکي ، دوکانداران ، او د سیمې اوسیدونکي شامل وو.

په عمدي اوقصدي ډول د ملکي وګړو هدف ګرځول او بې توپیره او بې تناسبه بریدونه د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې ممنوع دي او کیدلا یې شي چې په جنګي جرمونو کې وشمېرل شي.




په ۲۰۱۳ کال کې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو د پېښو نمونې:

- د اګست په ۲۸ نیټه د هلمند د ولایت د لشکر ګاه په ښار کې یوه ځانمرګي بریدګر چې په موټر کې یې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي درلودل هغه یې د ایساف د یوه کتار په وړاندې د ښاروالۍ د یوې ودانۍ تر څنګ وچول ، څلور تنه ملکیان یې و وژل او نور ۱۱ تنه یې چې په کې یوه ښځه او یو ماشوم شامل وو ټپیان کړل.
- د اګست په ۳۱ نیټه یوه ځانمرګي بریدګر د کندهار د ولایت د کندهار په ښار کې د کابل بانک تر مخې ځان منفجر کړ چې شپږ تنه ملکیان یې و وژل او ۱۰ تنه نور یې ټپیان کړل چې په کې دوه ماشومان شامل وو.
- د اکتوبر په ۱۲ نیټه یوه ځانمرګي بریدګر چې په موټر کې یې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي در لودل خپله وسیله یې د ننګرهارد ولایت د جلال اباد په ښار کې د افغان ملي پولیسو د قوماندانۍ په دروازه کې وچوله چې له امله یې څلور ملکیان و وژل شول چې په هغو کې دوه پلي کسان شامل وو او اوه تنه نوریې ټپي کړل.

---

[۱۰۴] یوناما ته دا معلومات برابر شوي دي چې د دغه برید په تعقیب د طالبانو یوه تن ویاند یو متن شوی پیغام د رسنیو په واک کې ورکړ چې په هغه کې یې په دغه برید کې د طالبانو ښکېلتیا رده کړه.

- د نومبر په ۱۶ نیټه په موټر کې ځاي پر ځاي شوې چاودیدونکې وسیله د کابل په ښار کې د لویې جرګې دایریدو ځای ته نږدې د موټرو په پارک ځاي کې منفجره شوه.[۱۰۵] دغه برید کې اته ملکیان ووژل شول چې په کې یو ۱۲ کلن ماشوم هم شامل و او نور ۲۲ تنه ټپیان شول. دغه چاودنه کې همدارنګه د افغان امنیتي ځواکونو شپږ تنه و وژل شول.
- د نومبر په ۲۰ نیټه یوه ځانمرګی بریدګر خپل واسکټ د کندهار د ولایت د کندهارپه ښار کې په یوه رستورانت کې منفجر کړ چې څلور ملکیان یې و وژل او نور ۲۲ تنه یې ټپیان کړل.

**د جنګي جرم په بڼه قتل: د ملکي وګړو هدفي وژنې**

*موړ پخپل موټر کې د بې وزلۍ په اړه بحث درلود ، کله چې د نارینه وو یوې ډلې چې پر موټر سایکلو سپاره وو ډرایور ته امر وکړ چې ودریږي. د وسله والو څخه یوه تن د موټر دننه وکتل او لږ څه وروسته هغوی پر موږ ډزې پیل کړې! زما په یاد نه دي چې هغوی څومره وخت زموږ پر لور ډزې کولې؛ کله چې ما سترګې خلاصې کړې ، ما ولیدل چې زما ټول ملګري د موټر په سیټونو مړه پراته دي. ما وکړای شو چې د موټر څخه را و وځم او د مرستې غږ مې وکړ. خو دا ډیر نا وخته و: یواځې زما د ملګرو یوتن ژوندی و ، خو هغه روغتون ته پر لاره وفات شو.*

-- فاریاب د ولایت د پښتون- کوټ په ولسوالۍ کې د نومبر په ۲۷ نیټه د طالبانو په برید کې یو تن پاتې شوی ژوندی کس چې د دغه برید په پایله کې هغه ټپي شو ، خو شپږ نور ملکیان و وژل شول.[۱۰۶]

په ۲۰۱۳ کال کې یوناما ۱۰۷۶ ملکي تلفات (۷۴۳ وژنې او ۳۳۳ ټپي کېدنې) د ۶۰۵ هدفي وژنو[۱۰۷] د پیښو په پایله کې[۱۰۸] د وسله والو ډلو له خوا تر سره شوي دي ثبت کړي دي. دا نږدې هغه شمېره ده چې په ۲۰۱۲ کال کې[۱۰۹] وه. د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو توکو د بریدونو او ځمکنیو نښتو وروسته هدفي وژنې په ۲۰۱۳کال کې د ملکي تلفاتو زیاته برخه جوړوي ، د هدفي وژنو زیاته شمېره (د ۷۴۳ څخه ۶۰۵) یې د دولت ضد عناصرو له خوا تر سره شوي دي.

د دولت ضد عناصردولتي مامورین ، هغه ملکیان چې د دولت لپارد جاسوسۍ تور پرې لګول کیږي ، د ټولنې مشران ، او د دندې څخه وتلي پولیس افسران او افغان ملي پولیس چې په بشپړه توګه د ملکي قانون د پیاده کولو دندې ترسره کوي تر هدف لاندې نیسي او وژني یې. په ډیری حالاتو کې طالبانو د دغو وژنو مسوولیت پخپلو عامه ویب پاڼو کې پر غاړه اخیستی دی.

هدفي وژنې په ختیځ کې زیاتې وې چې ټولټال ۱۸۴ پیښنو ته رسیږي ، په دې پسې جنوبي سیمه راځي چې هلته ۱۲۹ پیښنې شوې او په جنوب ختیځ کې ۹۶ پیښنې ، په شمال کې ۹۲ ، په غربي برخو کې ۵۸ په مرکزي سیمو کې ۴۹ پیښنې او په شمال ختیځ کې ۳۵ پیښنې رامنځته شوي دي. د یوناما د مالوماتو له مخې ننګرهار ولایت د هدفي وژنو زیاته شمېره لري ور پسې کندهار راځي چې په کې ۷۷ پیښنې او بیا کنړ دی چې ۶۷ دغه ډول پیښنې پکې رامنځته شوي دي.

---

[۱۰۵] په موټر کې ځاي پر ځاي شوې دغه چاودیدونکې وسیله د لویې جرګې د ځاي څخه نږدې د ۲۰۰ مترو په واټن کې وچاودیدله ، چې د جرګې په ځای کې افغان مشران د دې لپاره راټولېدل چې د امریکې د متحده ایالاتو سره اوږد مهاله امنیتي تړون ته رایه ورکړي.

[۱۰۶] د فاریاب د ولایت د میمنې په ښار کې د غیر دولتي موسسې د یوه تن کار کوونکي سره د یوناما مرکه ، د ۲۰۱۳ کال د ډسمبر ۳۱نېټه.


[۱۰۷] د ،هدفي وژنې ، لپاره د دې راپور حقوقي برخې ته مراجعه وکړئ. هدفي وژنې کېدلای شي د ګڼ شمیر وژنو او ټپي کېدنولامل شي په تېره بیا په داسې حالاتو کې چېرته چې بې توپیره تاکتیکونه لکه د ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکو توکو کارونه شامله وي . یوناما ټولې هغه ملکي مړینې او ټپي کېدنې چې د دغو پیښنو څخه په مستقیم ډول رامنځته کیږي د هدفي وژنې په څیر مستندې کوي.

[۱۰۸] د هدفي وژنو کټګورۍ کې همدارنګه هغه وژنې راځی چې په هغو کې موازي قضایي جوړښتونه ښکیل وي چې هلته یو شخص د وژنې پر مهال په فزیکي لحاظ د مجرم په حبس کې وي.

[۱۰۹] په ۲۰۱۲ کال کې یوناما ټول ۱۰۷۷ ملکي تلفات ( ۶۹۸ ملکي وژنې او ۳۷۹ ټپي کېدنې) چې د هدفي وژنو له امله وې مستند کړي دي. د یوناما د ۲۰۱۲ کالني راپور چې په وسله واله جګړه کې د ملکیانو د ساتنې په اړه دی په لاندې پته وګورئ:
http:// unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=12265&Language=en-US

د ملکي وګړو د هدفي وژنو نمونې په لاندې ډول دي:

- د اګست په ۲۵ نېټه طالبانو د یوې نړیوالې موسسې پنځه تنه افغان کار کوونکي او یو تن دولتي مامور د هرات ولایت د ګلران په ولسوالۍ کې هغه مهال چې دغه ګروپ هلته په سفر و ، لومړي اختطاف او بیا و وژل. طالبانو پخپله بریښنا پاڼه کې د دغو وژنو مسوولیت پر غاړه واخیست.
- د نومبر په ۲۹ نېټه د فاریاب د ولایت د پښتون کوټ په ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو د بشر پالنې د یوې نړیوالې موسسې یوې نقلیه وسیلې ته لاره ونیوله چې په هغې کې شپږ تنه کار کوونکي ناست وو ، پر هغو یې ډزې وکړې او ټول شپږ واړه ملکیان یې و وژل. چارواکو د دغې پېښې مسوولیت هغو طالبانوته منسوب کړی دی چې د پښتون کوټ د ولسوالۍ د طالبانو د تش په نامه ولسوال پلویان دي.




**د کورنیو تعلقاتو له امله اویا هم د هغو ملکیانو وژل چې د افغانستان د دولت د پلویانو ګومان پرې کیږي**

په ۲۰۱۳ کال کې یوناما ۲۴۶ داسې بریدونو پیښې مستندې کړې دي چې د هغو ملکیانو پر ضد تر سره شوي دي چې په رسمي ډول یې د دولت ، غیر دولتي موسسو او یا هم مشهورو ملکي موسسو (لکه طبي ، د معارف ، ټاکنو ، د پرمختیایي پروګرامونو موسسو) سره یې رسمي تړاو نه درلود. د دغو بریدونو په نتیجه کې چې د ملکیانو پر ضد وشول ۵۳۲ ملکي تلفات رامنځته شول (۴۱۰ ملکي مړینې او ۱۲۲ ټپي کېدنې)[۱۱۰]. په دغو پیښو کې د دولت ضد عناصرو په عمدي ډول هغه ملکیان په نښه کړل چې په کې بزګران ، دوکانداران او زده کوونکي شامل وو ، پر هغوی یې د دې ګومان وکړ چې د دولت او نړیوالو امنیتي ځواکونوملاتړي دي.

د دولت د ملاتړ په ګومان د طالبانو له خوا د ملکي وګړو د وژنې مثالونه:

- د نومبر په ۱۵ نېټه خوست د ولایت د نادرشاه کوټ په ولسوالۍ کې طالبانو دوه ملکیان وروسته له هغه چې د دولت لپاره په جاسوسۍ یې تورن کړل و وژل. طالبانو پخپله ویب پاڼه کې د دغې وژنې مسوولیت منلی دی.

[۱۱۰] په ۲۰۱۲ کال کې یوناما ۴۰۵ ملکي تلفات په ۲۲۶ دغه ډول پیښو کې مستند کړي دي ( ۳۰۹ ملکي وژنې او ۹۶ ټپي کېدنې).

- د نومبر په ۲۷ نیټه د زابل د ولایت د قلات په ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو دوه هلکان ودرول اود هغوي موبایل ټیلیفونونه یې تلاشي کړل. وروسته له هغې چې په هغو موبایلونو کې یې د دولتي کسانو شمېرې وموندلې د دولت ضد عناصرو دغه هلکان د دولت سره د اړیکو په درلودلو تورن کړل او هغوي په ډزو و وژل.
- د ډسمبر په ۱۳ نیټه د خوست د ولایت د صبریو په ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو دوه ملکیان چې یو یې معلم او بل یې زده کوونکی و د دولت لپاره د جاسوسۍ په تور په ډزو سره و وژل. د ځاي ټولنې سرچینو دا په وار وار ویلي دي چې قربانیان "عادِي وګړي" وو او په نظامي فعالیتونو کې ښکیل نه وو.
- د ډسمبر په ۱۹ نیټه د دولت ضد عناصرو د کنړ د ولایت د بر کنړ په ولسوالۍ کې د محلي ښوونځي یو ښوونکی په ډزو هغه مهال و واژه کله چې نوموړی په یوه محلي ټکسي کې سفر کاوه. د قرباني ورور د افغان ملي اردو سرتیری و.
- د ډسمبر په ۳۰ نیټه دوه ملکیان چې یو یې خښتې جوړونکی او بل یې ډرایور و د جوزجان ولایت د آقچې په ولسوالۍ کې مړه وموندل شول. د کلي خلکو د مړو د یوه جسد د پاسه یو لیکلی پیغام وموند چې وژل شوي کسان یې په کې " دښمنان" بللي وو.

د سولې د ولایتي شورا دغړو د هدفي وژنو بېلګې:

یوناما په ډیرې اندېښنې سره د هغو پیښو زیاتوالی مستند کړی دی چې په کې په عمدي توګه د سولې د ولایتي شوراګانو غړي تر هدف لاندې راغلي دي. په ۲۰۱۳ کال کې یوناما اوه دغه ډول پیښې مستندې کړي دي چې په هغو کې ۱۸ تنو ملکیانو ته تلفات (اته تنه مړینې او لس ټپي کېدنې) اوښتي دي .[111]

- د جولای په ۹ نیټه د دولت ضد عناصرو د پکتیا د ولایت د سولې د شورا غړی د څمکنیو په ولسوالۍ کې په ډزو هغه مهال و واژه چې نوموړی د مرکزي بازار څخه د کور پر لور روان و.
- د سپټمبر په۲۶ نېټه د ننګرهار د ولایت د کوټ په ولسوالۍ کې د لېږې څخه کنترول شوی ځاي پر ځاي شوی چاودیدونکی توکی د یوې ملکي نقلیه وسیلې په وړاندې منفجر شو چې دوه نارینه او یوه ښځه یې ټپیان کړل. د قربانیانو له جملې څخه یو تن یې د سولې او پخلاینې د ولایتي شورا غړی او د ۲۰۱۴ کال د ولایتي شورا د ټاکنو لپاره نوماند و چې په دغه برید کې هدف وګرځید. بل تن قرباني د ولسوالۍ د شورا غړی و.
- د نومبر په ۲۸ نیټه د دولت ضد عناصرو د زابل د ولایت دسولې د شورا غړی د قلات په ولسوالۍ کې د خپل کور څنګ ته په ډزو و واژه.

یوناما همدارنګه د امنیتي ځواکونو د پخوانیو غړو د هدف کرځونې پیښې مستندې کړي دي کله نه چې هغوي د وسله والو ځواکونوڅخه وتلي دي. د بېلګې په ډول د اګست په ۲۵ نیټه د دولت ضد عناصرو د افغان ملي اردو یوتن پخواني سرتیری لومړي وتښتولو او بیا یې و وژلو، چې نوموړی د ملي اردو څخه د دې لپاره و وت څو د ننګرهار ولایت د بتې کوټ په ولسوالۍ کې یو تعلیمي مرکز پرمخ بوځي.

د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې په عمدي ډول د ملکي وګړو وژل په جنګي جرمونو کې شمېرل کیدا شي. د ژنیو د کنوانسیونونو دریېمه مشترکه ماده چې هغه په افغانستان کې په جګړه کې پر ټولو ښکیلو اړخونو باندې د طالبانو په شمول د تطبیق وړده دا ډول وژنې[112]، تاوتریخوالی، د قانون پرته اعدامونه، شکنجه، د اندامونو پرې کول اود ملکیانو[113] پرخلاف د تاو تریخوالي نور ډولونه په ټولو حالاتو او هر ځاي کې منع کوي.

---

[111] په ۲۰۱۲ کال کې یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا په دوو جلا جلا پیښو کې شپږ ملکي تلفات چې په کې د سولې د ولایتي شورا غړي وژل شوي دي مستند کړي دي.
[112] د قتل د جنګې جرم د تعریف په اړه د دې راپور حقوقي برخې ته مراجعه وکړئ.
[113] د ژنیو د کنوانسیونونو د دریېمې مشترکې مادې له مخې د ممنوع شویو جرمونو تفصیلات د دې راپور په حقوقي برخه کې وګورئ.

### د مجازاتو موازي قضايي جوړښت

په ۲۰۱۳ کال کې يوناما ۲۳ داسې پيښې مستندې کړي دي چې په کې د دولت ضد عناصرو د موازي قضايي جوړښتونو[۱۱۴] له لارې ملکي کسان په دې تور چې د شريعت د قانون څخه يې ګواکې سرغړونې کړي دي او يا هم دولت ته يې په " جاسوسي" کولو تورن کړی مجازات کړي دي. په دغو صادر شويو مجازاتو کې چې پلي شوي دی په کې اعدامونه ، د سر پرېکونې ، د بدن د غړو قطع کول ، وهل ټکول ، په لښتو وهل او غير قانوني توقيفونه شامل دي[۱۱۵] .

د دغو ۲۳ پيښو په ترځ کې د ملکي وګړو ۱۹ وژنې او د د ولت ضد عناصرو له خوا د څلورو نورو ټپي کېدنې شاملې دي چې هغوي په کې د مرګ او د نورو مجازاتو محکوميتونه[۱۱۶] تر سره کړي دي. دا د ۲۰۱۲ کال[۱۱۷] په پرتله د دغه ډول بريدونو په پايله کې د ملکي تلفاتو په شمېره کې يو څه کموالي جوتوي خو د پيښو په شميره کې لږ څه زياتوالي په ډاګه کوي.

په ډېری پيښو کې چې په ۲۰۱۳ کال کې مستندې شوي دي د دولت ضد عناصرو هغه ملکيان اعدام کړي دي چې وربانديې دولت ته د جاسوسۍ تور ور پورې شوی او يا هم دا چې د دولت ضد عناصرو د تعريف له مخې يې مجرمانه اعمال سرته رسولي دي. يوناما د دې يادونه کوي چې موازي قضايي جوړښتونه قانونيت نه لري او د افغانستان د قوانينو له مخې هيڅ ډول مشروعيت يا بنسټ نه لري. هغه مجازات چې د دغه شان جوړښتونو د لارې وضع کيږي د افغانستان د قوانينو او د بشري حقونو څخه د سرغړونو او مجرمانه اعمالو او په ځينو حالاتو کې د جنګي جرمونوپه لړ کې راځي.[۱۱۸]

موازي قضايي جوړښتونه د افغانستان په ځينو سيمو او تر ټولو د مخه په هغو سيمو کې چيرته چې د دولت ضد عناصر مسلط وو رامنځته شول[۱۱۹] .په ځينو حالاتو کې موازی قضايي جوړښتونه په زور په ټولنو تحميل شوي وو چې په ترځ کې يې په فزيکي لحاظ شکمن کسان له منځه وړل شوي ، پريکړې پلي شوي ، تهديدونه ، ډارونې او ځورونې ليدل شوي دي.

په نورو حالاتو کې ټولنو دې ته ترجيح ورکوله چې د رسمي قانوني ميکانيزمونو د کارولو پر ځای د دغو جوړښتونو څخه کار واخلي او قضيې موازي قضايي " عدالت" ته راجع کړي. د مثال په ډول د مۍ په ۳۰ نيټه د دولت ضد عناصرو د ننګرهار د ولايت د لعل پورې په ولسوالۍ کې يو ۲۳ کلن نارينه او يوه ۱۶ کلنه نجلۍ په دړو و وژل. دغه جوړه د راپور له مخې د خپلو کورونو وتښتيدل او د وژونکو د ادعاء له مخې هغوي د واده پرته جنسي اړيکي درلودل. خبرو کوونکو په وار وار دا راپور درلود چې کله دغه جوړه وتښتيدله د دولت ضد عناصرو د نارينه او نجلۍ د خپلوانو په مرسته د دغې پيښې څېړنه وکړه ، دغه جوړه يې تعقيب کړه اوبيا يې دواړه په دړو و وژل.

د موازي قضايي جوړښتونو د مجازاتو ځينې بېلګې:

- د اګست په ۲۰ نيټه د دولت ضد عناصرو د بدخشان د ولايت د جرم په ولسوالۍ کې يو ۳۲ کلن سړی ونيولو اوپر هغه يې د زنا تور ولګولو او په مرګ يې محکوم کړ. د دغه سړي د ملا څخه رسۍ چاپيره کړای شوه او بيا په دوو ونو پورې ځوړند کړای شو. د اتوو ساعتونو وروسته دغه سړی د ونو څخه را کښته کړای شو چې د مرګ په حال و او بيا وروسته په دړو و وژل شو.

---

[۱۱۴] د شا ليد په توګه په وسله واله جګړه کې د ملکيانو د ساتنې په اړوند د يوناما د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کلونو کالني او د کال د نيمايي راپورونه په لاندې پته وګورئ:
=KOB5RL2XYcU%3D fileticket http:// unama.unmissions.org/LinkClick.aspx?

[۱۱۵] د ملکي تلفاتو ټولې پيښې چې د مجازاتو د موازي قضايي سيسټمونو په ترځ کې دي او د يوناما له خوا ثبت شوي دي د دولت ضد عناصرو له خوا ترسره شوي دي. يوناما د مړينې او ټپي کېدنو داسې پيښې ثبتې کړي دي چې د داسې ډول طرزالعملونو په پايله کې رامنځته شوي دي که څه هم مجازاتو په مستقيم ډول په جګړې پورې تړاو درلود ، د مثال په ډول د ملي اردو د يوتن سرتيري د پلار اعدامول او يا دِغه مجازات د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي شخص پر ضد د غير وسله وال تخلف په رابطه تطبيق شوې وي ، لکه د زنا د جزا لپاره په عامه محضر کې په دورو وهل. دريېمه مشترکه ماده په واضح ډول د قتل ، تاوتريخوالي ، د عدالت پرته اعدامونه ، شکنجه ، د اندامونو پرې کول او دخشونت نور ډولونه منع کوي. دغه ډول اعمال هر وخت او په هر ځاي او هرډول حالاتو کې ممنوع دي. په افغانستان کې د دريېمې مشترکې مادې د تطبيق د تفصيلاتو په اړه د دې راپور حقوقي برخې ته مراجعه وکړئ.

[۱۱۶] د يوناما په نظر د موازي قضايي جوړښتونو په اجرااتو کې هغه قصدي او له وړاندې تنظيم شوي او عمدي وژنې د يو شخص شاملې دي چې دغه شخص په فزيکي لحاظ د مجرم په حبس کې وي ( چې دا د هغه هدفي وژنې پرخلاف دی چې قرباني بايد د مجرم سره په فزيکي توګه په حبس کې نه وي) کله چې وژنه د مجازات کولو په موخه وي ، لکه د هغه ديني مشر وژنه چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د منسوب د جنازې په مراسمو کې يې د اخطارېې باوجود ګډون کړی و. يوناما دغه ډول پيښې ، قتل ، بولي لکه چې په افغانستان کې د غير نړيوالې جګړې په شرايطو کې د بشر پالنې دنړيوال قانون له مخې د تطبيق وړ ګڼل کيږي.

[۱۱۷] په ۲۰۱۲ کال کې يوناما ۳۳ ملکي تلفات ( ۱۱ ملکي وژنې او ۲۲ ټپي کېدنې) د موازي قضايي جوړښتونو د مجازاتو په ۱۷ پيښو کې مستند کړي دي.

[۱۱۸] په دې راپور کې د جنګي جرمونو حقوقي برخې ته مراجعه وکړئ.

[۱۱۹] يوناما دغه ډول مجازات د افغانستان په ټولو سيمو کې د مرکزي ارتفاعاتو او د نورو مرکزي او جنوب ختيځو سيمو پرته مستند کړي دي.

- د اکتوبر په ۱۲ دولت ضد عناصرو د بدخشان ولایت د جرم په ولسوالۍ کې یو ۱۹ کلن بزګر په دې تور اعدام کړ چې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته یې معلومات رسول. د قرباني په جسد یو لیک پروت و چې نور ټول هغه کسان چې افغان ځواکونو ته جاسوسي کوي په ورته پایلو تهدیدوي.
- د اکتوبر په ۲۸ نیټه یو سړی خپل ګاونډي په دې تور چې د نوموړي په میرمنې یې جنسي تیری کړی د نیمروز د ولایت د خاشرود په ولسوالۍ کې په ډزو و واژه ، خو نوموړی د محلي طالبانو د قوماندان له خوا د قتل په تور ونیول شو. د ډسمبر په ۲۷ نیټه د طالبانو محکمې دا پریکړه وکړه چې جنسي تیری نه دی شوی او توقیف شوی شخص په مرګ محکوم کړای شو. طالبانو دغه توقیف شوی شخص هغه محل ته ولېږدولو چیرته چې اصلي قتل شوی و او د نوموړي د ګاونډي پلار ته یې اجازه ورکړه چې په ده ډزې وکړي او ویې وژني.
- د ډسمبر په ۱۴ نیټه د دولت ضد عناصرو د ننګر هار د ولایت د چپرهارپه ولسوالۍ کې یو ملکي شخص د هغه د کوره اختطاف کړ او وروسته یې هغه په ډزو و واژه. د قرباني سره یو لیک وموندل شو چې د هغه په جسد پورې نښول شوی او په دغه لیک کې هغه په غلا تورن شوی و او په کې ویيل شوي هر څوک چې غلا کوي د دغه شان مجازاتو سره به مخ کیږي.

دغه ډول وژنې اکثره وخت د یوې وسیلې په توګه د ملکي کسانو د ډارونو او تهدیدونو لپاره کارولې کیږي او نورو هغو کسانو ته چې د دولت پلوي کوي د ګواښ او خبرداری په توګه کارولې شي. نړیوال بشر دوستانه قانون د ملکیانو وژنې او د تاوتریخوالي ورته کړنې چې په کې لومړنۍ موخه د ملکیانو تر منځ د ویرې او ډارخپرول وي منع کوي.[۱۲۰]

**د دیني شخصیتونو او عبادت ځایونو په وړاندې تهدیدونه او بریدونه**

*په یوه خواشینوونکی ورځ موږ د ملا په موټر کې د شورتیپې په لور خپل کور ته په لاره وو چې په لاره دوه نارینه مو چې مخونه یې پټ کړي وو مخې ته راغلل. هغوي موږ ته نږدې شول او پر موږ یې ډزې پیل کړې چې زه یې په ټټر او لاس باندې ټپی کړلم. دغه مرمۍ چې زما پر سینه ولګېدله زما د زړه تر څنګ تېره شوه — د دې پرته زه به همدلته وژل شوی وای. هغوي همدارنګه ملا په پنځووو مرمیو په ښی پښه او ښي لاس باندې و ویشت. کله چې موږ درملتون ته ورسیدلو زه سملاسي درملتون ته د درملو د اخیستو لپاره ورغلم. دغه مجرمین بیا راغلل او ملا یې د شا څخه بیا په ډزو و ویشت. هغه همدلته مړ شو. زما په یاد دي چې ملا څو ورځې تر مخه ماته ویلي وو چې د نورو ملایانو څخه یې تهدیدونکي تیلیفونونه تر لاسه کړي دي چې ورته ویل شوي وو چې نوموړی به و وژل شي. — ما ورته مشوره ورکړه چې اندېښنه ونه کړي او په الله(ج) باندې ویسا وکړي.*

-- د بلخ د ولایت د شورتیپې په ولسوالۍ کې د ۲۰۱۳ کال د اګست[۱۲۱] په میاشت کې د طالبانو له خوا د یوه تن دیني مشر د هدفي وژنې شاهد.

د ملایانو هدفي وژنې او په عبادت ځایونو باندې بریدونه په ۲۰۱۳کال کې[۱۲۲] درې برابره زیات شول. یوناما ۲۷ پیښې مستندې کړې دي چې په هغو کې عبادت کوونکي او عبادت ځایونه د جوماتونو په شمول شامل دي چې هلته نیغ په نیغه د تهدیدونو او بریدونو په پایله کې ۱۸ تنه ملکیان و وژل شول او نور اوه تنه ټپیان شول.[۱۲۳]

اکثره بریدونه د دولت ضد عناصرو له خوا تر سره شوي او په کې ملایان او دیني عالمان د هغوي له خوا په عامه محضر کې د دولت سره د ملاتړ په ګومان هدف ګرځیدلي دي. د دولت ضد عناصرو همدارنګه ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي چولي دي او د جوماتونو تر څنګ او دننه یې بریدونه تر سره کړي چې د محافظت لاندې ځایونو ته یې تاوان اړولي او

---

[۱۲۰] د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ نیټې د ژنیو د کنوانسیونونو د الحاقي پروتوکول ۱۳ ماده او په غیر نړیوالو وسله والو شخړو( دوهم پروتوکول) کې د قربانیانو ساتنه ، کال ۱۹۹۷ ، ۲ ، د جون ۸ ، " ملکي نفوس ، او همدارنګه منفرده ملکیان باید چې تر برید لاندې را نه شي. د تاو تریخوالي اعمال چې لومړنۍ موخه یې د ملکي وګړو تر منځ د ترهګرۍ خپرول وي ممنوع دي ".

[۱۲۱] د ۲۰۱۳ کال دا ګست په لومړۍ نیټه د بلخ د ولایت د شور تیپې په ولسوالۍ کې د قرباني او عیني شاهدانو سره د یوناما مرکې.

[۱۲۲] په ۲۰۱۲ کال کې یوناما په اتوو پیښو کې ټولټال ۲۱ ملکي تلفات مستند کړي دي ( اته ملکي وژنې او ۱۳ ټپي کېدنې).

[۱۲۳] د امنیتي ناوړه حالت ، لېرې پرتو کلیو ته نه رسیدل ، په تېره بیا په جنوب کې ، او داسې محدودیتونه لکه د ټولنو له خوا محدودیتونه کیدلای شي چې د راپور ورکولو په لړ کې چې د ملایانو او جوماتونو په شمول وي تیروتنې ولري چې په دې توګه یوناما د دغه ډول پیښو د لږ راپور ورکونې د زیات احتمال یادونه کوي.

ملکیان یې زیانمن کړي دي. د بېلګې په ډول د غزني د ولایت د اندړو په ولسوالۍ کې د لېږې څخه د کنترول شوې ځاي پر ځاي شوې چاودیدونکې وسیلې د لارې په یوه جومات باندې برید تر سره شو چې د اګست په ۱۸ نېټه په بشپړ ډول د جومات د ویجاړتیا لامل شو، خوپه دغه پیښه کې ملکي تلفات نه وو. بل برید د اروزګان ولایت د دهراود په ولسوالۍ کې د جولای په لومړۍ نیټه تر سره شو چې د هغه په پایله کې درې ملکیان و وژل شول او نور درې تنه یې ټپیان کړل.

په ۲۰۱۳ کال کې همدارنګه ملایان د دولت ضد عناصرو له خوا د دې له امله د تهدیدونو، ځورونو او بریدونو لاندې راغلل چې هغوي د افغان ملي امنیتي ځواکونو د وژل شویو غړو په جنازو کې ګډون در لود او یایې هم د جنازې لمونځ ورکولو.[۱۲۴] د بېلګې په ډول د سپتمبر په ۱۷ نیټه د فراه د ولایت د پشت رود په ولسوالۍ کې یو ملا د دولت ضد عناصرو له خوا په ډزو و وژل شو. دغه ملا دوه ورځې تر مخه د دې له امله وتښتول شو چې د افغان سیمه ییز پولیسو د یو هـ وژل شوی غړي د جنازې امامت یې کړی و. محلي سرچینو د دغې وژنې مسوولیت طالبانو ته منسوب کړی خو طالبانو دغه مسوولیت نه دی منلی.

په ځینو حالاتو کې په تېره بیا چیرته چې د طالبانو اغیز زیات دی هڅه یې کړې ده چې په دغه سیمه کې خپل نفوذ لا زیات کړي، هغه ملایان او دیني عالمان چې د دولت سره یې په عام ډول ملاتړ اعلان کړی دي د ناوړه پایلو سره مخ شوي دي. د سپتمبر په ۴ نیټه د غزني د ولایت د اندړو په ولسوالۍ کې طالبانو یو مشهور مذهبي عالم او د هغه دوه زامن د دې له امله په ډزو و وژل چې دغه عالم په عامه محضر کې د دولت ملاتړ کړی و. طالبانو پخپله ویب پاڼه کې د دې وژنې مسوولیت پر خپله غاړه واخیست.

د بشر پالنې نړیوال قانون د ملکیانو، ملکي شتمنیو، چې په کې د عبادت ځایونه شامل دي عمدي بریدونه منع کوي او د شخړې په اړخونو باندې دا مکلفیت راوړي چې دیني پرسونل ته د دې امکان ورکړي چې هغه خپله دنده ترسره کړي. د ژنیو د کنوانسیونونو د دوهم پروتوکول ۹ ماده اعلانوي " د طبي او مذهبي پرسونل باید درناوی وشی او دا چې محافظت ولري او باید د هغوي د وظایفو د سرته رسولو په لړ کې ورته ټولې موجودې اسانتیاوې په اختیار کې ورکړای شی. "[۱۲۵] د دې سربېره د بشر پالنې نړیوال قانون د عبادت کوونکواو د عبادت د ځایونو په وړاندې چې د خلکو فرهنګي او معنوي میراث جوړوي بریدونه منع کوي.[۱۲۶]

په داسې حال کې چې د ملایانو او عبادت ځایونو په وړاندې اکثره بریدونه د دولت ضد عناصرو له خوا تر سره شوی دي ، نو یوناما د دې یادونه کوي چې دولت په دې برخه کې مکلفیت لري چې مساجد او علماء د بریدونو څخه خوندی وساتي.

### د ټاکنیزوچارو په کارکوونکو او مرکزونو بریدونه او د ټاکنو څخه د مخه موده کې د ملکیانو ساتنه

د جمهوری ریاست او ولایتي شورا ګانو لپاره ټاکنې په افغانستان کې د ۲۰۱۴ کال د اپریل په ۵ نیټه (د ۱۳۹۳ کال د وری په ۱۶ نیټه) تریسره کیږي . د هغه واک له مخې چې یوناما ته ورکړل شوی دی څو د هغو کسانو د بشري حقونو څارنه وکړي او د هغو کسانو چې د جګړې د تاوتریخوالي له امله اغیزمن شوي دي تحفظ تر سره کړي او په دې اړوند یې هغه بریدونه او تهدیدونه مستند کړي دي چې په ۲۰۱۳ کال کې په جګړو کې د ښکیلو اړخونو له خوا د ټاکنیز پرسونل په وړاندې ترسره شوي دي.[۱۲۷]

یوناما د ټاکنیزو چارو د کار کوونکو او د ټاکنو د مرکزونو په وړاندې د دولت ضد عناصرو له خوا ۲۵ پیښې مستندې کړي دي چې د هغو په پایله کې ۱۶ ملکي تلفات (څلور ملکي وژنې او ۱۲ ټپي کېدنې) رامنځته شوي دي.[۱۲۸]

---

[۱۲۴] په وسله واله جګړه کې د ملکیانو د ساتنې په اړوند د یوناما د ۲۰۱۳ کال د نیمایي راپور ، ۲۴ مخ ته مراجعه وکړئ.

[۱۲۵] د ۱۹۴۹ کال د اګست د میاشتې د ۱۲ نیټې د ژنیو د کنوانسیونونو د الحاقي پروتوکول له مخې د طبي او دیني پرسونل د محافظت په اړه ۹ ماده ، او په غیر نړیواله وسله واله جګړه کې د ۱۹۷۷ کال د جون د میاشتې د۸ نیټې ( دوهم پروتوکول) چې د ملکیانو د ساتنې په اړوند دی.

[۱۲۶] همدا ماخذ. وګورئ د نړیوال سره صلیب کمیټه ، د بشر پالنې عرفي نړیوال قانون ، لومړی جلد ، مقررات ... جین ماری هینکایرتز او لویس ډوسوالډ بیک ( CU P/ ICRC< Cambridge 2005) { ICRC Study).

[۱۲۷] په حقوقي برخه کې د ژنیو د کنوانسیونونو د دریېمې مشترکې مادې انطباق وګورئ.

[۱۲۸] د ۲۰۱۳ کال دجون د لومړۍ څخه د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ تر ۲ پورې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنیز بهیر په وړاندې ۸۲ پیښې مستندې کړي دي. په دې ارقامو کې ۲۳ پیښې د بریدونو، ۲۲ پیښې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د کار کوونکو د تهدیدونو او ډارونو او ۱۲ د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو توکو، له لېږې څخه د کنترول شوو ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو توکو او په موټر کې د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو توکو پیښې وې چې په هغو کې افغان ملي پولیس ، د ټاکنو د خپلواک

په دغو بريدونو کې د ځاي پر ځاي شوو چاوديدونکو توکو څلوربريدونه ، درې هدفي وژنې (د هدفي وژنو هڅې) ، درې ځمکنۍ نښتې او دوه د اختطاف پيښې شاملې دي. يوناما د دولت ضد عناصرو له خوا ۱۳ پيښې مستندې کړي دي چې په کې تهديدونه ، ډارونې او د ټاکنو د خپلواک کميسيون د کار مندانو ځورونې شاملې دي.[۱۲۹]

د ډيرې اندېښنې وړ هغه هدفي وژنه وه چې په کې د سپتمبر په ۱۸ نيټه د کندز د ولايت د کندز په ښار کې د ټاکنو د خپلواک کميسيون مشر و وژل شو. طالبانو پخپله ويب پاڼه کې د دغه بريد مسووليت په غاړه واخيست.

د رايه اچوونکو د ثبت بهير د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۲۶ نيټه پيل شو او د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې يې دوام درلود.[۱۳۰] د دغه پړاو په اوږدو کې يوناما د دولت ضد عناصرو له خوا په عمدي توګه د ټاکنو د خپلواک کميسيون د ثبت د ګرځنده ټيمونو تر بريد لاندې را وستل مستند کړي دي.

د ثبت د ګرځنده ټيمونو په وړاندې د بريدونو بېلګې:

- د اکتوبر په ۱۰ نيټه د دولت ضد عناصرو د هرات د ولايت د کشک په ولسوالۍ کې په ګرځنده ټيم ډزې وکړې او د ټاکنو د خپلواک کميسيون دوه کار کوونکي يې ټپي کړل.
- د اکتوبر په ۲۱ نيټه د بغلان د ولايت د دوشي په ولسوالۍ کې د ملي پوليسو د يوې نقليه وسيلې په وړاندې چې د رايه ورکوونکو د ثبت ګرځنده ټيم يې بدرګه کولو له لبرې څخه کنترول شوی ځاي پر ځاي شوې چاوديدونکي وسيله وچاودېدله ، دوه ملي پوليس يې و وژل او څلور ملکيان يې ټپيان کړل. طالبانو پخپله ويب پاڼه کې د دغه بريد مسووليت په غاړه واخيست.
- د نومبر په ۳ نېټه د لبرې څخه کنترول شوې ځاي پر ځاي شوی چاوديدونکی توکی د ټاکنو د خپلواک کميسيون د ثبت ګرځنده ټيم د غور د ولايت په دوه لينه ولسوالۍ کې تر بريد لاندې را وست او د ټاکنو د خپلواک کميسيون شپږ کار کونکي يې ټپيان کړل.

يوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ټاکنو د خپلواک کميسيون د دريو کارکوونکو د اختطاف پيښې ثبتې کړي دي. دغه قضيې د ټولنې په مداخلې سره حل شوې خو په دوو پيښو کې د هغوي ازادي په دې مشروطه وه چې دغه کار کوونکي خپلې دندې خوشې کړي. د بېلګې په ډول د سپتمبر په ۱۱ نيټه د دولت ضد عناصرو د ټاکنو دخپلواک کميسيون يو کار کونکی- يو پخواني ملا- د زابل د ولايت د قلات په ولسوالۍ کې اختطاف کړ. د ټاکنو د خپلواک کميسيون دغه کار کوونکي ته اخطاريه ليکونه رسيدلي وو. د دولت ضد عناصرو دغه کار مند په دې شرط خوشې کړ چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون سره خپله دنده خوشې کړي. د اکتوبر په ۱۴ نيټه د دولت ضد عناصرو د ننګر هار د ولايت د پچيرآګام په ولسوالۍ کې د ټاکنو د خپلواک کميسيون يو کارمند اختطاف کړ. هغه د قومي مشرانو په منځګړتيا وروسته خوشې کړای شو.

يوناما داسې راپورونه تاييد کړي دي چې د دولت ضد عناصر هغو ملکيانو ته په ځينو سيمو کې شب نامې استوي او ورته په ټاکنيز بهير کې د ګډون کولو په اړه تهديدونه کوي. دغه ليکونه يا په لاس ليکل شوي او ياهم په کمپيوټر کې ترتيب شوي دي ، چې هغه په عامه ځايونو لکه جوماتونو ، د ولسواليو په مرکزونو کې موندل شوي دي. د اکتوبر په ۳۰ نيټه يو ليک د ټاکنو د خپلواک کميسيون د ولسوالۍ کوارډيناټور ته د ولسوالۍ د اداري مديرپه ميز کې هغه مهال وموندل شو چې د ننګرهار د ولايت د ګوشتې په ولسوالۍ کې د ګرځنده ټيم له خوا د رايه اچونکو د ثبت لپاره غونډه جوړه شوې وه. په دغه ليک کې د ټاکنو د خپلواک کميسيون دغه کار کوونکي ته اخطار شوي و چې د ګوشتې ولسوالۍ ته د رايه اچوونکو د ثبت لپاره ور نه شي ، او د سرغړونې په صورت کې به هغه و وژل شي.

---

کميسيون د کار کوونکو په ګرځنده کتارونو کې د هدف ګرځونې پيښې وې چې په لړ کې يې د ټاکنو د خپلواک کميسيون دفترونو ته ضمني تاوان اوښتی دی. د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د ۲ نيټې د يوناما په دوسيه کې "د ټاکنو دخپلواک کميسيون امنيتي راپور ، د ساحوي عملياتو رياست ، د امنيتي همغږۍ دفتر " ته مراجعه وکړئ.

[۱۲۹] د ټاکنو د خپلواک کميسيون ارقام د هغو شميرو څخه لا زيات دي چې په دې راپور کې راغلي دي ځکه چې يوناما پخپلو اسنادو او راپورونو کې يواځې هغه پيښې راولي چې د وسله والې شخړې سره تړاو ولري ، ياني په شخړه کې د شاملو اړخونو له خوا رامنځته شوي وي.

[۱۳۰] د ۲۰۱۴ کال د جمهوری رياست او ولايتي شورا ګانو لپاره ټاکنيز بهير په ۲۰۱۳ کال کې په درې پړاوونوکې ( ولايتي ، د ولسوالۍ او د رايې اچونې د مرکزونو په کچه ) د پاتې نوو رايه اچوونکو د ثبت سره پيل شو چې موخه يې د نوو هغو رايه اچونکو ثبت و چې د تيرو وروستيو ټاکنو را وروسته يې عمر ۱۸ ته رسيدلی دی ،يا هغه موجود رايه اچوونکي چاچې د خپلې رايې اچونې کارتونه ورک کړي دي. د دغه بهير لومړی پړاو د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۲۶ نېټه پيل شو. د ټاکنو د خپلواک کميسيون د وينا له مخې د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ تر ۱۴ نېټې پورې د ۳,۲ مليونو رايه اچونکو ثبت د دغه بهير په ترڅ کې ترسره شو.

د ټاکنیز بهیر پرضد د عمدي بریدونو سربېره نا امنۍ په ځینو سیمو کې په ټاکنیز بهیر کې د ملکیانو ګډون اغیزمن کړی دی. د بېلګې په ډول د خوځښت یانې تګ راتګ د ازادۍ حق او ورسره د ګډون د ازادۍ حق په پنځوو ولسوالیو کې محدود شوی دی چې هلته وګړي په دې کې منع شوي وو چې نوموړی ثبت کړي ځکه چې د ثبت ټیمونو نا امنو سیمو ته سفر نه شواي کولای او یا هم دا چې خلک د دې څخه ببریدل چې د ثبت لپاره سفر وکړي.[131]

یوناما دا په ټول هېواد کې مشاهده کړې ده چې افغان امنیتي ځواکونو په تېره بیا افغان ملي پولیسو په بیړه سره د دغو بریدونو او یا هم د دولت ضد عناصرو له خوا په ټاکنیز بهیر کې د مداخلو په وړاندې غبرګون ښوولی دی چې په پایله کې یې ټاکنیز بهیر هم دوام موندلی دی.

د دولت ضد عناصرو د بریدونو په وړاندې د رایه اچوونکو د ثبت د مرکزونو او ملکیانو د ساتنې په لړ کې د افغان ملي پولیسود فعالیتونو ځینې بېلګې:

- د اکتوبر په ۲۰نېټه د دولت ضد عناصرو د پکتیکا د ولایت د خیر کوټ په ولسوالۍ کې د رایه اچونکو د ثبت ګرځنده ټیم باندې برید وکړ. افغان ملي پولیسو غبرګون وښود او وروسته له څو ساعتونو یې دغه مرکز بیرته پرانیست.
- د نومبر په ۱۰ نیټه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټولنې غړو تلاش وکړ چې د دولت ضد عناصرو مخه ونیسي څو هغوي د رایه ورکوونکو د ثبت هغه مرکز ته داخل نه شي چې د ننګرهار ولایت د روداتو د ولسوالۍ په یوه روغتیایی کتنځي کې یې فعالیت درلود. افغان ملي پولیس د رایه اچونکو د ثبت دغه مرکز ته را ورسیدل او د یوې سپکې وسله والې نښتې وروسته یې د دولت ضد وسله والو عناصرو د ډلې یو تن ونیولو.

د خطر اوسنۍ ارزونې دا په ډاګه کوي چې ناامني به د ۲۰۱۴ کال ټاکنې په ځینو سیمو کې د خلکو د ګډون په اړه اغیزمنې کړي. د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ په ۱۱ نیټه د کورنیو چارو وزارت د ټاکنو د مرکزونو په اړه خپله امنیتي ارزونه بشپړه کړه او د امنیتي لاملونو له کبله یې د ۶۸۴۵ مرکزونو له جملې څخه د ۴۱۴ مرکزونو د نا امنۍ له کبله د تړل کیدو لپاره په ګوته کړي.[132] پوره امنیت د دې لپاره زیات اهمیت لري څو زیات افغانان .په تېره بیا میرمنې- چې د شخړو له امله په اغیزمنو شویو سیمو کې اوسیږي وکولای شي په افغانستان کې په روان سیاسي بهیر کې ګډون ولري او خپل د رایې ورکولو د حق څخه برخمن شي.

یوناما د دې یادونه کوي چې د ټاکنو د برخې کار کوونکې پرسونل ملکیان دي او د بشر پالنې د نړیوال قانون مکلفیتونو له مخې باید ټول ښکېل اړخونه یې رعایت کړي او د برید څخه خوندی وساتل شي. یوناما یوځل بیا په دې ټینګار کوي چې طالبان او نور د دولت ضد عناصر باید په ملکي وګړو بریدونه ودروي چې په هغوي کې د ټاکنو د کمیسیون کارکونکي هم شامل دي او ټینګار کوي چې دغه ډول اعمال کېدلای شي په جنګي جرمونو کې وشمیرل شي.

### د ملکي تلفاتو په اړه د طالبانو عامه بیانونه

د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې طالبانو ۴۶ اعلامیې نشر کړي دي چې د هغو څخه نیغ په نیغه او یاهم په غیر مستقیم ډول ملکي تلفاتو او یا د ملکیانو خوندي ساتنې پورې اړه لري. په دغو اعلامیو کې هغوي د بریدونو مسوولیت منلی او یا یې ور څخه انکار کړی ،او یا یې هغه ملکي تلفات چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي غندلی دي. طالبان همدارنګه ورځنې خبرونه او مقالې نشروي چې په هغو کې د ډله ییزو او ځانمرګو بریدونو چې په کې هدفي وژنې او د ځاي پر ځاي شوو چاودیدونکو توکو پیښې شاملې دي مسوولیت پر غاړه اخلي.

---

[131] د دغه بهیر په دوهم پړاو کې چې د ولسوالۍ په کچه تر سره شو د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۳۹۹ ولسوالیو له جملې څخه په ۳۹۵ ولسوالیوکې د ثبت مرکزونه جوړ کړل ، د دې سربېره د ۳۴ ولایتونو په مرکزونو کې یې ۴۱ د ثبت مرکزونه جوړ کړل. لکه چې د نومبر تر ۲۱ نیټې پورې ۳۱۴۸۶۲۰ تنه نوي رایه اچونکي ثبت شول. د ښځینه رایه اچوونکوشمیره ۳۴,۴ سلنه زیاته شوه . د نا امنۍ له کبله د ټاکنو خپلواک کمیسیون ونه کړای شو چې په ۵ ولسوالیو کې د ولسوالۍ د کچې د رایه اچونکو د ثبت دوهم پړاو تر سره کړي: د غزني د ولایت د ناوې ولسوالي ، د زابل د ولایت د کاکړ ولسوالي ، د هلمند په ولایت کې د بغران او دیشو ولسوالۍ او د نورستان د ولایت د وایګل ولسوالي. سرچینه: د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د الیکټ دوه ، د سبا لپاره د قانوني او ټاکنیز ظرفیت تقویه .دوهم پړاو ، تجدیدول: د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر ۲۵- نومبر ۲۱.

[132] د کورنیو چارو د وزارت ویاند صدیق صدیقي ، " د رایې اچونې ۹۰ سلنه مرکزونه به د ټاکنو په ورځ پرانیستي وي : د کورنیو چارو وزارت"، سید شریف امیري ، د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ ۱۲ نېټه ، په .http:// www.tolonews.com/elections2014/90-percent-poling-centers-will-open-electionday-moi

طالبان د هغو پيغامونو او اعلاميو نشر ته ادامه ورکړې چې په هغو کې د ملکي تلفاتو په پېښو کې د دوی لاس وي او زياتره په هغو کې د طالبانو په هغه تعريف باندې تمرکز کېږي چې د " ملکيانو" په اړه يې لري (چې هغه د بشر پالنې د نړيوال قانون د حقوقي تعريف سره په تناقض کې دی) او په دی کې د هغو تدابيرو تفصيلي يادونه کېږي چې طالبانو يې اعلان کړی دی او دوي د ملکي تلفاتو د کمولو په لړ کې اخيستي دي. د دغه ډول اعلاميو سره سره د هغو پيښو شمېره چې په کې ملکي تلفات شامل دي او طالبانو يې مسووليت اخيستی دی په ۲۰۱۳ کال کې درې برابره څخه زياته شوه.[۱۳۳]

د طالبانو په اعلاميو کې همدارنګه هغه پيغامونه هم شامل دي چې په ځينو پيښو کې دهغوي لاس لرل رد کړی دي ، او ځيني نور يې بيا په زياته پيمانه غندلی دي . دغه ډول ردوني او غندنې زياتره د ملکي تلفاتو د هغه پيښو په تعقيب نشرې شوي دي چې د هغو په ملي او نړيواله کچه غندنه شوې ده ، غالباً دا په دې موخه کېږي چې هغوي غواړي د افغان وګړو پراخه ملاتړ تر لاسه کړي ،او د خپلو غړو پر ضد د بشری حقوقو څخه د سرغړونې تورونو په ځواب کې يو ډول غبرګون وښيي.

يوناما دا مشاهده کړې ده چې په تيرو کلونو کې د هغو اعلاميو او تدابيرو سره سره چې په کې د ملکيانو د ساتنې هڅې څرګندې شوي دي طالبانو د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې د ځاي پرځاي شوو چاوديدونکو توکو ، هدفي وژنو او د هغو ځمکنيو نښتو د لارې چې د افغان امنيتي ځواکونو سره يې درلودلې د سلګونو ملکي وګړو وژلو او ټپي کولو ته ادامه ورکړې ده.

## د ملکيانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۳ د نيمايي کال د راپور په وړاندې د طالبانو غبرګون

په يوې عامې اعلاميه کې طالبانو د ملکيانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۳ کال د نيمايي د راپور د هغه د رسمي نشر څخه څو ساعته وړاندې د هغه د رسيدلو تاييد وکړ ، او داسې بيان يې ورکړ چې هغوي ته پوره وخت نه و ورکړل شوی څو د دغه راپور محتويات تحليل کړي او يا هم په دی اړه يوناما سره خبری وکړي .[۱۳٤] دغه اعلاميه کې دا نه ده تاييد شوې چې هغه ملکي تلفات په عمدي ډول او يا هم په ضمني توګه د طالبانو د اقداماتو اوبريدونو په نتيجه کې رامنځته شوي دي.

په تېره بيا په دغه اعلاميه کې چې يوناما ته راجع ده د ۵۲ مشخصو پيښو تشخيص چې طالبانو د هغو مسووليت منلی دی او په کې هغه کسان هدف ګرځيدلي او وژل شوي دي چې د بشر پالنې د نړيوال قانون له مخې ملکيان پيژندل شوي دي.[۱۳۵]

د طالبانو اعلاميه کې د هغو بريدونو د مسووليت منل يوځل بيا تاييد شوي دي خو د دې سره يې په دغو بريدونوکې د ملکي تلفاتو په اړه د يوناما موندنې چيلنج کړي دي او پخپل هغه دريځ يې ټينګار کړی چې د " کابل د اداري"[۱۳٦] ملکي کار کونکي کېدلای شي چې تر بريد لاندې راشي.

## د طالبانو له خوا د " ملکيانو" تعريف

*طالبان دوامداره ملکي وګړي داسې تعريفوي " هغه کسان چې په هيڅ ډول په نښته کې شامل نه وي: سپين ږيري ، ښځې ، ماشومان او عام وګړي چې په عام ډول ژوند کوي " .[۱۳۷] طالبان اعلانوي چې د دغو وګړو تر بريد لاندې راوستل او وژل " غير*

[۱۳۳] په ۲۰۱۳ کال کې يوناما ۱۴۹ پيښې مستندې کړي دي چې د هغو لپاره طالبانو مسووليت منلی دی ، چې دا د ۲۰۱۲ کال د دغه ډول پيښو په پرتله چې ۴۶ پيښې وې ، دی.

[۱۳٤] د طالبانو بيانيه " د ملکي تلفاتو په اړه د يوناما د اوسني راپور په وړاندې د اسلامي امارت غبرګون" ، د ۲۰۱۳ کال د جولای ۳۱ نېټه په: http://www.shahamt-english.com/index.php/paighamoonah/34995-rejoinder-of-the-islamic-emirate-about-the-recent-report-of-unama-regarding-the-civilian-casulties,accssed14,January2014.

[۱۳۵] په وسله واله شخړه کې د ملکيانو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۳ کال د يوناما د کال د نيمايي راپور کې د دې يادونه شوې ده چې طالبانو د ۵۲ بريدونو مسووليت په غاړه اخيستی دی چې په پايله کې يې ۵۷۱ ملکی تلفات رامنځته شول. د بېلګې په ډول دغه راپور د ۲۰۱۳ کال د اپريل ۳ نېټې هغه بريد ته مراجعه کوي چې د فراه په ولايت کې د فراه د ښار د محکمې په ودانۍ ترسره شو چې په کې ۳۳ تنه ملکيان و وژل شول اونور ۱۰۵ تنه ټپيان شول.

[۱۳٦] په راتلونکې برخه کې د طالبانو له خوا د ملکيانوتعريف وګورئ.

[۱۳۷] د طالبانو بيانيه " يوناما ته د دغه سازمان د يو اړخيزاو متمايل چلند په اړه پرانيستي ليک ، " د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ ۲۵ نېټه په : http://www.shahamat-english.com/index.php/paighamoona/29225-an-open-letter-to-the-unama-about-the-biased-behavior-of-this-organization,accessed 14 January2014.

*مشروع" دي.*[١٣٨] *طالبانوهمدارنګه د دې دعوه کړې چې یوناما " د کابل د ادارې چارواکي ، پولیس ، سرتیري ، استخباراتي کارکوونکي او د نورو حساسو او مهمو ادارو کار مندان د ملکیانو په ډله کې شمیري."* [١٣٩]

یوناما د دې یادونه کوي چې د طالبانو اعلامیه د "ملکیانو" د تعریف نه خو د یوناما د دریځ دقیقه څرګندونه ده او نه هم د شخړې د یو اړخ په توګه د طالبانو د هغو مکلفیتونوسره په سمون کې ده چې د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې یې هغوي باید د جګړې د یوه اړخ په حیث عملي کړي. یوناما په دې ټینګار کوي چې " ملکیان " د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې هغو کسانو ته ویيل کیږي چې هغوي د نظامي / نیمه نظامي ځواکونو غړي نه دي او نه هم د جګړې د یو اړخ د سازمان شوو وسله والو ډلو ( لکه سرتیري او په زیاتو حالاتو کې پولیس او استخباراتي کسان د دغه شان نظامي/ نیمه نظامي ځواکونو غړي دي چې په دې توګه " ملکیان " نه دي ) غړي دي.

د دې لپاره چې د " ملکیانو " په اړه پوه شو په دې کې هغه کسان شامل دي چې په مستقیم ډول په شخړو کې ونډه نه لري. ملکیان یواځې هغه مهال خپل  خوندي حالت له لاسه ورکوي چې وسله اخلي او په مستقیم ډول په نښتو کې شاملیږي او یا هم داچې د هغه وسله والې ډلې سره یوځای کیږي چې هغه د جګړې یو اړخ وي. په دې ډول د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې هغه کسان چې په دولتي ملکي ادارو کې په دندو ګمارل شوي دي ملکیان بلل شي ، ځکه چې هغوي په مستقیم ډول په نښتو کې ونډه نه لري ، او د ملکیانو په توګه تر هغې پورې پاتې کیږي څو پورې چې په مستقیم ډول په نښتو کې ګډون ونه لري او باید چې تر برید لاندې را نه شي.

## د ملکي تلفاتو د مخنیوي او د کمولو دتدابیرو په اړه د طالبانو اعلامیې

په ۲۰۱۳ کال کې طالبانو اعلان کړه چې هغوي د دې لپاره نوي ګامونه پورته کړي دي څو چې د ملکي تلفاتو مخنیوی وکړي. په هغه مرکه کې چې د جون د میاشتې په ۱۷ نیټه خپره شوه طالبانو اعلان کړه چې " د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره یې د نظامي کمیسیون تر څارنې لاندې ځانګړې کمیټه " جوړه کړې ده.[١٤٠] دغې مرکې دا په ډاګه کړه چې د طالبانو د ځانګړې کمیټې طرزالعمل په ۱۶ مادو متمرکز و او دا چې یوڅو په نښه شوې برخې یې عوامو ته نشرشوې. د لومړۍ مادې له مخې د ځانګړې کمیټې اساسي مسوولیت دا و چې د هغو تلفاتو په اړه چې طالبانو ته منسوب دي" معلومات راټول کړي هغه و ارزوي او د ملکي تلفاتو په اړه د اسلامي امارت مشرتابه ته راپور واستوي".[١٤١] دریيمه ماده د دې غوښتنه کوي چې کمیټه باید په دقیق ډول د طالبانو له خوا د " بې غورۍ" پیښې وڅیړي او چېرته چې مسوول کسان و پیژندل شي نو سرغړونکي باید شرعي عدالت د مجازاتو لپاره راجع شي.[١٤٢] د دغې کمیټې اړیکي په عام ډول د لاس رسي  وړ وې.[١٤٣]

په همدغه مرکه کې راپور ورکړل شوی چې نوموړې کمیټې نهه دغه ډول قضیې ثبتې کړي  چې طالبانو بې تفاوتي او بې غوري کړې  او له امله یې ملکي تلفات رامنځته شوي چې د دی څخه  څلور پیښې په هلمند ، دوه په کندهار اویوه یوه پیښه یې په فاریاب ، وردکو او د زابل په ولایتونو کې رامنځ ته شوي .[١٤٤] په مرکه کې وړاندې ویيل شوي دي چې دغه قضیې به " په نږدې راتلونکې"کې د  شرعی محکمی ته راجع شي. تر نن پورې طالبانو د دغو قضیو په اړه معلومات نه دي وړاندې کړي.

یوناما په دې ټینګار کوي چې دغه شان یو میکانیزم – باید با اعتباره وي - باید  " ملکِي وګڼي" د تعریف سره سم د بشر پالنې د نړیوال قانون د تعریف له مخې چلند وشي او باید په دې موخه وي چې د شخړې ټول اړخونه خپل مکلفیتونه تر سره

---

[١٣٨] مخکینی ماخذ.

[١٣٩] د طالبانو اعلامیه " د ملکي تلفاتو په اړه د یوناما د اوسني راپور په وړاندې د اسلامي امارت غبرګون" ، د ۲۰۱۳ کال د جولای ۳۱ ، په : http://www.shahamt-the-recent-report-of-unama-regarding-the-civilian-casulties,accessed 16 January.

[١٤٠] د طالبانو بیانیه " د ملکي زیانونو د مخنیوی په اړه د ځانګړې کمیټې د رییس ښاغلي سرحدي سره مرکه"، د ۲۰۱۳ کال د جون ۱۷ نیټه په: http://www.shahamt-englissh.com/index.php/interview/32843-interview-with-mr-sarhadi,-the-director-of-the-special-committee-for-the-prevention-of-civilian-losses,accessed 14 January 2014.

[١٤١] مخکینی ماخذ.

[١٤٢] مخکینی ماخذ.

[١٤٣] د طالبانو اعلامیه ، د هغوي د پښتو په ویب پاڼه کې :" د افغانستان د اسلامي امارت د نظامي چارو کمیسیون د ملکي تلفاتو د مخنیوي اداره" په: htpp://shahamat.info/index.php/paighamoona/42293-accessed 14/01/2014.

[١٤٤] مخکینی ماخذ.

کړي چې په نړیوال قانون کې راغلي دي. دا هم واضح نه ده چې طالبان " د بې غوری هغه اعمال چې په کې ملکي تلفات رامنځته کیږی" د خپلو داخلي ځیړنو او شرعي محکمو ته د راجع کولو لپاره څه ډول تعریفوي.

د دې سربېره په ۲۰۱۳ کال کې د ځانګړې کمیټې په اړه د طالبانو په اعلامیو کې د ملکي تلفاتو د کمولو د تدابیرو په اړه نور تاکید کړي دي. د بېلګې په ډول د کوچني اختر په ویاړ د طالبانو په هغه پیغام کې چې د اګست په ۶ نیټه خپور شو هغوي اعلاموي چې:

"... هغه کسان چې د مجاهد د نوم په ناوړه توګه کارولو سره عامو وګړو ته زیان اړوي او یا هغوي د تاوان لپاره اختطافوي او یاهم دا چې د جهاد تر نامه لاندې خپل شخصي هدفونه تعقیبوي هغوي نه خو مجاهدین دي او نه هم په اسلامي امارت پورې مربوط دي ".[145] په داسې حال کې چې دغه پیغام د هغو اختطافونو د مخنیوي په موخه و چې جرمي انګیزې ولري (د تاوان /غرامت لپاره)، خو دا داسې پیغام نه دی ، چې طالبان د دې څخه منع کړي چې دغه تاکتیک څخه د نورو موخو لپاره کار وا نه اخلي. د طالبانو له خوا د ملکیانو ډارونو ، تښتونو د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې د ټول هېواد په زیاتو برخو کې دوام درلود.[146]

د کوچني اختر په همدغه پیغام کې دا راغلي دي چې هغه طالبان چا چې د ملکي تلفاتو د پېښو په برخه کې " پرته له احتیاطه" عمل کړی دی باید مشرتابه ته معرفي شي او دا چې د قضایي محاکمو له خوا باید د هغوي قضیې تر تحقیق لاندې راشي.[147] د طالبانو له خوا د " بې احتیاطه عمل " تعریف په عام ډول نه دی واضح شوی او نه هم د هغو تدابیرو په اړه چې په دې پروسه کې نیول شوي دي معلومات برابر شوي.

په دې توګه د نومبر په ۲۷ نیټه طالبانو اعلان کړه چې هغوي هڅه کوي څو چې ملکیانو ته د زیان رسولو مخنیوی وشي (په دغې اعلامیې کې " د عوامو د پرګنو" برخې ته مراجعه).[148]

### د طالبانو له خوا د ملکي تلفاتو د مسوولیت په غاړه اخیستل

په ۲۰۱۳ کال کې طالبانو د ټولټال ۱۵۳ بریدونو مسوولیت په غاړه اخیستی دی چې په کې ملکیانو ته تاوان اوښتی دی[149]- چې دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۲۹۲ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[150] د یوناما تصدیقونو کې په ډاګه شوه چې دغه بریدونو کې ۹۴۴ ملکي تلفات رامنځته شوي دي (۳۰۲ ملکیان وژل شوي او ۶۴۲ ټپي شوي دي چې دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله په هغو تلفاتو کې چې طالبانو یې مسوولیت منلی دی ۱۳۶ سلنه زیاتوالی څرګندوي.)

د دغو بریدونو ډېری یې یا خو د بې توپیره تاکتیکونو د کارولو لکه د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو د چاودنو له امله په عامه ځایونو کې ترسره شوي ، یا د دندې د باندې د پولیسو اویا هغو پولیسو د په نښه کولو په پایله کې رامنځته شوي دي چې یواځې د ملکي قانون د تطبیق لپاره یې دنده تر سره کوله او یا هم داچې نیغ په نیغه ملکیان تر برید لاندې را غلي دي ،

---

[145] د طالبا نو بیانیه ، " د کوچني اختر په مناسبت د امیرالمومنین ( خداي دې وساتي ) د مبارکۍ پیغام "، د ۲۰۱۳ کال د اګست ۶ نېټه ، په:
http:// www. Shahamat-english .com /index.php/paighamoona/35234-message-of-felicitation-of-amir-ul-momineen-may-allah-protect-him-on-the-occasion-of-eid-ul-fitr,accessed 14 January 2014.

[146] د بشر پالنې نړیوال عرفي قانون چې په افغانستان کې په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې د پلي کولو وړ دی یرغمل نیول منع کوي. د الحاقي دوهم پروتوکول ۴ ماده (۲)(ج) وګورئ.

[147] " کله نا کله ، چې یو مجاهد د ملکي تلفاتو په برخه کې بې احتیاطه وي ، هغه باید مشرتابه ته راجع شي او وروسته له هغه چې وپیژندل شي نو باید چې عدلي محاکمو ته وسپارل شي. " ۱۴۰ پا ورقي وګورئ.

[148] " تاسو پوهیږئ چې دا جګړه او د دې لپاره زموږ چمتوالی یو اوږد مهاله چمتوالی دی ، نو ځکه موږ ټوله هڅه کوو چې عام وګړي متضرر نه شي څو چې هغوي هم د اوږدې مودې لپاره دغه لوړه روحیه او د جنګ مورال ولری. " د طالبانو اعلامیه " زبیح الله مجاهد: د ملګرو ملتونو هر راپور د امریکایي فلتر څخه تیریږي او د هغوي د غوښتنې سره سم نشر ته سپارل کیږي"، د ۲۰۱۳ کال د نومبر ۲۷ نېټه ، په :
http:// www.shahamat-english.com/index.php/interview/39994 -zabihullah-mujahid-each-of-the-united-nations-report-goes-through-the-american-filter-and-is-published-on-their-demand,accessed 16 January 2014.

[149] هغه پیښې چې په کې ملکیانو ته تاوان رسیږي په هغوکې د ملکیانو وژنې او ټپي کېدنې ، تهدیدونه ، ډارونې او ځورونې ، د معیشت د وسایلو له لاسه ورکول او د بشري حقونو څخه د بې برخې کېدلو اغیزې شاملې دي ، دبېلګې په ډول د ښوونځي او یا روغتیایي کتنځي ترل چې د ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي د برید په پایله کې رامنځته کیږي.

[150] د ۲۰۱۲ کال په اوږدو کې یوناما ۴۶ پیښې مستندې کړي دي چې طالبانو د هغوي مسوولیت منلی دی. په وسله واله جګړه کې د ملکیانو د ساتنې په اړه د یوناما کالنی راپور وګورئ ، ۲۷ مخ په :
fileticket=KOB5RL2XYcU%3D http://unama.unmissions.org/Link Click aspx?

په تېره بیا ملکي اداري پرسونل او ودانۍ. د ۱۴۹ بریدونو څخه پنځوو کې افغان ملي اردو او په نورو پنځوو کې افغان سیمه ییز پولیس هدف ګرځېدلي دي. په ډېرو دغو پېښو کې زیاته شمېره کې ملکي تلفات را منځته شوي دي. د بېلګې په توګه طالبانو د هغه برید مسوولیت په غاړه واخیست چې د هرات په ولایت کې د امریکې د متحده ایالاتو د قونسلګرۍ پرضد د سپتمبر په ۱۳ نېټه ترسره شو چې د هغه په پایله کې ۶۱ ملکي تلفات رامنځته شول. دغه برید کې اته ملکیان و وژل شول او ۵۳ تنه یې ټپیان کړل. ټول تلفات افغان وګړو ته وا وښتل چې په کې یواځې څلور تنه نړیوال کسان وو (غیر امریکایان) چې هغه قراردادي ساتونکي وو.[۱۵۱]

طالبانو پخپله ویب پاڼه کې او همدارنګه د عامه رسنیو د لارې د دغو بریدونو مسوولیت پخپله غاړه اخیستی دی. په ډېری بیانونو کې هغوي د دغو بریدونو ؛ چې زیاته شمېره کې تر سره شوي د موخه ییز هدف ، عملیاتي پرمختیاوو او تلفاتو په اړه چې دواړو خواوو ته اوښتي دي دوي یې د تفصیلاتو سره مسوولیت په غاړه اخیستی دی.[۱۵۲]

### د دولت پلوه ځواکونو لخوا د ملکي تلفاتو په هکله د طالبانو میاشتني بیانونه

طالبانو په ۲۰۱۳ کال کې د هغو میاشتنیو بیانونو په خپرولو پیل وکړ چې د ملکي تلفاتو پېښې په تفصیل سره وړاندی کړې چې د دوي د ادعا له مخې دغه تلفات دولت پلوه ځواکونو لخوا رامنځ ته شوي[۱۵۳]. طالبانو په خپلو بیانونو کې ټولټال ۲۷۷ پېښې مطرح کړي دی. یوناما ټولی ادعا شوی پېښې تعقیب کړي څو په دې توګه معلومه کړي چې آیا دا پېښی د یوناما لخوا مستندې شوی ، او دا پېښې د یوناما د ملکي کسانو د تلفاتو په ډیټابیس کې د هغوي لخوا شاملې شوی او که نه. یوناما موندلې چې د ۲۷۷ پېښو د جملې څخه یوازې ۹۱ پېښې ثبتې شوی ، نوری ۸۳ پېښې د یوناما لخوا تعقیب شوی او د پاته ۱۰۳ نورو پېښو سموالی چې په هغو کې دی ملکي کسان وي او د پوځې شخړې سره تړاو لري ، تصدیق کېدلای نه شي[۱۵۴].

د ۲۷۷ پېښو د جملې څخه چې د طالبانو په میاشتنیو بیانونو کې فهرست شوی ، یوناما مشاهده کړې چې په ۴۲ پېښو کې د ملکي تلفاتو ذکر شوی شمیر د یوناما د ثبت شویو پېښو سره سمون لري او پاته ۲۸ پېښې د یوناما د اسنادو څخه لوړې او نورې ۲۴ پېښې د یوناما د اسنادو څخه ټیټ ارقام ښي.

په داسې حال کې چې طالبانو په ټولو ۲۷۷ پېښو کې د ملکي تلفاتو مسولیت د دولت پلوه ځواکونو په غاړه اچولی ، د یوناما اسنادو د ۲۷۷ پېښو له جملې څخه ۷۱ پېښې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي. په ۱۱ نورو پېښو کې ، یوناما موندلې چې ملکي تلفات د متقابلو ډزو له امله رامنځ ته شوی او په ۸ نورو پېښو کې ملکي تلفات دولت ضد عناصرو ته منسوب شوی او په پاته څلورو پېښو کې تلفات کوم اړخ ته نه دي منسوب شوي.

د یوناما لخوا په نورو ۳۰ پېښو کې د ملکي تلفاتو کومې بېلګې نه دی موندل شوی او په نورو ۲۵ اضافی پېښو کې یوناما موندلې چې د طالبانو لخوا ادعا شوی تلفات ملکي تلفات نه وو. یوناما مشاهده کړې چې ۱۳ پېښې د پوځې شخړې سره تړاو نه لري ، او د پاته ۱۱۵ پېښو تلفاتو حیثیت تایئدولای نشي.

### د ملکي تلفاتو په اړه د طالبانو د غندنې او ردونې بیانونه

طالبانو د ملکي تلفاتو د یو شمیر پېښو چې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د چاودیدو په نتیجه کې را منځ ته شوی د مسولیت منل رد کړی او یا یې غندلی او د دی سره یې د دولت پلوه ځواکونو لخوا په عملیاتو کې د ادعا له مخی اوښتي ملکي تلفات هم غندلي دی. یوناما موندلې چې د ردونې او غندلو بیانونه اکثرا د ملکي تلفاتو د هغو پېښو په تعقیب پېښیږي کومې چې د دولت او نړیوالې ټولنې لخوا په پراخه کچه غندل شوې وي. د بېلګې په توګه ، د سپټمبر په ۷ ، د کنړ ولایت د وټه پور په ولسوالي کې نړیوالو پوځي ځواکونو هوایي برید ترسره کړ چې په نتیجه کې یې ۱۰ ملکي کسان ووژل شول او یوه

---

[۱۵۱] د طالبانو بیانیه ،"په هرات کې فدایي عملیاتو دښمن ته درانه تلفات وا ړول " ، د ۲۰۱۳ کال د سپتمبر ۱۳ نېټه په :
http:/www.shahamt-english.com/index.php/news/36970-heart-martyrdom-operation-causes-energy-heavy-losses,accessed 14 January 2014.

[۱۵۲] دبیلګې په ډول په هرات کې د امریکې د متحده ایالاتو د قونسلګرۍ پرضد برید چې دسپتمبر په ۱۳ وشو په دې پته وګورئ:
http:/www.shahamt-english.com/index.php/news/36970-heart-martyrdom-operation-causes-energy-heavy-losses,accessed 14 January 2014.

[۱۵۳] د طالبانو میاشتني بیانونه ته په لاندې اړیکه مراجعه وکړئ at http://www.shahamat-english.com/index.php/interview, accessed 14 January 2014 .

[۱۵۴] لومړی ضمیمی ته مراجعه وکړی: د طالبانو د بیانونو خلاصه او تحلیل. د یوناما لخوا د ۲۷۷ پېښو په اړه چې د طالبانو په میاشتنیو بیانونو کې فهرست شوی ، د غوښتنی په صورت کې تر لاسه کېدای شي.

نجلۍ ټپي شوه. طالبانو برید او د ملکي کسانو تلفات وغندل[۱۵۵]. د یوناما څېړنو د پېښې د پېښېدو او د ملکي تلفاتو د شمېر تصدیق کړی.

په یوه بله بیلګه کې ، د نومبر په ۱۸ ، د پکتیکا ولایت د خیرکوټ په ولسوالي کې د افغان ملي پولیسو په یوه پرېښودل شوې پوسته کې د یوې چاودنې په پایله کې ۶ ماشومان ووژل شول او ۲ نور ټپیان شول. طالبانو د دې پېښې د مسولیت څخه ډډه کړې او ادعا یې کړې چې دولت پلوه ځواکونو په سیمه کې تعبیه شوی چاودیدونکي توکي کارولي[۱۵۶]. یوناما مشخصه کړې چې چاودنه د نا چاودو توکو د یوې نا معلومه نوعیت په وسیله ترسره شوې.

د نومبر په ۱۹ ، د ارزګان ولایت په چورې ولسوالي کې نا څرګندو وسله والو د پولیو ۲ تنه واکسین کونکي وتښتول. د قربانیانو جسدونه د مرمیو او چاړې د ټپونو سره ۲ ورځې وروسته وموندل شول. په داسې حال کې چې د پېښې مسولیت هیڅ کومې ډلې په غاړه وا نه خیست ، طالبانو د یوه عام بیان په خپرولو سره د دې پېښې مسولیت رد کړ او پېښه یې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړه[۱۵۷]. یوناما دغه وژنې تصدیق کړی خو د ملکي تلفاتو مسولیت چا ته نه شي منسوب کولای.

**په مرستندویه کارکونکو د طالبانو بریدونه او د مسولیت ادعاګانې**

د طالبانو مشرتابه د عیدالفطر په مناسبت د اګست د میاشتې په شپږمه په خپل بیان کې ویلي ، د بشر پالنې هر سازمان "چې د سیاسي او جاسوسي انګیزو څخه پاک وي او د یرغلګرو لخوا د استخباراتي معلوماتو د راغونډولو او غیر اسلامي کړنو ته د خلکو د دعوت په موخه نه وي تاسیس شوی" د طالبانو تر کنترول لاندې سیمو کې د هغوي د اړوندو کمیسیونونو سره په همغږۍ کې خپل بشردوستانه فعالیتونه ترسره کولای شي[۱۵۸]. د ۲۰۱۳ کال د مۍ په میاشت کې په جلال اباد کې د سره صلیب د نړیوالې کمیټې (آی سی آر سی) په انګړ باندې د یوه برید په تعقیب طالبانو ورته بیان خپور کړ[۱۵۹]. د بیان سربېره ، یوناما د ۲۰۱۳ کال په ترڅ کې د بشر پالنې د سازمانونو په وړاندې یو شمیر بریدونه چې طالبانو یې مسولیت منلی ثبت کړي دي[۱۶۰].

د بېلګې په توګه ، د اګست په ۲۵ ، د هرات ولایت د ګلران په ولسوالي کې د یوه نړیوال نا دولتي سازمان ۵ تنه داخلي کارکوونکي او یو دولتي کارکوونکی چې د هغوي سره یې ګلران ولسوالي ته سفر کاوه وتښتول شول. ټول کارکوونکي د اګست په ۲۷ ووژل شول. طالبانو د دې پېښې مسولیت قبول کړ[۱۶۱]. د نومبر په ۲۷ ، د فاریاب د ولایت د پشتون کوټ په ولسوالي کې د پشتون کوټ او المار د ولسوالیو تر منځ په غځېدلې لویه لار د یوه نادولتي نړیوال سازمان ۶ تنه مرستندویه کارکوونکي و وژل شول او بل په جدي توګه ټپي شو. یاد نادولتي نړیوال سازمان د پېښې ژر وروسته په ولسوالي کې خپل فعالیتونه ودرول. طالبانو د پېښې مسولیت په غاړه واخیست.

یوناما یادونه کوي چې د بشر پالنې کارکوونکي د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې ملکي کسان دي او دې ته په کتو هغوي د بریدونو په وړاندې تر څو چې هغوي په مستقیمه توګه په شخړه کې ښکیل نه وي ، خوندي دي. د بشر پالنې د سازمانونو په

---

[۱۵۵] د طالبانو بیان ، د متحده ایالتنو د بې پیلوټه الوتکو په بریدونو کې د کنړ په ولایت کې ۱۶ بې ګناه ملکي کسان شهیدان ، په لاندې اړیکه مراجعه وکړئ ، http://www.shahamat-english.com/index.php/news/36679-us-drone-strikes-martyr-16-innocent-civilians-in-kunar, accessed 14 January 2014

[۱۵۶] د طالبانو بیان ، د ۷ ماشومانو د شهادت په هکله د اسلامی امارت توضیح ،د نومبر ۱۹ ، ۲۰۱۳ کال ، لاندې مراجعه وکړی ، http://www.shahamat-english.com/index.php/paighamoona/39762-islamic-emirate’s-spokesman’s-clarification-on-martyrdom-of-7-children, accessed 14 January, 2014

[۱۵۷] د طالبانو بیان ، د اربکېانو قومندان د چورې په ولسوالی کې دوه ملکي کسان په وحشانه توګه شهیدان کړي ، د نومبر ۲۳ ، ۲۰۱۳ کال ، لاندې مراجعه وکړی ، http://www.shahamat-english.com/index.php/news/39915-arbaki-commander-brutally-martyrs-2-civilians-in-chora, accessed 14 January 2014

[۱۵۸] مخکینی ماخذ.

[۱۵۹] په جلال اباد کې د ICRC د برید په هکله د اسلامی امارت د ویاند تبصره ، د می ۳۱ ، ۲۰۱۳ کال

[۱۶۰] "د ملی پیوستون ۶ اجیران" وژل شوی ، د اګست ۲۷ ، ۲۰۱۳ کال ، په لاندې اړیکه مراجعه وکړئ ، http://www.shahamat-english.com/index.php/news/36053-6-national-solidarity-program-hirelings-killed, accessed 14 January 2014

[۱۶۱] د فاریاب په ولایت کې د اکتید د موسسی د ۵ غړو وژل ، د نومبر ۲۷ ، ۲۰۱۳ کال ، لاندې مراجعه وکړی http://www.shahamat-english.com/index.php/news/40015-5-members-of-acted-killed-in-northern-faryab-province, accessed 14 January 2014

وړاندې بريدونه اساسي اړتياوو ته د ټولنې د لاسرسی مخه نيسي او همدارنګه د روغتيا او معارف په برخو کې د افغانانو د حقونو څخه سرغړونه ده.

## ۲. د شخړې د ښکېلو ډلو تر منځ ځمکنی ښکېلتیا: د ډزو په تبادله کې د ملکي کسانو ایساریدل

په ۲۰۱۳ کال کې ، یوناما د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ په ۹۶۲ ځمکنیو نښتو کې ۲۳۲۷ ملکي تلفات ثبت کړي دي (۵۳۴ ملکي کسان وژل شوی او ۱۷۹۳ ټپیان شوی دی)[۱۶۲]. او دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۴۳ سلنه لوړوالی ښيي.[۱۶۳] د ځای پرځای شویو چاودیدونکو توکو وروسته ، د نورو تاکتیکونو په پرتله ، د ځمکنیو ښکېلتیاوو په نتیجه کې زیات ملکي تلفات را منځ ته کیږي.

په ۲۰۱۳ کال کې ځمکنیو نښتو ښځو او ماشومانو ته زیات زیان اړولی. د دولت ضد عناصرو لخوا په ۲۰۱۳ کال کې ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو کارولو زیاتې ښځې او ماشومان وژلي ،[۱۶۴] د ځمکنیو نښتو په نتیجه کې زیاتې ښځې او ماشومان ټپیان شوي.

ځمکنۍ نښتې د زیاتو ښځو د تلفاتو باعث شوی (۳۳۴ تلفات ،۷۳ وژنې او ۲۶۱ ټپي کیدنې)[۱۶۵] - چې دا ۴۶ سلنه لوړوالی ښي او همدارنګه په ۲۰۱۳ کال کې د ټولو ښځو د ملکي تلفاتو ۴۵ سلنه جوړوي. په ورته ډول د ماشومانو لپاره ، ځمکنۍ نښتې د ډیرو ماشومانو د ټپي کیدنې باعث شوی (۶۴۱ تلفات ، ۱۳۷ وژنې او ۵۰۴ ټپي کیدنې) دا د ۲۰۱۲ کال نه وروسته ۵۹ سلنه لوړوالی ښي ،[۱۶۶] ، او په ۲۰۱۳ کال کې د ماشومان تلفات د ملکي تلفاتو ۳۷ سلنه جوړوي. په زیاترو ثبتو شویو پېښو کې ښځې او ماشومان یا خو د دواړه لورو تر منځ په ډزو کې بند پاته شوی او یا د مهماتو د منحرف کیدو په صورت کې د هغوي په کورونو لګیدیلی. .

### د ځمکنیو نښتو څخه د راولاړ شویو ملکي تلفاتو منسوبونه

د ځمکنیو نښتو ټولې پېښې چې ملکي خلکو ته یې تلفات اړولي ،له دی جملې څخه یوناما ۱۰۳۰ملکي تلفات (۲۶۶ وژنې او ۷۶۴ ټپي کیدنې) یا د ځمکنۍ نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو ۴۴ سلنه دولت ضد عناصرو ته منسوبوي.[۱۶۷]

یوناما د دولت پلوه ځواکونو د عملیاتو په نتیجه کې ټولټال ۳۷۵ ملکي تلفات (د ملکي کسانو ۹۹ وژنې او ۲۷۶ ټپي کیدنې) ثبت کړي دی او دا د ځمکنیو ښکېلتیاوو څخه د راولاړ شویو ټولو ملکي تلفاتو ۱۶ سلنه جوړوي.

یوناما نه شي کولای چې د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ د ځمکنیو نښتو څخه د را ولاړ شویو ټولو ملکي تلفاتو ۳۸ سلنه ملکي تلفات په مستقیم ډول کوم اړخ ته منسوب کړي. د ځمکنیو نښتو د دغو نا منسوب شویو پېښو په نتیجه کې ۸۷۷ ملکي تلفات (د ۱۵۹ ملکي کسانو وژنې او ۷۱۸ ټپي کیدنې) را منځ ته شوی.

د ځمکنیو نښتو څخه د را ولاړ شویو ملکي تلفاتو پاته دوه سلنه برخه په کنړ او ننګرهار ولایتونو کې د پولو په اوږدو د بولې پوری غاړې د توپونو ډزو ته منسوب شوی چې په نتیجه کې یې ۳۷ ملکي تلفات (۹ ملکي کسانو وژنې او ۲۸ ټپي کیدنې) را منځ ته شوی[۱۶۸]. د ځمکنیو نښتو ۳ پېښې چې په نتیجه کې یی یو ملکی شخص ووژل شو او ۷ تنه نور ټپیان شوی(۸ تنه ملکي تلفات) هیڅ نوعیت مالوم نه دی.

---

[۱۶۲] په دې ارقامو کې په افغانستان کې د پولی په اوږدو کې د راکټونو ډزی هم چې په پایله کې یی د ځمکنیو ښکېلتیاوو په نتیجه کې د 0,4 سلنی نه ټیټ ملکي تلفات اوښتی ، شامل دی.

[۱۶۳] په ۲۰۱۲ کال کې ، یوناما د ځمکنیو ښکېلتیاوو د ۷۵۶ پیښو څخه ۱۶۳۱ ملکي تلفات (۴۴۴ ملکي وژنی او ۱۱۸۷ ټپی کېدنی) ثبت کړي.
تبعیه شویو چاودیدونکو توکو د چولو په نتیجه کې د ۱۷۷ ښځو تلفات(۸۶ وژنی او ۹۱ ټپی کېدنی) ثبت کړي ، او د تبعیه شویو چاودیدونکو توکو د چولو په نتیجه کې د ۵۱۱ ماشومانو تلفات(۱۹۲ وژنی او ۳۱۹ ټپی کېدنی) ثبت کړي دی.

[۱۶۴] په ۲۰۱۳ کال کې ، یوناما د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د چولو په نتیجه کې د ۱۷۷ ښځو تلفات(۸۶ وژنی او ۹۱ ټپی کېدنی) ثبت کړي ، او د تبعیه شویو چاودیدونکو توکو د چولو په نتیجه کې د ۵۱۱ ماشومانو تلفات(۱۹۲ وژنی او ۳۱۹ ټپی کېدنی) ثبت کړي دی.

[۱۶۵] په ۲۰۱۲ کال کې ، یوناما د ځمکنیو ښکېلتیاوو په نتیجه کې ۲۲۹ ښځینه تلفات(۵۳ وژنی او ۱۷۶ ټپی کېدن) ثبت کړي دی.

[۱۶۶] یوناما د ځمکنیو ښکېلتیاوو په نتیجه کې د ماشومانو ۴۰۴ تلفات(۹۴ وژنی او ۱۰ ټپی کېدنی) ثبت کړي دی.

[۱۶۷] یوناما د هری ځمکنی نښتې پیښه چې په نتیجه کې یی ملکي تلفات را منځ ته کېږی د متعددو سرچینو سره ، د شاهدانو ، قربانیانو ، ټولنی ، ولسوالی د چارواکو او نورو اړوندو شریکبانو سره تصدیق کوی څو په دی توګه جوته کړي چې کوم اړخ د ملکي تلفاتو ، وژنو او ټپی کېدنو مسول دی ، د بیلګی په توګه ، کوم اړخ د هاوان ګولی فیر کړي دی.

[۱۶۸] په دې راپور کې د پولی پوری غاړی د راکټونو د ګولیو د وشتلو په هکله برخی ته مراجعه وکړی.

## افغان ملي امنيتي ځواکونو ته د امنيتي مسوليت لېږد او ملکي تلفات

په ۲۰۱۳ کال کې د ځمکنیو نښتو څخه د را ولاړ شویو ملکي کسانو مرګ ژوبله کې ډیروالی ، او ورسره د ښځو او ماشومانو د تلفاتو په برخه کې د ویرونکی زیاتوالی په شمول ، د شخړې بدلیدونکی محرکه قوه منعکسوي. د ۲۰۱۳ کال په ټوله موده کې ، یوناما د ځمکنیو نښتو څخه د را ولاړ شویو مخ پر زیاتېدونکې ملکي وژنو او ټپی کیدونو په خاص ډول ، په ملکي ګڼ مېشتو سیمو او هغو سیمو کې چې د دولت ضد عناصرو لخوا د افغان امنیتي ځواکونو په وړاندې بریدونه ترسره کیږي او هغه سیمو کې چې امنیتي مسولیتونه لېږدول شوی ، یو رابطه مشاهده کړي. د نړیوالو پوځي اډو تړلو او د ایساف په ځمکنیو او هوایي عملیاتو کې کموالی ، په خاص ډول د افغان امنیتي ځواکونو سره د ایساف ګډو ځمکنیو عملیاتو ، دولت ضد عناصرو ته په ځینو سیمو کې زیات خوځښت او ورتیا ورکړي ځو په افغان امنیتي ځواکونو بریدونه ترسره کړي. افغان امنیتي ځواکونه د تیرو کلونو په پرتله زیات فعال او د زیاتو بریدونو سره مخ شوی دي .

یوناما مشاهده کړي چې د دولت ضد عناصرو لخوا په افغان ملی امنیتي ځواکونو تکراري بریدونو ، د یرغلیزو عملیاتو او متقابلو حملو منظمی لړۍ ، روانو او دوامدارو شخړواو عملیاتو د زیات ملکي افغانانو مرګ ژوبلی ته زمینه برابره کړې ده.

د نړیوالو ځواکونو څخه افغان ملي امنيتي ځواکونو ته د امنيتي مسوليتونو د لیږد ۵ او وروستۍ مرحله د ۲۰۱۳ کال[۱۶۹] ، په جون کې پیل شو ه او په دی سره یې په ځینو سیمو کې چیرې چې افغان ملي امنيتي ځواکونه له وړاندې موجود نه وو امنیتي تشه را منځ ته کړه او په د ی سره ځینې سیمې د دولت ضد عناصرو د بریدونو هدف وګرځیدلي . د بېلګې په توګه ، په ننګرهار ولایت کې ، په زیاتو نا امنه ولسوالیو کې د امنیتي مسولیتونو د وروستنې لېږد په تعقیب ، د کال په دوهمه نیمایی کې د ځمکنیو نښتو څخه را ولاړ شوی ملکي تلفات دری برابره وه.[۱۷۰] د ۲۰۱۳ کال د جولای د میاشتې د ۱ نیټې څخه د ډسمبر د میاشتې تر ۳۱ نیټې پورې(د ۲۰۱۳ کال دوهمه نیمایی برخه) یوناما د ننګرهار په ولایت کې د ملکي تلفاتو ۱۴۰ پېښې ثبتې کړي دی(په دې کې د ملکي کسانو د وژل کیدو ۲۵ او د ټپی کیدو ۱۱۵ پېښې شاملې دي)، دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۱۵۰ سلنه زیاتوالی ښیي[۱۷۱] .

یوناما په هره سیمه کې د ځمکنیو نښتو څخه زیات را منځ ته شوی ملکي تلفات ثبت کړي دی[۱۷۲] . د بېلګې په توګه په جنوبي سیمه کې ، د ځمکنیو نښتو څخه را منځ ته شوی ۳۶۱ ملکي تلفات نږدې دری برابره شوی(په دې کې د ملکي کسانو د وژل کیدو ۵۴ او د ټپی کیدو ۳۰۷ پېښې شاملې دی)، دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ، ۱۸۴ سلنه زیاتوالی ښیي[۱۷۳] . یوناما د کنړ په ولایت کې د ځمکنیو نښتو څخه د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ ارقام یعنی د ملکي کسانو ۳۳۹ وژنې او ټپي کیدنې ثبتې کړي دی ، د دې وروسته د هلمند په ولایت کې (۲۷۶ ملکي تلفات) ، د ننګرهار په ولایت کې (۲۶۱ ملکي تلفات) ، د غزنی په ولایت کې (۱۶۰ ملکي تلفات) او د فاریاب په ولایت کې (۱۵۳ ملکي تلفات) ثبت کړی دی.

---

[۱۶۹] ناتو ، د ناتو عمومي منشي د افغان لېږد د اعلان هرکلی کوی ، د جون ۱۸ ، ۲۰۱۳ کال ،

[۱۷۰] د ناټو د افغانستان د لېږد نقشی ته مراجعه وکړی ، T1 to T5 ، http://www.nato.int/nato_static/assets/pictures/stock_2013/20130618_130618-afghan-transition-tranche5-bg.jpg


[۱۷۱] د ۲۰۱۲ کال د جولای د لومړی نیټی نه د ډسمبر تر ۳۱ نیټی پوری ، د ننګرهار په ولایت کې د ځمکنی نښتو له امله ۱۵ ملکي کسان وژل شوی او ۴۱ ټپیان شوی دی( ۵۶ ملکي تلفات)

[۱۷۲] یوناما همدارنګه د دولت ضد عناصرو لخوا د نا متوازن تاکتیکونو دوامداره کارول ، په تېره بیا ، د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو کارول ، هدفی وژنی او د ملکي دولتی کارکونکو په وړاندی بریدونه لکه څنګه چې په دی راپور کې څرګند شوی هم ثبت کړي.

[۱۷۳] په ۲۰۱۲ کال کې ، یوناما د هیواد په جنوبی سیمه کې د ځمکنیو ښکېلتیاوو له امله ۱۲۷ ملکي تلفات(د ملکي کسانو ۶۴ وژنی او ۶۳ ټپی کېدنی) ثبت کړي دی

**د ملکیانو مرګ ژوبله : په سیمه ییزه کچه تولی ځمکنی نښتي**

**د جنوری څخه تر دسمبر : ۲۰۰۹-۲۰۱۳**




| | مرکزی سیمه | مرکزي لوړه سیمه | ختیځ | شمال ختیځ | شمال | سویل ختیځ | سویل | لودیځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2009 | 139 | 0 | 430 | 68 | 100 | 289 | 375 | 28 |
| 2010 | 192 | 8 | 535 | 128 | 125 | 496 | 543 | 83 |
| 2011 | 276 | 1 | 578 | 51 | 60 | 549 | 470 | 77 |
| 2012 | 325 | 3 | 507 | 56 | 181 | 348 | 127 | 84 |
| 2013 | 358 | 12 | 726 | 129 | 196 | 393 | 361 | 152 |

د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ د ځمکنیو نښتو  څخه د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو ځرګندی بېلګې:

- د اګسټ په ۲ ، دولت ضد عناصرو د پکتیا ولایت په ګردیز کې د افغان ملي پولیسو په مرکز دوه راکټونه و توغول. یو راکټ په یوه ملکي کور ولګېد چې په نتیجه کې یې دوه ماشومان مړه او بل ټپی کړ. د راپور له مخې ټول قربانیان ورونه او د ۱۵ کلونو څخه د ټیټ عمر کسان وو.
- د اکتوبر په ۱۳ ، دولت پلوه ځواکونو د کنړ ولایت د اسد آباد د ښار  په جنوب کې د عملیاتی اډی څخه د توپونو ګولې و توغولې. د توپ یوه ګولی د استوګنې په یوه سیمه ولګېده چې په نتیجه کې یې دوه ماشومان چې عمرونه یې ۱۲ او ۱۳ کلونه وه و وژل. په دې پیښه کې دوه ښځې او یوه ۸ کلنه نجلۍ هم ټپیانی شوی.
- د اکتوبر په  ۳۰ ، دولت ضد عناصرو د هرات ولایت په شینډنډ ولسوالۍ کې د افغان سیمه ییزو پولیسو دوه تنه و وژل. افغان سیمه ییزو پولیسو ځوابي برید وکړ چې په نتیجه کې یې اوږدی ډزې تبادله شوی او په ترڅ کې یې یوه ښځه او یوه نجلۍ و وژل شوی ا و د یوې ښځې ، یوه ماشوم او دوو نارینه وو په ګډون ۴ تنه ملکي کسان ټپیان شول. طالبانو په خپله ویب پاڼه کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د وژلو مسولیت په غاړه واخیست.
- د ډسمبر په ۱۴ ، دولت ضد عناصرو د لوګر ولایت د برکی برک په ولسولی کې د ولسوالي په اداری مرکز یو فیر راکټ و توغاوه. راکټ په خپل هدف و نه لګید او د یوې عالي لیسی سره نږدې ولګېد چې په نتیجه کې یې یو ۱۲ کلن ماشوم ټپی شو. افغان امنیتي ځواکونو ځوابي برید وکړ او د ولسوالي د اداری تعمیرونو څخه یې په هره خوا د هاوان ګولی فیر کړي. د راکټ دری ګولی په یوه کلی کې د لوبو په یوه میدان کې چې د ولسوالي د مرکز څخه په ۵ کیلو متره واټن کې پروت دی اصابت وکړ چې په نتیجه کې یې ،دوه ماشومان ووژل شول ، یو ملکي شخص او ۵ نور ماشومان ټپیان شول چې عمرونه یې د ۳ او ۱۵ کلونو تر منځ وو.
- د ډسمبر په ۱۵ ، دولت ضد عناصرو د ننګرهار ولایت په خوګیانی ولسوالي کې د افغان ملي اردو په یوه کاروان برید وکړ چې په نتیجه کې یې سپکی او درنی وسلې و کارول شوی. د ډزو د تبادلې پر مهال ،  یو راکټ د استوګنې په یوه سیمه ګوزار شو چیرې چې ماشومانو لوبې کولې ولګېد. په نتیجه کې ۷ ماشومان- ۵ هلکان او دوه نجونې چې عمرونه یې د ۴ او ۱۰ کلونو تر منځ وه ټپیان شول.

### په ملکي سيمو کې غير مستقيمې دزې: په ځمکنيو نښتو کې د هاوانونو او راکټونو له امله ډيريدونکي ملکي تلفات

يوناما د ځمکنيو نښتو پر مهال د شخړې د ښکيلو خواوو لخوا د غير مستقيمو ډزو د کارولو په هکله ، د بېلګې په توګه د هاوانونو او راکټونو د استعمال په اړه خاصه اندېښنه لري. هوانونه او راکټونه د ځمکنيو نښتو څخه د رامنځ ته شويو ۱۰۲۶ ملکي تلفات چې د ځمکنيو نښتو د تلفاتو ۴۴ سلنه جوړوی ( ۲۰۹ ملکی کسانو مړينه او ۸۱۷ کسانو ژوبله شامل ده ) چې دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۵۷ سلنه زياتوالی ښييي[١٧٤].

يوناما د هوانونو او راکټونو څخه د رامنځ ته شويو ملکي تلفاتو ۶۶ سلنه دولت ضد عناصروته ، ۲۴ سلنه دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي خو بيا ۶ سلنه يې هيڅ يو لوری ته نه ده منسوب کړی او پاته ۴ سلنه د پولی د بلي خوا د توپونو ډزو ته منسوب کړي[١٧٥].

که څه هم چې دولت ضد عناصر د زياترو پېښو لامل دی ، خو غير مستقيمې ډزې په خاص ډول د دولت پلوه ځواکونو لخوا د هوانونو د ګوليو ويشتل تر ډېره بريده زيات شوی دی. يوناما ۲۵۰ ملکي تلفات ثبت کړي (په دې کې د ملکي کسانو د وژنې ۵۳ او د ټپی کيدنو ۱۹۷ پيښې) چې د دولت پلوه ځواکونو لخوا د هوانونو او لاسي بمونو په بڼه کې کارول شوی ، شاملې دی ، [١٧٦]دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۳۸۱ سلنه زياتوالی دی[١٧٧]. د بېلګې په توګه ، د سپټمبر په ۷، د افغان ملي پوليسو لخوا د بدخشان ولايت په وردوج ولسوالي کې د هاوان د يوې ګولۍ له امله چې په يوه ملکي استوګنځای لګيدلی د يوې ښځې د مړينې او دريو ماشومانو او يوې ښځې د ټپی کيدو لامل شوی.

د ملکي کسانو د وژنې او معيوبيت سربېره ، د ځمکنيو نښتو پر مهال د هاوانونو او لاسي بمونو کارول په بل القوه توګه سيمې په نا چاودو توکو ککړوی. په اوس حال کې د نا چاودو توکو د معلومولو ،علامه ګذاری کولو او پاکولو په اړه چيرې چې ځمکنی نښتی ترسره شوی ، کومې پاليسی ګانی او عملياتی طرزالعملونه شتون نه لري.

يوناما همدارنګه د فارياب ولايت د المار د ولسوالي څخه راپورونو تصديق کړي په کومو کې چې د اکتوبر د مياشتې په ۳۱ نيټه د افغان ملي پوځ د پوځي عملياتو په ترڅ کې د هاوان د ګولی د ويشتلو له امله ۲۲ کورونه ويجاړ شوی يا زيانمن شوی او همدارنګه ۱۸ عرادی موټرسايکلونه سوځيدلی او يا هم ضبط شوی.

د بشر پالنې نړيوال قانون تصريح کوي چې د شخړې ښکيلې خواوې- د طالبانو او افغان ملي امنيتي ځواکونو په شمول- د بريدونو د اغيزو په وړاندې د ملکي کسانو او ملکي اهدافو د خونديتوب په موخه عملي احتياطي تدبيرونه ونيسي. په دې احتياطي تدبيرونو کې ملکي کسانو ته مخکينۍ خبرتياوې ، د وسله والو نښتو د مناسبو ميتودونو انتخاب او ملکي سيمو ته نږدې د پوځي موخو د ځای په ځای کولو څخه مخنيوی شامل دی[١٧٨]. يوناما په ځانګړې توګه د ښکيلو خواوو څخه غوښتنه کوي څو په ګڼ مېشتو ملکي سيمو کې د هاوانونو او لاسي بمونو د کارولو څخه ډډه وکړي.

---


[١٧٤] په ۲۰۱۲ کال کې ، يوناما د ځمکنيو عملياتو پر مهال ،د شخړې د ټولو ښکېلو خواوو لخوا د هاوانونو ، لاسی بمونو او راکټونو د کارولو له امله ۶۵۲ ملکي تلفات(د ملکي کسانو ۱۳۲ وژنې او ۵۲۰ ټپی کېدنی ) ثبت کړي دی.

[١٧٥] د ۲۴ سلنی ملکي تلفاتو د جملی څخه چې د هاوانونو او راکټونو د ويشتلو له امله دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوی ، يوناما ۸۰ سلنه افغان ملی امنيتی ځواکونو ، ۷ سلنه نړيوالو پوځی ځواکونو او ۱۳ سلنه دواړو ډلو ته منسوب کړي.

[١٧٦] د هاوانونو د ويشتلو له امله د ۲۵۰ ملکي تلفاتو د جملی څخه چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوی ، ۸۰ سلنه افغان ملی امنيتی ځواکونو ته منسوب شوی ، ۷ سلنه ايساف او ۱۳ سلنه افغان ملی امنيتی ځواکونو او ايساف ته په ګډه منسوب شوی ، او يا کوم خاص دولت پلوه ځواک ته نه دی منسوب شوی.

[١٧٧] په ۲۰۱۲ کال کې ، يوناما ۵۲ ملکي تلفات(د ملکي کسانو د وژل کېدو ۱۸ او ټپی کېدو ۳۴ پيښی)ثبت کړي ، چې په مستقيم ډول د دولت پلوه ځواکونو لخوا د هاوانونو او لاسی بمونو کارولو ته منسوب شوی.

[١٧٨] ۲۱-۱۵ قاعده ، په بريدونو کې احتياط او قواعد ۲۴-۲۲ ، د بريدونو د تاثيراتو په وړاندی احتياطی تدابير. ای سی آر سی ،نړيوال بشر دوستانه عنعنوی قانون ، لومړی ټوک ، {{Rules ed. Jean-Marie Henckaerts and Louise Doswald-Beck (CU P/ICRC, Cambridge 2005) {ICRC Study




**دولت ضد عناصر: د ځمکنیو نښتو څخه را منځ ته شوي ملکي تلفات**

دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو ځمکنیو نښتو څخه را منځ ته شوی ملکي تلفات په ۲۰۱۳ کال کې د ۱۰۳۰ ملکي تلفاتو په درلودلو سره(د ۲۶۶ملکي کسانو وژنې او ۷۶۴ ټپي کیدنې) ۱۷ سلنه زیات شوی[۱۷۹]. د افغان ملي پوځ په وړاندې د دولت ضد عناصرو لخوا په بریدونه کې د ملکي تلفاتو کچه د ۲۰۱۲ کال د ۹۴ پیښو په پرتله په ۲۰۱۳ کال کې ۱۳۰ پیښو ته لوړه شوی. که څه هم چې په ۲۰۱۳ کال کې د افغان ملي پوځ په وړاندې بریدونه زیات شوی ، ښکاري چې دولت ضد عناصرو د افغان ملي پولیسو او افغان سیمه یزو پولیسو په وړاندې په زیاتېدونکې توګه په خپلو بریدونو تمرکز کړی ځکه چې دوی په اسانه هدف ګرځېدلای شي او همدا ملي او سیمه ییز پولیس زیاتو تړلنو ته د امنیت د راوستلو مسولیت لري.

د ملکي ګڼ مېشتو سیمو په نږدېوالي کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ځای پر ځای کیدو په وړاندې د دولت ضد عناصرو لخوا د بریدونو د ترسره کولو په نتیجه کې د زیاتو ځمکنیو ښکېلتیاوو له امله ملکي تلفات را منځ ته کیږي. په دې حواله ، یوناما د ځمکنیو ښکېلتیاوو څخه د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو ۲۲۲ پیښې چیرې چې دولت ضد عناصرو په افغان ملي پولیسو بریدونه ترسره کړي ثبتې کړي ، دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۳۶ سلنه زیاتوالی دی[۱۸۰]. د افغان سیمه ییزو پولیسو په وړاندې د دولت ضد عناصرو د بریدونو په پایله کې ملکي تلفات نږدې دوه برابره شوي. په ۲۰۱۳ کال کې د ۴۷ ثبت شویو پیښو په درلودلو سره ، دا ارقام د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۹۵ سلنه زیاتوالی ښي[۱۸۱].

یوناما مشاهده کړي چې د عملیاتو د ترسره کولو پرته افغان ملي پولیس په عمومي ډول په خپلو اډو کې پاتې شوی ، افغان ملي پولیس او افغان سیمه ییز پولیس په ټولنو کې په پراخه پیمانه ځرګند او د لیدو وړ وه او په ټولنو کې او یا ټولنو ته نږدې سیمو ، مارکیټونو ، عامه سړکونو او نورو ملکي ګڼ مېشتو سیمو کې یې د تلاشي پوستې فعالي ساتلې وې. دغه ځرګندوالي د دوی د اغیزمنتوب کچه د دولت ضد عناصرو د بریدونو په وړاندې لوړه کړې او د دې په نتیجه کې اکثرا ملکي کسان په خاص ډول ښځې او ماشومان د دړو په تبادله کې ایسار پاتې شوی دی. د بېلګې په توګه ، د مارچ په ۱۲ ، دولت ضد عناصرو د هلمند ولایت د موسی کلا په ولسوالي کې د افغان ملي پولیسو په یوه پوسته برید وکړ. د افغان ملي پولیسو د ځوابي برید پر

---

[۱۷۹] په ۲۰۱۲ کال کې ، یوناما ۸۸۰ ملکي تلفات(د ملکي کسانو ۲۱۶ وژنې او ۶۶۴ ټپی کېدنی) ثبت کړي چې د ځمکنیو عملیاتو پر مهال ترسره شوی دولت ضد ځواکونو ته منسوب کړي.

[۱۸۰] په ۲۰۱۲ کال کې ، یوناما د افغان ملی پولیسو په وړاندی د دولت ضد عناصدو لخوا ۱۶۳ پیښې ثبتی کړي چې د دې بریدونو په نتیجه کې فرعی زیانونو او یا د ملکي قانون د پلی کولو په چارو کې بوخت پولیس او یا هغه پولیس چې د بریدونو په وخت کی په دندو حاضر نه وه ، شامل دی.

[۱۸۱] په ۲۰۱۲ کال کې ، یوناما د دولت ضد عناصرو لخوا د افغان سیمه ییزو پولیسو په وړاندی ۲۴ پیښې چې په نتیجه کې یی ملکي تلفات را منځ ته شوی ثبت کړي.

مهال ، د دولت ضد عناصرو لخوا د راکټ یوه توغول شوی ګولی د خپل هدف څخه منحرفه او په یوه ځایی کور ولګېده چې په نتیجه کې یې دوه نجونې و وژل شوی او یوه بله ټپی شوه.

که څه هم چې د دولت ضد عناصرو لخوا زیاتره ځمکنی نښتې د امنیتي ځواکونو هدف ګرځولو په موخه ترسره شوی ، یوناما په یو شمیر زیاتو ځمکنیو نښتو کې د دولت ضد عناصرو لخوا په قصدی ډول د ملکي کسانو هدف ګرځول ثبت کړي دی. په دې حواله ، یوناما د ځمکنیو نښتو پر مهال د دولتي ملکي کارکونکو د ډلو ، دولتي ملکي د فترونو او ودانیو او نورو ملکي موقیعتونو په وړاندې د بریدونو ۱۹۶ پیښې ثبت کړي دی[۱۸۲]. د دې بریدونو په پایله کې ۳۷۹ ملکي تلفات یعنی(د ۹۴ ملکي کسانو وژنې او ۲۸۵ ټپي کیدنې) را منځ ته شوی.

## افغان ملي امنیتي ځواکونه: د ځمکنیو ښکېلتیاوو څخه را منځ ته شوي ملکي تلفات

یوناما په ۲۰۱۳ کال کې د ځمکنیو نښتو په نتیجه کې ۳۷۵ ملکي تلفات (۹۹ ملکي کسانو وژنې او ۲۷۶ ټپي کیدنې) چې په ټولیز ډول افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب کیږي ثبت کړي . دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله په ټولیز ډول ۱۲۹ سلنه زیاتوالی ښيي[۱۸۳].

دا د ۱۳۴ ځمکنیو نښتو د پیښو جزئی تقسیم او تجزیه ده چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب او په لاندې ډول وړاندې کیږي:

- د ۱۲ پیښو په نتیجه کې ۹ ملکي کسان وژل شوی او ۵۲ ټپیان شوی(۶۱ ملکي تلفات) یوازې افغان ملي پولیسو ته منسوب شوی.
- د ۳۱ پیښو په پایله کې ۲۱ ملکي کسان وژل شوی او ۷۱ ټپیان شوی(۹۲ ملکي تلفات) یوازې افغان ملي پوځ ته منسوب شوی.
- د ۱۸ پیښو په پایله کې ۷ ملکي کسان وژل شوی او ۲۲ ټپیان شوی(۲۹ ملکي تلفات) یوازې افغان ملي پولیسو ته منسوب شوی.
- د ۱۵ ځمکنیو نښتو په نتیجه کې ۱۱ ملکي کسان وژل شوی او ۱۵ ټپیان شوی(۲۶ ملکي تلفات) یوازې نړیوالو پوځي ځواکونو ته منسوب شوی.

پاته پیښې او تلفات د افغان ملي امنیتي ځواکونو او نړیوالو پوځي ځواکونو د ګډو عملیاتو په ترڅ کې پیښ شوی.

## د ځمکنیو ښکېلتیاوو پر مهال د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا د بشري حقونو سرغړونی لوټ مار

*د تلاشي کوم عملیات؟ یوازې چور او چپاول وه. د افغان ملي پوځ او افغان ملي پولیسو نقلیه وسیلی د کلی په عام سړک تم وي خو یوازې اربکیانو کورونه تلاشي کول. افغان ملي پولیس او افغان ملي پوځ په هر هغه څه چې دلته واقع شول خبر دی. هغوی د تلاشي لپاره نه بلکه د چور او چپاول لپاره راغلی وو. زموږ شیان د افغان ملي پولیسو پوستی ته راوړل شوی وه.*

-- د کندز د ولایت د انځر کل د کلی څخه ښځینه عینی شاهده[۱۸۴]

په ۲۰۱۳ کال کې د ځمکنیو ښکېلتیاوو پر مهال د ځینو افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا د بشري حقونو د سرغړونو په هکله راپورونه د ځانګړی اندیښنې وړ وو. یوناما د ملکي کسانو د وهلو، د جایدادونو د ویجاړولو، او د شخصي شتمنیو ،موټرسایکلونو ، پیسو ،جواهراتو او ارزښت لرونکو توکو د غلا په هکله معتبر راپورونه ترلاسه کړي دی.

[۱۸۲] د افغانستان د دولت سره د ګمانی ملاتړ له امله د ملکي کسانو د وژلو او یا د کورنیو اړیکو له امله د وژنو په هکله په دې راپور کې اړوندی برخی ته مراجعه وکړی چې د ملکي کسانو په وړاندی ۲۴۶ بریدونه تر پوښښ لاندې نیسی. د ځمکنیو نښتو پر مهال د ملکي کسانو په وړاندی د بریدونو پیښی په دې برخه کې ځای شوی.

[۱۸۳] په ۲۰۱۲ کال کې ، یوناما د دولت پلوه ځواکونو لخوا د ځمکنیو عملیاتو د ترسره کولو په ترڅ کې د ۱۶۴ ملکي تلفاتو پیښی( د ملکي کسانو ۷۴ وژنی او ۹۰ ټپی کېدنی) ثبت کړي دی.

[۱۸۴] د ښځینه شاهدانو سره د یوناما مرکه ، ۱۳ سپتمبر ، ۲۰۱۳ کال ، کندز

د ببلکې په توګه ، د ۲۰۱۳ کال د سپټمبر د ۱۱ نه تر ۱۵ نیټې پورې ، افغان ملي پولیسو او افغان ملي پوځي ځواکونو چې ملاتړ یې د دولت پلوه پوځي ډلو لخوا کیده د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالي کې د تلاشي عملیات ترسره کړل[۱۸۵] . د دې عملیاتو موخه د دولت ضد هغو شکمنو عناصرو کوم چې د دشت ارچی د ولسوال په وژلو کې ښکیل وه چې د ۲۰۱۳ کال د اګست د میاشتې په ۳۰ نیټه ترسره شو ، په نښه کول وه. دولت پلوه پوځي ډلو ،د افغان ملي امنیتي ځواکونو په بشپړ ملاتړ د کورونو تلاشي ترسره کړه چې د دې په نتیجه کې یې ګرځنده ټلیفونونه، نغدی پیسی، سره زر، جواهرت ،قرطاسیه ،حاصلات او څاروی غلا کړل. یو شمیر موټر سایکلونه یې هم غلا کړل. پوځي ډلو ۱۰ تر ۱۵ کسانو په خاص ډول مشران او عالمان چې د دوي په ګمان د یاغیتوب ملاتړ کوي و ډبول. یوناما همدارنګه د تلاشي پر مهال د پوځي ډلو د غړو لخوا پر یوې ښځې د جنسی تیری د ادعاګانو راپور هم تر لاسه کړی[۱۸۶] .

د اکتوبر په ۳۱ په یوه بل عملیات کې ، افغان امنیتي ځواکونو د فاریاب ولایت د المار په ولسوالي کې د طالبانو په وړاندې عملیات پیل کړل[۱۸۷] . د طالبانو ځوابي برید چې دوه ورځې یې دوام وکړ او په نتیجه کې یې د دواړو ډلو لخوا درنی او سپکی وسلې وکارول شوی. د عملیاتو په نتیجه کې ۵ ملکي کسانو ته مرګ ژوبله وا وښتله (دری نارینه او دوه ځوانی نجلۍ) او ۱۲ نور ملکي کسان ټپیان شول (په ترتیب ۴ نارینه ، ۴ ښځې او ۴ نجونې). یوناما راپورونه تصدیق کړي چې د افغان ملي پوځ د قصدی عملیاتو او هاوانونو د فیر کولو له امله ۲۲ کورونه ویجاړ او زیانمن شوی دی. ټولټال ۱۸ عرادی موټرسایکلونه یا خو د افغان ملي پوځ لخوا سوځول شوی او یا ضبط شوی دی.

[۱۸۵] د ۲۰۱۳ کال د سپټمبر د ۱۴ نه تر ۳۰ نیټی پوری ، یوناما په کندز کې د ولسوالی او ولایت په کچه د افغان امنیتی ځواکونو او ولایتی چارواکو په شمول د ۱۰ څخه د زیاتو قربانیانو ، شاهدانو ، ټولنی د استازو او د کلی د مشرانو سره مرکې کړي دی.

[۱۸۶] قربانیانو ته د نه لاسرسی او امنیتی اندیښنو له امله ، یوناما د دغو ادعاګانو په تصدیق کولو و نه توانیدله. یوه دولتی چارواکې یوناما ته راپور ورکړ چې د یوی ښځې د وهلو شاهد وه ، یوه سړی یوه دولتی چارواکې ته شکایت کاوه چې د هغه په ړندو جنسی تیری شوی. یوی اعتبار لرونکې سرچینی راپور ورکړی چې د ترکښان په کلی کې د نهر جدید په ۴ کورونو کې جنسی تیری ترسره شوی دی. یوی بلی سرچینی یوناما ته ویلی چې دری جنسی تیری چې په حاجی زرغون کې دوه او په امیر ملوک کې یو جنسی تیری ترسره شوی دی. د یوی بلی سرچینی په حواله ، د دشتی ارچی ولسوالی د محمد علم په کلی کې د یوه ادعا شوی یاغی په نامزاده باندی د ۵ وسله والو لخوا جنسی تیری شوی.


[۱۸۷] د اکتوبر د ۳۱ نه د نومبر تر ۲۰ پوری ، یوناما د قربانیانو ،شاهدانو ،د ټولنی د استازو او د کلی د مشرانو سره متعددی مرکې ترسره کړي دی. یوناما همدارنګه د ولسوالی او ولایت په کچه د افغان امنیتی ځواکونو او ولایتی چارواکو سره مرکې ترسره کړي ، او د ګرځنده موبایل له لاری د کورونو د سوځولو او د جایداد د له منځ وړلو اخیستل شوی ویډیو یی بیا له نظره تېره کړه.

## ۳. دولت پلوه ځواکونه او د ملکي کسانو ساتنه

*دغه کوچنی نجلۍ د ۴ ورځو راهیسی دلته ده. دا ۴ کلنه ده. نوموړی د کومې پټې او پانسمان نه پرته د شپې نا وخته دلته را وړل شوه. نوموړی خپل مخ او دواړه سترګی له لاسه ورکړي دی. نوموړی همدارنګه د مټ یو ډیر جدی ټپ لري او ممکن خپل یو لاس هم له لاسه ورکړي. د نوموړی تولہ کورنی په هغه موټر کې چې دوي پکی سفر کاوه بمبارد شو او ټول پکی ووژل شوو. یوازې نوموړی ژوندی پاته شوه.*

-- دغه کوچنی نجلۍ د ۴ ورځو راهیسی دلته ده. دا ۴ کلنه ده. نوموړی د کومې پټې او پانسمان نه پرته د شپې نا وخته دلته را وړل شوه. نوموړی خپل مخ او دواړه سترګی له لاسه ورکړي دی. نوموړی همدارنګه د مټ یو ډیر جدی ټپ لري او ممکن خپل یو لاس هم له لاسه ورکړي. د نوموړی تولہ کورنی په هغه موټر کې چې دوي پکی سفر کاوه بمبارد شو او ټول پکی ووژل شوو. یوازې نوموړی ژوندی پاته شوه.

دولت پلوه ځواکونو د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې د ملکي تلفاتو د کمولو په موخه د تدبیرونو پلی کولو ته دوام ورکړی. د ۲۰۱۲ کال په پرتله ، یوناما د دولت پلوه ځواکونو په خاص ډول د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا د ملکي تلفاتو په برخه کې زیاتوالی مستند کړی دی. یوناما د دولت پلوه ځواکونو لخوا ۹۵۶ ملکي تلفات(د ملکي کسانو ۳۴۱ وژني او ۶۱۵ ټپي کیدني) مستند کړي دي. دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۵۹ سلنه زیاتوالی دی[۱۸۸].




د دولت پلوه ځواکونو لخوا را منځ ته شوي ملکي تلفات په ۲۰۱۳ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۱ سلنه جوړوي. یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۵۷ سلنه چې د دولت پلوه ځواکونو لخوا را منځ ته شوی افغان ملي امنیتي ځواکونو ، ۲۷ سلنه نړیوالو پوځي ځواکونو او ۱۶ سلنه ګډو عملیاتو ته منسوب کړي.

[۱۸۸] په ۲۰۱۲ کال کې ، یوناما ۶۰۲ ملکي تلفات(د ملکي کسانو ۳۲۳ وژنی او ۲۷۹ ټپي کېدنی) ثبت کړي دی .

## هوايي عمليات

يوناما د ۵۴ هوايي عملياتو څخه چې د نړيوالو پوځي ځواکونو لخوا ترسره شوي ۱۸۲ ملکي تلفات(۱۱۸ مړينې او ۶۴ ټپي کيدنې) ثبت کړي دی ، دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله په ورته عملياتو کې د ملکي تلفاتو په برخه کې ۱۰ سلنه کموالی دی[۱۸۹]. هوايي عمليات دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شويو ملکي تلفاتو د ۱۹ سلنې او د ټولو ملکي تلفاتو د ۲ سلنې لامل شوی. ښځې او ماشومان د هوايي عملياتو د را منځ ته شويو ملکي مړينو ۴۵ سلنه جوړوي.

په ۲۰۱۳ کال کې د هوايي بريدونو څخه د را منځ ته شويو ملکي تلفاتو نږدې ۱/۳ برخه د کنړ په ولايت کې چيرې چې د دريو هوايي بريدونو په پايله کې ۳۲ کسان وژل شوي او ۱۱ ټپيان شوي چې زياتره يې ښځې او ماشومان وه ، رامنځ ته شوي[۱۹۰].

د وسلو د توغولو د هوايي پلاټفورم په اړه ، يوناما تصديق کړي چې بې پيلوټه الوتکو د بمبارۍ[۱۹۱] په نتيجه کې د هوايي عملياتو په ترڅ کې ۳۲ سلنه ملکي تلفات(د ۴۵ ملکي کسانو وژل او ۱۴ ټپي کيدنې) ، د PPAs په نتيجه کې ، ۱۸ سلنه(د ملکي کسانو ۱۸ وژنې او ۱۴ ټپي کيدنې)،د چورلکو او الوتکو په واسطه ۲۰ سلنه(د ملکي کسانو ۲۹ وژنې او ۸ ټپي کيدنې)را منځ ته شوي[۱۹۲]. يوناما و نه توانيده چې د ۵۴ هوايي بريدونو نوعيت مالوم کړي ، چې د دی په نتيجه کې يې ټولټال ۱۸۲ ملکي کسان و وژل شوي.

يوناما يادونه کوي چې د هوايي عملياتو څخه د را منځ ته شويو ملکي تلفاتو د مخ ځوړ تمايل ځرګندونه کوي خو له دی سره هم د نړيوالو ځواکونو د هوايي عملياتو په پايله کې يې په دوامدار ډول د ملکي تلفاتو ځينی پېښی ثبت کړي دي.

### د بې پيلوټه الوتکو ، (UAVs)،(RAPAs)او نورو هوايي پلاټفورمونو له لارې هدفي وژنې

د هوايي بريدونو څخه را منځ ته شويو ملکي تلفاتو په ټول ټال شميره کې ، يوناما په ۲۰۱۳ کال کې د بې پيلوټه الوتکو[۱۹۳] په ۱۹ پېښو کې د ملکي تلفاتو ۵۹ پېښې (۴۵ وژنې او ۱۴ ټپي کيدنې)[۱۹۴] ثبتې کړې دي چې په ۲۰۱۲ کال کې د ثبت شوې ملکي تلفاتو د شميرې څخه درې وارې زيات دي[۱۹۵].

د کنړ د ولايت د وټه پور په ولسوالي کې د يوه هوايي بريد په نتيجه کې چې د ۲۰۱۳ کال د سپټمبر د مياشتې په ۷ مه ترسره شو او په پايله کې يې ملکي کسانو ته مرګ ژوبله واوښته ، په جګړه ييزو هوايي عملياتو[۱۹۶] کې د هدف نيولو د معيارونو د دوامدارې بيا کتنې لپاره مهمه داوامداره اړتيا ځرګنده کړه[۱۹۷]. د سپرلۍ يوه وسيله چې ۶ ياغيان ، د ۴ ښځو ، ۴ ماشومانو او ۲ ملکي کسانو په ګډون ۱۰ تنه ملکي کسان لېږدول ، د يوې بې پيلوټه الوتکې لخوا هدف وګرځيدله. په بريد کې ۱۰ ملکي کسان او ټول ۶ واړه ياغيان ووژل شول او يوه ۴ کلنه نجلۍ سخته ټپي شوه.

---

[۱۸۹] په ۲۰۱۲ کال کې ، يوناما د هوايي بريدونو په نتيجه کې ۲۰۲ ملکي تلفات( د ملکي کسانو ۱۲۵ وژنی او ۷۷ ټپی کېدنی) ثبت کړي دی.

[۱۹۰] په پوځی شخړه کې د ملکي تلفاتو د ساتنی په اړه د يوناما د ۲۰۱۳ کال نيم کلن راپور ته مراجعه وکړئ ، د لا زياتو معلوماتو لپاره د هوايي عملياتو په هکله برخی ته مراجعه وکړی.

[۱۹۱] UAVs ته همدارنګه د (RPA) او بی پيلوټه الوتکې په حيث اشاره کېدای شی .

[۱۹۲] د يوناما او ايساف تر منځ د معلوماتو د تبادلی د تړون سره په مطابقت کې يوناما ايساف سره د منسوب شويو ملکي تلفاتو هره ادعا په منظمه توګه مطرح کوی. په دې راپور کې د موندنو بنسټ د يوناما په پايلو ولاړ دی او له هغه ميتودولوژی کار اخلی چې د دې راپور په I پاڼه کې تشريح شوی .

[۱۹۳] هوايي بريدونو په نتيجه کې د ملکي کسانو د تلفاتو د پيښو شمير ښايی د هغه څه نه لوړ وی ځکه چې يوناما هميشه نه شی کولای تصديق کړي چې په هوايي بريدونو کې د کوم پلاټفورم ( الوتکو ، څرخی الوتکو يا د ريموټ په واسطه د کنټرول شوی الوتکې) څخه کار اخيستل شويدی.

[۱۹۴] UAVs هم د (RPA) د بی پيلوټه الوتکو په حيث تعريف شوی. د دريو واړو UAVs ، (RPA) او بی پيلوټه الوتکو تر منځ کوم توپير نه شته

[۱۹۵] په ۲۰۱۲ کال کې ، يوناما د بی بيلوټه الوتکو په بريدونو کې د ملکي تلفاتو ۱۹ پيښی(د ملکي کسانو ۱۶ وژنی او ۳ ټپی کېدنی) ثبتی کړي دی .

[۱۹۶] يو يرغليز هوايي بريد له وړاندی پلان شوی هوايي عمل دی چې د دفاعی بريد څخه توپير لري.

[۱۹۷] له هغه وروسته چې پيښه د ۲۰۱۳ کال د سپټمبر په ۷ نيټه ترسره شوه ، يوناما د ټولنی د استازو ،د ملی امنيت د ارګانونو ،ايساف او د قربانيانو د خپلوانو سره د کنړ ولايت په اسد اباد ، جلال اباد او په کابل کې د ايساف په مرکزی دفتر کې د ۵۰ څخه د زياتو کسانو سره مرکې ترسره کړي دی. يوناما همدارنګه يو شمير زيات اړوند اسناد او نور مستند توکې بيا کتلی دی.

د پېښې په هکله د ایساف سره د یوناما د ابتدایي ناستو پر مهال ، ایساف د ممکنه ملکي تلفاتو د پېښېدو په اړه انکار وکړ. له ډېرو ناستو نه وروسته یوناما د پېښې د بیا کتنې غوښتنه وکړه او ایساف د ۲ ملکي کسانو" یوې ښځې" او "یوه ماشوم" د وژنې تصدیق وکړ او همدارنګه "د یوې بلې ښځې د وژلو امکان یې رد نه کړ"[۱۹۸].

ایساف ویلي دي چې د وټه پور په ولسوالي کې د بې پیلوټه الوتکې برید د یرغلیز پوځي عملیاتو او د ایساف او یا د ټولنې په وړاندې د کوم پېښېدونکی ګواښ پر ځای نه بلکې د ځمکني یرغل د یوې برخې په حیث ترسره شوی. ایساف یوناما ته ویلي چې د ابتدایی حملې اجازه د ایساف د ټولو اړینو کچو او د افغان ملي امنیتي ځواکونو د مشرتابه څخه ترلاسه شوې[۱۹۹]. د ایساف د بیانونو پر بنسټ ، لکه څنګه چې د ایساف طرزالعملونه او د بشر پالنې نړیوال قانون تقاضا کوي ، معلومه نه ده چې د برید د پیلولو څخه وړاندې چې موخه یې د ملکي کسانو او جنګیالیو تر منځ د توپیر معلومول دی ، د ښکېلتیا څخه وړاندې څه ډول تدابیر نیول شوی وو.

د بېلګې په توګه ، ایساف ادعا کړې چې په دې عملیاتو کې د لوړې کچې یو هدف احتمالا له منځه تللی دی ، خو د دې ادعا د سربېره چې وژل شوی کسان ټول جنګیالي وو یوناما ته د کوم بل شخص په اړه چې په دې عملیاتو کې وژل شوی وې معلومات ور نه کړل[۲۰۰]. یوناما یادونه کوي چې ایساف د هوایي برید په هکله نه د خپلو څېړنو پایلې او نه هم د پېښې په تعقیب په پالیسي کې کوم بدلونونه خپاره کړي دي.

د وټه پور په ولسوالي کې د سپټمبر د ۷ نېټې د بې پیلوټه الوتکې د برید په اړه ، یوناما د نړیوالو ځواکونو د ممکنه بې احتیاطي او د اړینو احتیاطي تدبیرونو په نیولو کې د ممکنه پاتې راتلو په هکله اندېښنې څرګندوي. د ځار پر مخ تللی تکنالوژۍ ،سامان الات او پراخې استخباراتي شبکې د عملیاتي کړنلارو سره یو ځای چې موخه یې د زیانونو د کچې کمول دي ، د نړیوالو ځواکونو لخوا کارول کېږي. دا باید د پاملرنې د اندازې او بنې په هکله او نه د غیر متناسب متوازی زیان د مخنیوی چې وکولای شي هغه محدود کړي د ډاډ حاصلو په خاطر غښتلی چوکاټ برابرکړي.

د بې پیلوټه الوتکې پواسطه په یوه نقلیه وسیله د برید نه وړاندې په نقلیه وسیله کې د نړیوالو پوځي ځواکونو لخوا د ښځو او ماشومانو د یوې ډلې په معلومولو کی ناکامي ، د دغو ځواکونو لخوا ښکاره بې احتیاطي په ګوته کوي[۲۰۱]. د نورو اندېښنو له جملې څخه یوه هم د هغو کسانو د شناخت او موقف معلومول دي چې د جنګیالی شخص سره یو ځای د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا تر هدف لاندې نیول کېږي ،د نړیوالو پوځي ځواکونو لخوا ښکاره پاته راتلل دي.

## د ښکلتیا څخه وړاندې د احتیاطي تدبیرونو د بیا کتنې لپاره اړتیا

یوناما په ښکاره وایي چې د هوایي یرغلیزو بریدونو څخه د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو دوام د ایساف لخوا د ښکېلتیا څخه د وړاندې ملاحظاتو او احتیاطي تدبیرونو د بیا کتنې د اړتیا وړاندېز کوي. دا په خاص ډول په داسې حالتونو کې په ځای کار دی چیرې چې فوری ګواښ موجود نه وي او له بلې خوا د تاکتیکی زغم د کارولو لپاره امکان موجود وي ، باید تخنیکی چاری تر غور لاندې ونیولی شي او د وضعی د پوهیدنی او شناخت د تصدیق کولو په موخه د اضافی وخت څخه ، لکه څنګه چې د متحده ایالتونو د پوځ نظامي اصول اجابت کوي ، کار واخلي[۲۰۲].

د یوې بېلګې په توګه چیرې چې داسې فعالیت ممکن د ملکي تلفاتو څخه مخنیوی وکړي ، د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر په ۴مه ، ایساف د ننګرهار ولایت د بهسودو په ولسوالي کې د چورلکې پواسطه یو شمیر هوایي بریدونه ترسره کړل چې په نتیجه کې یې د ۲ هلکانو په شمول ۵ تنه ملکي کسان ووژل شول. قربانیان د استوګنې د کورونو څخه د ۵۰ مترو په فاصله کې په یوه پرانیستې ساحه کې ناست وو چې کله په ۳ جلا هوایي بریدونو کې هدف وګرځول شول. قربانیان د راپور سره سم په دې

---

[۱۹۸] د ایساف د حقوقی ډلی او CJ3 سره د یوناما ناستی ، د ۲۰۱۳ کال نومبر ، د ایساف مرکزی دفتر ، کابل .

[۱۹۹] د ایساف سره د یوناما ناستی ، د ۲۰۱۳ کال د سپټمبر ، اکتوبر ، او نومبر میاشتی ،د ایساف مرکزی دفتر ، کابل.

[۲۰۰] د ایساف ، CJ3او پوځی حقوقی مشاور سره ناسته ،د اکتوبر ۲۷ ، ۲۰۱۳ کال ، د ایساف مرکزی دفتر ، کابل.

[۲۰۱] د پوځی شخړی په زمینه کې ، کېدای شی بی پروایی د یوی داسی څرګند او نا بخښونکې ناکامی او پاته راتلو په حیث تعریف شی چې د احتیاط د هغه اندازی او ډول په نیولو کې بیرته پاتی راشی چې د تر بحث لاندې شخص یا اشخاصو څخه په هغو شرایطو کې تمه کېدا ی شی چې دی/دوی د خپل کردار او یا د کردار د نه کولو په وخت کې درک کوی او په دی ډول د داسی یوی حادثی سبب وګرزی چې ملکي کسانو ته په ناقانونه ډول تلفات او زیان واړوی او یا هغه تخریب کړي. بوتبی ویلیام. " بی پروایی ، په هوایي بمباریو کې لازمه پاملرنه او د قضاوت تیروتنی ، د هدف نیولو د قانون په هکله ۸.۹ برخه. د اکسفورډ د پوهنتون مطبعه ، فبروی ۲۰۱۲ کال.

[۲۰۲] د متحده ایالتونو د پوځ د وسلو ګډ مرکز ، دافغان ملکي تلفاتو مخنیوی: کتنی ، پوهه ،او مشقونه ، د پوځی ترسره شویو مشقونو لپاره مرکز ، غیر محرم ، د متحده ایالتونو پوځ ، ۲۰۱۲ .

وروستیو کې د شاخوا سیمې څخه د خپلو وسلو سره یو ځای د مرغانو د ښکار څخه را ستانه شوی وو. ایساف پدغه پیښه کې د ملکي تلفاتو مسولیت په غاړه واخیست.

دا معلومه نه ده چې هغه ټول پوځي او امنيتي ځواکونه چې په اوس محال کې په افغانستان کې فعالیت کوي په هوايي عملیاتو کې د وژونکې قوې د کارولو په حواله د ایساف د ورته معیارونو او کړنلارو په وړاندې مسول ګڼل کیږي او که نه. په دې حواله ، یوناما یادونه کوي چې په عملیاتو کې همغږی او پایداری ، د ایساف او د هغوي د ځانګړو عملیاتو د ځواکونو او نړیوالو غیر پوځي دولتي نمایندګیو تر منځ تګلارې او طرزالعملونه په خاص ډول د بې پیلوټه الوتکو د کارولو په اړه د دې ضرورت را منځ ته کوي چې د ملکي کسانو ساتنه تقویت کړي. دا په ۲۰۱۴ کال کې د افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو د وتلو په درشل کې ډیر اهمیت لري.

د هوايي برید سره د تړلو پېښو نورې بېلګې په لاندې ډول دي:

- د مارچ په ۳۰مه ، نړیوالو پوځي ځواکونو د غزني د ولایت په مرکز کې د شکمنو طالبانو د هدف نیولو په موخه هوايي برید ترسره کړ چې په نتیجه کې یې ۳ ملکي کسان ووژل شول او ۸ نور ټپیان شول.
- د سپتمبر په ۳مه ، نړیوالو پوځي ځواکونو د غزنی ولایت په غزنی ښار کې د یوې ډلې په وړاندې چې ویل کیدل دولت ضد عناصر دی د بې پیلوټه الوتکې برید ترسره کړ چې په نتیجه کې یې یو ملکي شخص ووژل شو او دوه نور ټپیان شول. قربانیان د یوې ساختماني کمپنۍ ساتونکي وو.
- د سپتمبر په ۲۵مه ، نړیوالو پوځي ځواکونو د پکتیا ولایت د وازی ځدراڼ په ولسوالي کې د دولت ضد عناصرو د یوې ډلې په وړاندې هوايي برید ترسره کړ چې په نتیجه کې یې دوه هلکان چې عمرونه یې ۱۲ او ۱۴ کاله وو و وژل او یو شمیر یاغیان هم و وژل شول. د هوايي برید پر مهال ،هلکان په غره کې د لرګیو او ممپلیو په را غونډولو بوخت وه چې کله د ډوډی او چای پخاطر د هغوي سره د دولت ضد عناصر یو ځای شول.

## د عکس العمل ښودلو پیښې[۲۰۳]

یوناما د عکس العمل ښودلو پیښې ، چې د ځواک د ساتني پیښې ورته هم وایي د ۴۱ بیلابیلو پېښو څخه د ملکي تلفاتو ۷۵ پېښې(د ملکي کسانو ۳۱ وژنې او ۴۴ ټپي کیدنې) ثبتې کړي دی چې دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۴۷ سلنه زیاتوالی ښي[۲۰۴]. د ملکي کسانو د تلفاتو په برخه کې دغه زیاتوالی د ملکي کسانو د تلفاتو هغه کموالی چې په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو کې د داسې پېښو په نتیجه کې ثبت شوی وو ، څخه په شا تګ دی. د ۴۱ پېښو د جملې څخه ، ۲۳ افغان ځواکونو او ۱۸ نړیوالو پوځي ځواکونو ته منسوب شوې.

د قوې د غبرګون ښودلو د پېښو څخه را منځ ته شویو ملکي تلفاتو په برخه کې زیاتوالی چې د نړیوالو پوځي ځواکونو د عمیاتو په ترځ کې را منځ ته کیږي د یادونې وړ ده ، د مثال په ډول ، دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ، د ۳ نه تر ۱۷ پورې ملکي تلفات نږدې ۶ برابره زیات شوی او د ټپیانو شمیر د ۱۰ څخه ۲۱ ته (۳۸ ملکي تلفات) لوړ شوې[۲۰۵]. کیدای شي د ملکي تلفاتو د کچې دا لوړوالی د امنیتي لښړ په پروسه کې د لښړدیدونکو او یا له داسې فعالیتونو سره تړاو ولري چې د اډو د بدلولو سره رابطه ولري.

[۲۰۳] د زیاتی قوی د کارولو پیښې یا "د قوی د ساتنی" پیښې چې د یوناما لخوا مستندی شوی په داسی حالتونو کې را منځ ته کیږی کله چې ملکي کسان پوځی کاروانونو ته څیرمه او یا د کاروانونو څخه وړاندی تګ کوی او یا په داسی حالتونو کې چیری چې په پوځی پوستو کې لارښودونه مراعات نه کړي ، د پوځی پرسونلو خبرداری په پام کې و نه نیسی ، په خبرداری پوه نه شی ، او یا خبرداری و نه وینی د پوځی ځواکونو لخوا وژونکې یا غیر وژونکې قوه کارول کیږی چې په نتیجه کې یی ملکي تلفات رامنځ ته کیږی.

[۲۰۴] په ۲۰۱۲ کال کې ، یوناما د دولت پلوه ځواکونو لخوا د قوی د زیاتی کارونی په ۳۵ پیښو کې ۵۱ ملکي تلفات(د ملکي کسانو ۱۴ وژنی او ۳۷ ټپی کېدنی) ثبت کړي دی.

[۲۰۵] په ۲۰۱۲ کال کې ، یوناما یواځی د نړیوالو ځواکونو لخوا د قوی د زیاتی کارونی په ۹ پیښو کې ۱۳ ملکي تلفات(د ملکي کسانو ۳ وژنی او ۱۰ ټپی کېدنی) ثبت کړي دی.

په ۲۰۱۳ کال کې په ټول هیواد کې د سلګونو نړیوالو پوځي اډو د تړلو سره ، د بشري او لوجستیکی سرچینو د خوځولو اړتیا ایساف په سړکونو د زیات خطر په معرض کې واقع کړي او د دولت ضد عناصرو لخوا د ممکنه بریدونو د ترسره کولو په هکله یې اندیښنې زیاتې کړي.

یوناما په ورته ډول د افغان ځواکونو لخوا د قو د غبرګون ښودلو د پیښو څخه را منځ ته شویو ملکي تلفاتو په برخه کې ۳۷ سلنه زیاتوالی ثبت کړي دي ، د مړینو شمیر د ۹ څخه ۱۳ ته او د ټپي کیدنو شمیر د ۱۸ څه ۲۳ ته لوړ شوی ،(۳۶ ملکي تلفات)[۲۰۶] . د ملکي تلفاتو په برخه کې لوړوالی ښایی د دغو ځواکونو لخوا د زیاتو عملیاتو د ترسره کولو او همدارنګه د هغوی د کاروانونو په وړاندې د بریدونو د زیاتوالی په نتیجه کې را منځ ته شوی وي چې د دولت ضد عناصرو لخوا د بل القوه بریدونو په وړاندې خطر او عکس العملونه را منځ ته کوي.

د قوی د غبرګون ښودلو پیښو څخه د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو بېلګې:

- د اګست په ۱۶مه ، د پکتیا ولایت په ګردیز کې ، د نړیوالو پوځي ځواکونو یوه غړی چې د ګردیز FOB ته نږدې د یوې تلاشۍ پوستې ساتنه کوله په یوه ملکي موټر هغه وخت چې کله موټر د دریدو لپاره خبرتیا په پام کې و نه نیوله ډزې وکړې چې په نتیجه کې یې یو ملکي شخص و وژل شو او درې نور ټپیان شول.
- د نومبر په ۳مه ، د افغان ملي پوځ یوه سرتیری د ننګرهار ولایت د شیرزاد په ولسوالي کې په یوه ملکي موټر ډزې وکړې چې په نتیجه کې یې یوه ۶ کلنه نجلۍ ووژل شوه او د نومورې پلار چې موټر یې چلوو ، ټپیشو.
- د ډسمبر په ۹ ، د لغمان ولایت په علی شینګ ولسوالي کې افغان سیمه ییزو پولیسو په یوه ملکي موټر هغه وخت ډزې وکړې چې کله موټر چلونکی د تم کیدو په موخه د افغان سیمه ییزو پولیسو حکم رعایت نه کړ. په دې پیښه کې یو ماشوم ووژل شو او د یوه سړي او دریو ماشومانو په شمول څلور تنه ملکي کسان ټپیان شول.

## د تلاشي عملیات

یوناما د دولت پلوه ځواکونو لخوا د ترسره شویو عملیاتو په نتیجه کې ۱۲۰ ملکي تلفات (۳۷ ملکي وژنې او ۸۳ ټپي کیدنې) ثبت کړي دي[۲۰۷] . دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله د تلاشي د عملیاتو په نتیجه کې د ټولو ملکي تلفاتو په برخه کې نسبی لوړوالی ښي[۲۰۸] . یوناما یادونه کوي چې د تلاشي د عملیاتو د شمیر ، د تلاشي د عملیاتو څخه د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو په هکله او دا چې په دی عملیاتو کې کوم خاص امنیتي ځواکونه ښکیل وه دقیق معلومات لاسته راوړل ځکه ګران کار دی چې ډیر امنیتي ځواکونه په ګډه او جلا توګه عملیات ترسره کوي او دغه راز دا معلومات په پوځي لحاظ محرم ساتل شوي دي[۲۰۹] .

د ملکیانو د ساتنې د تقویت په موخه ، یوناما بیا ټینګار کوي چې افغان امنیتي پوځي ځواکونه باید د تلاشي عملیاتو څخه د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو په شمول د ملکي کسانو د تلفاتو د مخنیوي پخاطر تاکتیکي لارښودونه او عملیاتی طرزالعملونه چمتو او پلی کړي.

## افغان سیمه ییز پولیس او د ملکي کسانو ساتنه

*زما زوی چا چې د موټر چلونکی په حیث کار کاوه هغه وخت د خپلوانو په کور کې وه چې کله کور ته افغان سیمه ییز پولیس راورسیدل. هغوی زما زوی په سر وویشت. د یوه پلار هیله همیشه دا وي چې خپل زوی ژوندی ووینی ، او که چیرې مړ هم شي نو حد اقل چې جسد یې بشپړ وي. دا ناوړه جنایت دی. زه د عدالت غوښتونکی یم.*

[۲۰۶] په ۲۰۱۲ کال کې ، یوناما د افغان ملی امنیتی ځواکونو لخوا د قوی د زیاتی کارونی په ۱۷ پیښو کې ۲۷ ملکي تلفات(د ملکي کسانو ۹ وژنی او ۱۸ ټپی کېدنی) ثبت کړي دی .

[۲۰۷] دا یو ستونزمن کار دی چې د تلاشی عملیات یوه خاص امنیتی ارګان ته منسوب شی. که څه هم چې په ۲۰۱۳ کال کې نږدی ټول عملیات د افغان ځواکونو تر رهبری لاندې ترسره شوی ، د تلاشی عملیات ښایی د یو شمیر افغان ځواکونو ، د بیلګی په توګه ، د افغان ملی پولیسو ، د امنیت د ملی ریاست ، افغان ملی پوځ او افغان ځانګړو ځواکونو لخوا په خپلواکه او یا ګډه توګه او ځینی یی ښایی د نړیوالو ځواکونو ، ایساف ،ځانګړو عملیاتو د ځواکونو او نورو دولتی نمایندګیو په ملاتړ او برخه اخیستنی سره ترسره شوی وی. د دواړو محدودیتونو په نظر کې نیولو سره چې د عمیلاتو د چاپیریال او اطلاعاتو ته د محدود لاسرسی د مسلی سره تړاو لري ،یوناما ښایی د تلاشی د عملیاتو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو شمیری/ ارقام کم راپور کړي وی.

[۲۰۸] په ۲۰۱۲ کال کې ، یوناما د دولت پلوه ځواکونو لخوا د تلاشی د عملیاتو په پایله کې ۱۱۴ ملکي تلفات(د ملکي کسانو ۷۵ وژنی او ۳۹ ټپی کېدنی) ثبت کړي دی .

[۲۰۹] مخکینی ماخذ.

-- د کندز د ولایت د ګومبز کلی کې د جولای په ۱۲مه د افغان سیمه ییزو پولیسو او افغان ملي پولیسو لخوا د تلاشي پر مهال د یوه وژل شوي سړي پلار[۲۱۰].

په ۲۰۱۳ کال کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د پروګرام د غزولو لړۍ د هیواد په ۱۲۶ ولسوالیو کې[۲۱۱] د ۲۵۲۷۷ کسانو په درلودلو سره دوام درلود[۲۱۲]. تمه کیږي چې د ۲۰۱۴ کال تر پایه به دا شمیر ۳۰۰۰۰ کسانو ته ورسیږی چې په نږدې ۱۴۲ ولسوالیو کې به ځای پر ځای شي. د امریکا متحده ایالتونو داسې پلانونه چې په مټ به یې تر ۲۰۱۸ کال پورې د ۳۰۰۰۰ کسیزه تصویب شوی ځواک د پروګرام لپاره مالی سرچینې برابری کړي ، اعلان کړي[۲۱۳].

په ۲۰۱۳ کال کې ، ځایی ټولنو په یو شمیر زیاتو ولسوالیو کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د شتون له امله د ښه امنیت د تامین په اړه راپور ورکړی دی. یو شمیر چارواکو او ټولنو همدارنګه یوناما ته ویلي چې د امنیت د تامین په موخه د پوځي ډلو پر ځای د افغان سیمه ییزو پولیسو ځای پر ځای کول یو ښه اقدام دی. د دغو راپورونو سربېره ، یوناما د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د یو شمیر عملیاتو څخه د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو او همدارنګه د بشري حقونو د سرغړونو او ناقانونه کړنو په هکله چې د ځینو افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا ترسره کیږي ، د مستند کولو او راجستر کولو چارو ته دوام ورکړي. یوناما د بشري حقونو د یو شمیر جدی ثبت شویو سرغړونو په پېښو کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د ځینو غړو د معافیت په اړه خاصه اندېښنه لري.

یوناما په ۶۵ بیلابیلو پېښو کې چې افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب شوی ۱۲۱ ملکي تلفات(د ملکي کسانو ۳۲ وژنې او ۸۹ ټپي کیدنې) ثبت کړي دي. دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله د ملکي کسانو په تلفاتو کې چې افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب شوی ۲۵۶ سلنه زیاتوالی ښیي[۲۱٤]. د سیمه ییزو پولیسو د ځواکونو لخوا ملکي تلفات د ټولو هغو ملکي تلفاتو چې په ۲۰۱۳ کال کې د یوناما له خوا ثبت شوی ، یوه سلنه جوړوي.

زیاتره ثبتې شوې پېښې (۲۷) د کندز په ولایت کې ترسره شوې ، او له هغه وروسته د ننګرهار په ولایت کې (۶) پېښې ترسره شوی. د کندز د ولایت په دشت ارچي ، امام صاحب او چاردری ولسوالیو کې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د بشري حقونو زیاتې سرغړونی ترسره شوی او له دې وروسته بیا د فاریاب د ولایت د قیصار ولسوالي ،د ننګرهار د ولایت د خوګیانیو ولسوالي او د ارزګان د ولایت د خاص ارزګان ولسوالي راځی چې هلته زیاتې سرغړونی ترسره شوې دي.

### له جګړې سره تړلی خشونت: د افغان سیمه ییزو پولیسو په تعارضی او دفاعي عملیاتو کې ملکي تلفات

د یوناما لخوا د ځمکنیو نښتو د ۱۸ پېښو د ثبتولو سره د ځمکنیو نښتو پر مهال افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب شوي ملکي تلفات په ۲۰۱۳ کال کې لوړ شوي. په دغو پېښو کې ۷ ملکي کسان وژل شوي او نور ۲۲ تنه ټپیان شوي دي. که څه هم د دغو تلفاتو زیاتره برخه د دولت ضد عناصرو لخوا د افغان سیمه ییزو پولیسو په پوستو باندې د بریدونو له امله د افغان سیمه ییزو پولیسو د ځوابي بریدونو پر مهال را منځ ته شوی ،خو نور ملکي تلفات بیا د افغان ملي پولیسو د ولایتی او د ولسوالیو د کچو د قومندانانو او د افغان سیمه ییزو پولیسو د ځایی قومندانانو تر لارښودونو لاندې د افغان سیمه ییزو پولیسو په تعارضی عملیاتو کې را منځ ته شوی.

یوناما همدارنګه د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د ملکي تلفاتو دوه پېښې په کومو کې چې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا درنی وسلې ، د بېلګې په توګه هاوانونه کارول شوي دي ، ثبتې کړي دي[۲۱۵]. یوناما ته معلومات ورکړل شوی چې د افغان

[۲۱۰] د قربانی شخص د پلار سره د یوناما مرکه ،د جولای ۱۵ ، کندز ولایت.

[۲۱۱] په پوځی شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنی په هکله ، د افغان سیمه ییزو پولیسو د پروګرام او د پروګرام په تړاو د بشری حقونو د اندیښنو د شامنظر لپاره د یوناما ۲۰۱۲-۲-۱۳-۲۰۱۳ کلنی او نیم کلن راپورونو ته مراجعه وکړی-http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=13941&language=en .

[۲۱۲] د افغان سیمه ییزو پولیسو د ځانګړو عملیاتو مرستیال رییس ،د ناټو د خاصو عملیاتو د افغانستان د جزء د قوماندی ، ایساف سره د یوناما د ایمیل تبادله ، د جنوری ۹ ، ۲۰۱۴ کال ، کابل.

[۲۱۳] د افغان سیمه ییزو پولیسو د ځانګړو عملیاتو مرستیال رییس ،د ناټو د خاصو عملیاتو د افغانستان د جزء د قوماندی ، ایساف سره د یوناما د ایمیل تبادله ، د جنوری ۶ ، ۹ ، ۲۰۱۴ کال ، کابل.

[۲۱٤] په ۲۰۱۲ کال کې ، یوناما ۴۳ ملکي تلفات(د ملکي کسانو ۱۷ وژنی او ۱۷ ټپی کېدنی) ثبت کړي دی.

[۲۱۵] د افغان سیمه ییزو پولیسو غړو ته یو میل کلاشنیکوف ټوپک پی کی ایم جی ورکړل شوی ( د لېږد وړ ماشین ګن) د هرو ۶ افغان سیمه ییزو پولیسو د پرسونل لپاره. افغان سیمه ییزو پولیسو د ځانګړو عملیاتو مرستیال رییس ،د ناټو د خاصو عملیاتو د افغانستان د جزء د قوماندی ، ایساف سره د یوناما مرکه ، د نومبر ۲۰ ، ۲۰۱۳ کال ، کابل. د کورنیو چارو وزارت د افغان سیمه ییزو پولیسو ځواکونو ته د درنو وسلو د موقتی ورکولو بصیرتی صلاحیت لری. د افغان سیمه ییزو پولیسو د ځانګړو

سیمه ییز پولیسو کارکوونکي د تصویب شوې روزنې د یوې برخې په حیث چې څنګه درنې وسلې وکارول شي ، (د بېلګې په توګه ، د هاوان تخته څنګه ځای پرځای شي څو د دقیق هدف په نښه کړی شي) ، د هاوان زده کړې نه دي ترلاسه کوي.

د بېلګې په توګه ، د سپتمبر په ۲۹مه ، د افغان سیمه ییزو پولیسو غړو د هاوانونو داسې مرمۍ فیر کړې چې دوي یې په پوځی لحاظ د کارولو صلاحیت نه درلود چې د کندز ولایت د دشتې ارچي د ولسوالي د نور رحمن په کلي کې د استوګنې په یوه کور ولګېدې چې په نتیجه کې یې ۴ ښځې او یو ۷ کلن ماشوم ټپیان شول.

**د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د بشري حقونو د سرغړونو راپورونه**

یوناما په ۲۰۱۳ کال کې د ځینو افغان سیمه ییزو پولیسو د لخوا د ترسره شویو بشري حقونو یو شمیر سرغړونې څیړلې دي. په دې څیړنو کې نا قانونه اعدامونه ،[۲۱۶] د وژنو نور ډولونه ، د ملکي کسانو په وړاندې مجازات او غچ اخیستنه چې په هغو کې ناوړه سلوک ،ګواښونه ، تهدید ،څورونی ،نا قانونه تلاشي ګانی او د ښونځیو نیونې او تصرف شامل دی ، راځي.

یوناما د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د ۱۱ نا قانونه اعدامونو پېښې ثبتې کړې دي. د بېلګې په توګه ، د جولای په ۱۰مه ، یاغیانو د هرات ولایت د شینډنډ په ولسوالي کې د افغان سیمه ییزو پولیسو پر یوه پوسته برید وکړ. په ځوابي برید کې ،د افغان سیمه ییزو پولیسو غړو د تورنو مرتکبینو دوه تنه ملکي خپلوان وتښتول. د یو شمیر سرچینو په حواله چې د یوناما لخوا پوښتل شوي ، ویل شوي چې د تښتول شویو کسانو جسدونه ۸ ورځې وروسته هله موندل شوي چې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا وژل شوي وو. په دې هکله هیڅوک نه دي نیول شوي[۲۱۷] .

یوناما همدارنګه د وژنو ۸ بیلې پېښې ،[۲۱۸] په کومو کې چې افغان سیمه ییز پولیس ښکیل وه ، ثبتې کړې دي. د سپتمبر په ۵ مه ، د راپور له مخې د افغان سیمه ییزو پولیسو یوه تن د کنړ د ولایت د نرنګ په ولسوالي کې یو بزګر د هغه په کرونده کې ، په نوموړی ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د ښخیدو د تور لګولو وروسته چې په نتیجه کې یې د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړي زوی ټپی شو ، په ډزو وویشت او وواژه. د دې راپور د خپریدو په وخت کې د ځایی ښارنوال دفتر کې تر کار لاندې ده.

د هغو ملکي وژنو د جملې څخه چې افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب شوي ، زیاتره پېښې د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړو لخوا چې د هغوي د اختیاراتو څخه د باندې عمل کوي ، ترسره شوی. په دې عملونو کې مجازات/ انتقامی وژنې ، نا قانونه تلاشي ګانی او په مشکوکو حالتونو کې ناڅاپی ډزې کول ، شامل دی. د بېلګې په توګه ، د اګسټ په ۸ مه ، افغان سیمه ییزو پولیسو د خاص ارزګان په ولسوالي کې په ټولنې د دې تور لګولو وروسته چې ګویا ټولنې یاغیانو ته پناه ورکړې چې د هغه په نتیجه کې د افغان سیمه ییزو پولیسو یو قوماندان و وژل شو ، د ځایی خلکو یوه لویه ډله را غونډه کړه. د افغان سیمه ییزو پولیسو غړو د راغونډو شویو خلکو له جملې څخه تر ۲۰ زیات کسان ښه ډبولی. هغو عینی شاهدانو او قربانیانو چې د یوناما لخوا پوښتل شوی په ټینګار سره ویلي چې د پاخه عمر یوه شخص چې د ګمان له مخې د یوه یاغي شخص سره تړاو لري ، د سختو ټپونو له امله ساه ورکړه[۲۱۹] .

د دې سربېره ، یوناما د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د ګواښونو ،تهدیدونو او د ملکي کسانو د ځورونو چې د افغانستان د قانون لاندې د بشري حقونو سرغړونې او جرمونه ګڼل کیږي ، ۲۱ پېښې ثبتې کړې دي. یوناما په بنیادی توګه د کندز او فاریاب په ولایتونو کې چې د ټولنو لخوا راپور ورکړی چې هغوي په اجباري ډول د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا اړ شوي چې د هغوي د پوستو لپاره خوراکي توکي ، د سون لرګي او د کار له پاره کارګر برابر کړي ، د شکونو یو شمیر پېښې ثبتې کړې دي.

---

عملیاتو مرستیال رییس ،د ناټو د خاصو عملیاتو د افغانستان د جزء د قوماندی ، ایساف سره د یوناما مرکه ، د جنوری ۲۴ ، او د فبروری ۲ ، ۲۰۱۴ کال ، کابل. د یادونی وړ ده هغی سرچینی چی درنی وسلی تدارک کړی او په هغو پیښنو کی کارول شوی چی پورته مستندی شوی ، معلومه نه ده.

[۲۱۶] صحرایی اعدام(د قضایی صلاحیت څخه خارج یا غیر رسمی اعدام) یوی غیر قانونی او عمدی وژنی ته چې د دولت په حکم او یا د دولت په توطیه ، د هغه د نماینده ، او یا نورو پواسطه د یوی محکمی لخوا د قضایی حکم څخه پرته د یوی جنایی محکمی وروسته چې د اعدام د مجازاتو د اعمال واک لري ، اجرا شی ، راجع کېږی.

[۲۱۷] د ولسوالی د ښارنوال سره د یوناما مرکه ، ۲۸ اکتوبر ، ۲۰۱۳ کال ، شینډنډ ولسولی ، هرات.

[۲۱۸] عمدی وژنی نورو اختیاری او ناقانونه وژنو ته ، د بیلګی په توګه ، چیری چې افغان سیمه ییزه پولیس په مستقیم ډول د ملکي تلفاتو مسول وی ، او د افغان سیمه ییزو پولیسو د یوه غړی د عمدی عمل او تیروتنی په نتیجه کې په قصدی توګه د وژنی لامل شی ، را منځ ته شی ، راجع کېږی.

[۲۱۹] د ځایی چارواکو ، د خاص ارزګان د ټولنی د مشرانو او نورو سرچینو سره د یوناما مرکې ، د ۲۰۱۳ کال اګسټ او سپتمبر ،تیرینکوټ ، ارزګان.

د افغان سیمه ییزو پولیسو په ځینو غړو تور دی چې د انکار په صورت کې د غنچ اخیستلو په تهدید د سیمه ییزو خلکو څخه پیسې (عشر) اخلي.

د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د بشري حقونو د سرغړونو نورې بېلگې:

- د جولای په ۸ مه ، د افغان سیمه ییزو پولیسو د کندز د ولایت د دشت ارچي د ولسوالي په سید اکبر کلي کې ملکي کسان د دې لپاره گواښلي څو هغوي په دې توگه د عشر ورکولو ته اړ باسی. کله چې کلیوالو د عشر د ورکولو څخه انکار وکړه نو هغوي دوه ملکي کسان په ډزو ووژل او یو بل یې یې ټپی کړ.
- د سپټمبر په ۱۳مه ، د افغان سیمه ییزو پولیسو دوو قوماندانانو د بلخ ولایت د چمتال په ولسوالي کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د غړو لخوا د نا قانونه عشر د ټولولو پر سر په شخړه کې سپکې وسلې وکارولې. د شخړې په پایله کې یو ۱۴ کلن ماشوم او یوه ښځه ټپي شوه.
- د نومبر په ۱۵ ، د افغان سیمه ییزو پولیسو یوه تن د شخصي شخړې پر سر د بغلان ولایت د پلخمري په ولسوالي کې دوه تنه ملکي کسان په ډزو ووژل او دوه نور یې ټپیان کړل. د افغان ملي پولیسو غړو د افغان سیمه ییزو پولیسو ۶ تنه غړي ونیول. د دې راپور د چمتو کولو پر مهال ، د پېښې دوسیه د بغلان د ملکي څارنوال لخوا د بررسۍ په حال کې وه.

**د بشري حقونو د سرغړونو او جنایي عملونو لپاره د افغان سیمه ییزو پولیسو لپاره معافیت**

د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې ، یوناما داسې پېښې ثبتې کړي چیرې چې افغان سیمه ییزو پولیسو د معافیت څخه په خلاص لاس د بشري حقونو سرغړونې ترسره کړې دي. دا معافیت اکثرا د زور واکنو لخوا په ولایتي او ملي کچو کې برابر شوی. د بېلگې په توگه ، یوناما گڼ ، باوری او ثابت راپورونه ترلاسه کړي چې د ډسمبر په مه۱۶ ، د بغلان ولایت د پلخمری په ولسوالي کې د ځمکې د یوې شخړې پر سر د سیمه ییزو پولیسو د دوو مخه ورو قومندانانو لخوا دوه ملکي کسان په ډزو ووژل شول او ۵ نور ټپیان شول[۲۲۰]. که څه هم پولیسو په دغه پېښه کې د یوه قومندان په شمول ۶ شکمن کسان نیولي ، ویل کیږي د وژنو په تعقیب په سیمه کې د ملکي کسانو په وړاندې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د معافیت څخه په خلاص لاس د بشري حقونو یو شمیر نورې سرغړونې هم تر سره شوې دي.

د بېلگې په توگه ، د سیمه ییزو پولیسو دا دواړه قومندانان له پخوا راهیسی د وژنو ، ډبولو ، ځورونو ، او په ځوانو هلکانو د جنسي تیري ، غلا او د ناقانونه عشر د ټولولو د پېښو په شمول د جرمونو په ترسره کولو تورن دی. د ۲۰۱۳ کال په لومړیو کې ، یاد قومندان نیول شوی او توقیف شوی خو د لوړ رتبه کارکونکو او د بغلان د ولایتي چارواکو سره د نوموړی د روابطو له امله نوموړی وروسته له بنده خوشي شوی[۲۲۱]. یوناما یادونه کوي چې دا دوسیه څرگندوی چې معافیت څنگه کولای شي د بشري حقونو د سرغړونو کړی فعاله وساتي.

یوناما یادونه کوي چې د افغان سیمه ییزو پولیسو سرغړونې په ځینو ولسوالیو کې د افغان ملي پولیسو د ناتوانۍ له امله څو د افغان سیمه ییزو پولیسو واحدونه په سمه توگه قومانده او کنترول کړي ، سرچینه اخلی. دا حالت په یو شمیر سیمو کې د حساب ورکونې او نظارت د ناکافي میکانیزمونو له امله بدتر شوی دی. لکه څنگه چې د یوناما لخوا وړاندې هم راپور شوی ، د افغان ملي پولیسو د قوماندې او کنترول میکانیزمونه د افغان سیمه ییزو پولیسو د عملیاتو او فعالیتونو په هکله همیشه د قناعت وړ نظارت نه برابروی[۲۲۲].

په داسې حال کې چې د افغان سیمه ییزو پولیسو واحدونه د افغان ملي پولیسو تر قوماندې لاندې په موثره توگه فعالیت کوي او د هغوي په ټولنو کې تر یوې اندازې د ملاتړ څخه برخمن دی ، یوناما په یو شمیر سیمو کې چیرې چې دولت په افغان سیمه ییزو پولیسو کم کنترول لري ، د پېښو ثبت ته دوام ورکړي.

---

[۲۲۰] د زمان خیلو د اوسیدونکو ،د پولیسو د ځایی چارواکو سره د یوناما مرکې ، د ډسمبر ۱۷ ، ۲۰۱۳ کال ، کندز.
[۲۲۱] دغه پېښه د ۲۱۳ کال په جون کې واقع شوه.
[۲۲۲] د بیلگی په توگه ، په پوځی شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنی په هکله د یوناما د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کلونو کلنی او نیم کلن راپورونو ته مراجعه وکړی.
http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=13941&language=en-US

یوناما مشاهده کړې چې په ځینو مواردو کې ، د افغان سیمه ییزو پولیسو واحدونه د یوه ځایي قوماندان یا جګړه مار تر غیر رسمي قوماندې لاندې دی او یا په مرکزي کچه د زورواکانو د ملاتړ څخه ، په خاص ډول د فاریاب ، کندز او ننګرهار په ولایتونو کې برخمن دی. په ځینو نورو مواردو کې ، په یو شمیر لرې پرتو سیمو کې د امنیت د تامین په موخه په افغان سیمه ییزو پولیسو د افغان ملي پولیسو اتکا د حساب ورکونې د هڅو لپاره چې کله د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا سرغړونې ترسره شوی ،د یوه مخه نیونکی عمل په حیث څرګند شوې ده.

یوناما مشاهده کړې چې د زورواکانو سره په ولایتی او ملي کچو کې اړیکی د افغان سیمه ییزو پولیسو ځینو واحدونو ته د دې توان ورکوي څو په خلاص لاس یو شمیر جرمونه او د بشري حقونو سرغړونې ترسره کړي. د بېلګې په توګه ، یوناما مستند کړې چې د اګسټ په مه۱۴ ، د افغان سیمه ییزو پولیسو د یوه پخواني قوماندان د وژل کیدو په غبرګون کې ، د افغان سیمه ییزو پولیسو یوه ۱۳۰ کسیزه ډله د ارزګان ولایت د خاص ارزګان کوچک کلی ته ننوتله ، او یو ۷۰ کلن سړی یې په مرګ و ډباوه[223]. قرباني شخص د طالبانو د یوه پخواني قوماندان چې نور نو په دې سیمه کې ژوند نه کوي ، ورور وه. د وژل کیدو د پېښې په تعقیب ، د افغان سیمه ییزو پولیسو غړو کلیوالو ته د ادعا شوی طالب قوماندان او د هغه د دوو ورورنو د کورونو د سوځولو امر وکړ. کله چې کلیوالو د دې کار د کولو څخه ډډه وکړه نو د افغان سیمه ییزو پولیسو غړو ټولټال ۲۵ تنه ځاي کسان د ټوپکونو د کنداغونو ، برچو او لکړو پواسطه ډبول. د افغان سیمه ییزو پولیسو غړو په پای کې د طالبانو د قوماندان او د هغه د ورونو کورونو ته د اور په اچولو درې واړه کورونه وران کړل.

د دولت لخوا د څېړنو او د ځایی اوسیدونکو د لاربونو او احتجاجونو سربېره ، د دې راپور د چمتو کولو په وخت کې د دې پېښې د مرتکیبینو په وړاندې هیڅ اقدام ترسره نه شو[224].

یوناما مشاهده کړې چې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا نا ځواب شویو سرغړونو په یو شمیر سیمو کې د طالبانو ملاتړ زیات کړی ، ټولنو ویلي چې دوی د افغان سیمه ییزو پولیسو په پرتله طالبانو ته د وړوکي شیطان په سترګه ګوری. د بېلګې په توګه ، د ۲۰۱۳ کال په لومړیو کې د فاریاب د ولایت د قیصار په ولسوالي کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د واحدونو د ځای پر ځای کیدو راهیسی ، یوناما د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا چې په هغو کې د سیستماتیکو شکونو ، ګواښونو ، تهدیدونو ، څورونو او دولتي ادارو او د والي او پولیسو د مشر دفترونو ته د خلکو منع کول شامل دي ، سرغړونې ثبتې کړې دی[225].

د قیصار په ولسوالي کې د څورونو ، نا سم سلوک او خپل سری توقیف په اړه اضافی راپورونه د یوناما د دوامداره څېړنو موضوع ده. د ټولنو د غړو او د ولسوالي د چارواکو په حواله ، د قیصار په ولسوالي کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د ۳۰۰ کسیزه ځواک یوه برخه یوازې د یوې شخصي ملیشا په حیث ، د افغان ملي پولیسو د ولسوالي د کچې د پولیسو د مشر او نورو ځایی چارواکو د کنترول او قوماندی څخه د باندې عمل کوي. د والی او پولیسو د مشر دفترونو ته رسیدلو شکایتونو و نه شوای کولای چې د اقدامونو د ترسره کولو او د څېړنو د پیل لپاره لار هواره کړي.

**د دوسیې څېړنه: د قتل ، مخدره توکو د قاچاق او اجباري ودونو په هکله د افغان سیمه ییزو پولیسو لپاره معافیت**

د ۲۰۱۳ کال په فبروري کې ، د کورنیو چارو وزارت د ننګرهار په ولایت کې د افغان سیمه ییزو پولیسو یو سیمه ییز قوماندان په دنده وګماره[226]. د ټولنې استازو ، د بشري حقونو مدافعینو او نورو ځایی کسانو د سیاسي اړیکو او راپور شوی جنایت کاری له امله د نوموړي قوماندان د ټاکلو سره مخالفت وکړ.

د نوموړی د ټاکل کیدو راهیسې ، یوناما د وژنو ، اجباري ودونو ، د افغان سیمه ییزو پولسیو د یوې امنیتي پوستې د جوړولو لپاره د شخصي ملکیت د ناقانونه نیونې او د مخدره توکو د قاچاق په شمول د بشري حقونو د سرغړونو او په

[223] د ځایی چارواکو ، د خاص ارزګان د ټولنی د مشرانو او نورو سرچینو سره د یوناما مرکې ، د ۲۰۱۳ کال اګسټ او سپټمبر ،تیرینکوټ ، ارزګان.
[224] مخکینی ماخذ او د ځایی سازمانونو سره د یوناما مرکې ، د ۲۰۱۳ کال د ډسمبر ۱۲ ،تیرینکوټ ، ارزګان.
[225] د ۲۰۱۲ کال راهیسی ، د فاریاب ولایت په قیسار ولسوالی کې یوناما ۸ پیښی په کومو کې چې افغان سیمه ییزو پولیس ښکېل وه ثبتی کړیدی. د دغو پیښو له جملی څخه ۵ په ۲۰۱۳ کال کې واقع شوی دی. په دې کې د قومی مشر د ژوبلولو پیښه چې د مارچ د میاشتی په ۲۸ ترسره شوه او بله د ټولنی د غړو په وړاندی چې د شخړو د حل په موخه دولتی چارواکو ته مراجعه کوی تهدیدونه شامل دی. د ټولنی د مشرانو او د قیسار د ولسوالی د ځایی چارواکو سره د یوناما مرکې ، د ۲۰۱۳ کال اګسټ ، فاریاب ولایت.
[226] د امنیتی اندیښنو او ممکنه غبرګونو د ښودلو په موخه د ولسوالی د نوم د اخیستلو څخه ډډه کېږی.

جنایت کارۍ کې د قومندان د ښکېلتیا په اړه ګڼ راپورونه ترلاسه کړي دي. یوناما دغه ادعاګانې د کورنیو چارو د وزارت د استازو(د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست) او د ولایتي افغان ملي پولیسو سره شریکې کړې دي. د ۲۰۱۳ کال په اکتوبر کې ، د کورنیو چارو وزارت نوموړی قومندان د دندې څخه ګوښه او د هغه په وړاندې یې قانوني اقدامات پیل کړل. د دې پریکړې اساس د سیمه ییزو پولیسو د جنایي څېړنو د ریاست په هغو وړاندېزونو ولاړه ده چې د افغان سیمه ییزو پولیسو د قومندان په وړاندې یو شمیر ادعاګانې څېړي او د هغو شکایتونو پر اساس چې د یو شمیر سرچینو څخه تر لاس ته شوي ، یوه مفصله دوسیه تیاره کړي.

د اکتوبر په نیمایي کې ، د کورنیو چارو وزارت یاد قومندان د افغان سیمه ییزو پولیسو ریاست ته احضار کړ او بیا یې نوموړی قومندان د کورنیو چارو د وزارت معین ته ولیږ. د دندې څخه د ګوښه کیدو پر ځای ، د یوه ضمانت لیک د لاسلیک کولو وروسته چې نوموړی به بیا جنایي عملونه نه تر سره کوي ، قومندان بیرته خپلې دندې ته ستون شو.

کله چې د اکتوبر په ۳۱ د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست څخه پوښتنه وشوه نو هغوي یوناما ته وویل ، د ننګرهار د پخواني والي سره د نوموړي د اړیکو او ملاتړ له امله نوموړی قومندان په خپله دنده پاتې شو.[۲۲۷]

**د حساب ورکونې نوي تدبیرونه**

د کورنیو چارو د وزارت په دننه کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د نظارت او څېړنو واحد د افغان سیمه ییزو پولیسو لپاره د نظارت عمومي میکانیزم دی چې مرکزي دفتر یې په کابل کې دی[۲۲۸]. د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست په حواله ، یاد واحد په ۲۰۱۳ کال کې د افغان سیمه ییزو پولیسو په وړاندې د ۱۰۰ څخه زیاتې دوسیې څېړلې دی ، ا و د دې جملې څخه یې په ولایتي کچه ۵۹ دوسیې پوځي څارنوالانو ته راجع کړې دي[۲۲۹]. د دغو مثبتو اقداماتو سربېره ، د نظارت او څېړنو واحد و نه توانید څو د دغو دوسیو پرمختګ معلوم او د اړوندو محکومېتونو او تعلیق په اړه کومه شمیره وړاندې کړي. په ولایتي کچه د ریاست د دایمی نه شتون له امله اړ دي څو د جدي سرغړونو د څېړنو په موخه د کورنیو چارو د وزارت په ساحوی ماموریتونو تکیه وکړي. ساحوي ماموریتونه هم د خپل کار د ترسره کولو لپاره د والیانو او د افغان ملي پولیسو په همکارۍ او ښه نیت ،متکی دی.

د کورنیو چارو د وزارت د افغان سیمه ییزو پولیسو یوه څېړونکی یوناما ته وویل:

*"تر هغو چې موږ د افغان سیمه ییزو پولیسو د نظارت یو ور ،خپلواکه او صلاحیت لرونکی واحد و نه لرو ، د افغان سیمه ییزو پولیسو معافیت به جارۍ او موجود وي او د هغوي په اړه به سمبولیک او کمزورۍ نظارت لا هم له بده بدتر شي."*[۲۳۰]

د بېلګې په توګه ، د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ په ۱۷مه ، د کورنیو چارو وزارت د افغان سیمه ییزو پولیسو ریاست د کندز ولایت د چهار درې ولسوالۍ ته یو هیئت په دې موخه چې د افغان سیمه ییزو پولیسو د ولسوالۍ د کچې د واحد د قومندانانو سرغړونې چې د بشري حقونو په سرغړونو تورن دی وڅېړی ، واستاوه. په دې سرغړونو کې ځورونې ، جدي تهدیدونه ،شکونې او اجباري کار شامل دي[۲۳۱]. ریاست د جنورۍ په ۱۹مه قومندانان احضار او ونیول ، خو پوځي څارنوال د شواهدو د نه شتون له امله هغوي د جنورۍ په ۲۱مه بیرته خوشي کړل. د کورنیو چارو د وزارت څېړونکی څارنوال ته د ادعاګانو د تایید په اړه یو یادداښت وسپاره ، خو د جنایي اتهام د څېرلو او یا د محکومېت د ملاتړ په موخه شواهد یې ور نه کړل[۲۳۲]. شواهد

---

[۲۲۷] د سیمه ییزو پولیسو د ریاست ، د کورنیو چارو د وزارت د مرکزی دفتر سره د یوناما مرکه ، د اکتوبر ۳۱، ۲۰۱۳ کال ، کابل.

[۲۲۸] د بیلګی په توګه ، په پوځی شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنی په هکله د افغان سیمه ییزو پولیسو د پروګرام او د پروګرام په هکله د بشری حقونو د اندیښنو په اړه د شامتظر لپاره د یوناما د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کلونو کلنی او نیم کلن راپورونو ته مراجعه وکړی:
http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=13941&language=en-US

[۲۲۹] د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست سره د یوناما مرکه ، د جنوری ۹ ، ۲۰۱۴ کال ، د کورنیو چارو د وزارت مرکزی دفتر ، کابل.

[۲۳۰] مخکینی ماخذ.

[۲۳۱] د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست سره د یوناما مرکه ، د کورنیو چارو وزارت ، د جنوری ۱۷ ، ۱۸ ، ۱۹ ، ۲۰۱۳ کال ، کندز.

[۲۳۲] د ځایی چارواکو سره د یوناما مرکه ، د جنوری ۲۳ ، ۲۰۱۳ کال ، کندز.

د ولايتي پوليسو د جنايي څېړنو رياست ته وسپارل شول ، ياد رياست د راپورونو له مخې د څارنوال سره د معلوماتو د شريکولو پر ځای معلومات له ځانه سره وساتل[۲۳۳] .

د هغوي د خوشي کيدو نه وروسته ، تورنو کسانو بيرته په خپلو دندو پيل وکړ. يوناما له هغه راهيسی د قربانيانو او شاهدانو څخه يو شمير راپورونه تر لاسه کړي او ادعا کوي چې د هغوي لخوا "د بخښنی د مکتوبونو" لاسليک کولو ته په اجباري توګه اړ شوي دي[۲۳٤] . پوځي څارنوال ويلي چې د امنيتي انديښنو له امله په دې نه دې توانيدلی چې د څيړنو په موخه ساحې ته ولاړ شي[۲۳٥] . دواړه قومندانان وروسته د صلاحيت څخه د ناوړه کارونې په تور محاکمه شول خو د مادي شواهدو او ګواهي ليک د نه شتون له امله دواړه کسان تبرئه شول[۲۳٦] . د دې راپور د خپريدو پر مهال ، دواړه کسان په خپلو دندو پاتې وو.

د افغان سيمه ييزو پوليسو په دننه کې د نظارت او حساب ورکونې د تقويت په موخه ، ايساف د د ۲۰۱۳ کال په ورستيو کې د افغان سيمه ييزو پوليسو د نظارت يو فهرست منځ ته کړ. دغه فهرست د افغان سيمه ييزو پوليسو هغه ولسوالي ګانې څرګندوي چې به هغو کی د بشري حقونو سرغړونې ، په سستم پورې تړلی فساد ، کمزوری مشرتابه ، د پام وړ قومي اختلافونه او يا عامه ملاتړ او سطوحی امنيت نه شتون تجربه کوي ، شامل دی ،[۲۳۷] . په پروګرام کې د ګډو سرچينو څخه(د ايتلافی ځواکونو ،کورنيو چارو د وزارت ،يوناما ، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون او داسې نورو) د راپورونو بشپړيدل شامل دي چې هغه ادعا شوې سرغړونی چې په هغو کې افغان سيمه ييز پوليس ښکيل دی ، وپيژنی[۲۳۸] .

ايساف د افغان سيمه ييزو پوليسو پيژندل شويو واحدونو ته په خپل "نظارتی فهرست" کې ځای ورکوي. د دې په نتيجه کې د کورنيو چارو وزارت ته يو اخطاری مکتوب استول شوی ، د دې مکتوب د صادريدو وروسته د کورنيو چارو وزارت اړ دی څو يوه څيړنه ترسره کړي او په پای کې په دريو مياشتو کې د ولسوالي د وضعيت په اړه له سره کتنه وکړي. که چيرې د انديښنې وړ مسايلو ته ځواب و نه ويل شي ، ايساف ممکن په ولسوالي کې د افغان سيمه ييزو پوليسو د ځينو کسانو معاشونه په موقتی ډول وځنډوی ، او يا د اړتيا په صورت کې تشکيل لغوه کړي[۲۳۹] . د دې راپور د خپريدو پر مهال ، د فارياب د ولايت د غورماچ د ولسوالي تشکيل د افغان سيمه ييزو پوليسو د پروګرام د نا سم مديريت له امله د ۲۰۰ تنو څخه ۵۰ تنو ته را ټيټ شو[۲٤۰] .

په پوځي شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د يوناما له خوا د دې ادارې په مخکنيو راپورونو کې د چمتو شويو وړانديزونو سره په سمون کې ، يوناما د افغان سيمه ييزو پوليسو لپاره د ښوونې د نوی پروګرام چې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون په همکارئ د بشري حقونو په اړه ۱۴ ساعته ښوونې په کې شاملې دي ، ستاينه کوي[۲٤۱] .

د افغان سيمه ييزو پوليسو د ځواکونو د حساب ورکونې د ښه کولو په موخه د دې پام وړ هڅو سربېره ، يوناما د هيواد په ځينو برخو کې د افغان سيمه ييزو پوليسو د يو شمير غړو د جاری او دوامداره معافيت په اړه د انديښنې يادونه کوي. په هغو دوسيو کې چې د هغوي د عملونو په وړاندې د افغان سيمه ييزو پوليسو غړي مسول ګڼل شوي ، هغه افغان سيمه ييزو پوليسو پورې محدود پاتې شوي کومو چې ټيټې رتبې لرلې او سياسي اړيکې يې نه لرلې. دا د انديښنې څخه يو ډک تمايل دی چې په ۲۰۱۴ کال او د هغه نه وروسته موده کې بايد له نږدې تعقيب شي ، او ښايي د بشري حقونو د سرغړونو لپاره مخ پر

---

[۲۳۳] د کورنيو چارو د وزارت د سيمه ييزو پوليسو د رياست د غړو سره د يوناما مرکه ، د کابل مرکزی دفتر ، د جنوری ۹ ، ۲۰۱۴ کال.

[۲۳٤] د قربانيانو او شاهدانو سره د يوناما ټيليفونی مرکه ،د جنوری ۲۱ ، ۳۰ ، ۱۳ ۲۰۱۳ کال.

[۲۳٥] د ځايي چارواکو سره د يوناما مرکه ، د جنوری ۲۳ ، ۲۰۱۳ کال ، کندز.

[۲۳٦] د ځايي چارواکو سره د يوناما مرکه ،د نومبر ۱۸ ، ۲۰۱۳ کال ، کندز.

[۲۳۷] طبقه يی امنيت په يوه سيمه کې د ټولو افغان ملی امنيتی ځواکونو تداخلی شتون ته راجع کېږی. افغان سيمه ييز پوليس ، چې دنده يی يواځی دفاع ده د افغان ملی پوليسو او افغان ملی پوځ په عناصرو چې د هغوی د پوستو په نږديوالی کې ځای پر ځای شوی څو د اړتيا په وخت کې د هغوی مرستی ته ور ودانګی ، متکې دی. دا په دی مانا که چيری د افغان ضد عناصرو لخوا په هغوی بريد وشی د هغوی مرسته وکړی.

[۲۳۸] د افغان سيمه ييزو پوليسو د ځانګړو عملياتو مرستيال رييس ،د ناټو د خاصو عملياتو د افغانستان د جزء د قوماندی ، ايساف سره د يوناما د ايميل تبادله ، د جنوری ۹ ، ۲۰۱۴ کال ، کابل.

[۲۳۹] د امريکا پوځ د افغان سيمه ييزو پوليسو د ځانګړو عملياتو ،د ناټو د خاصو عملياتو د افغانستان د جزء د قوماندی ، ايساف له لاری د افغان سيمه ييزو پوليسو پروګرام تمويلوی.

[۲٤۰] مخکينی ماخذ.

[۲٤۱] د افغان سيمه ييزو ځواکونو لپاره د بشری حقونو روزنی په پوځی شخړه کې د ملکي تلفاتو د ساتنی او تعقيبی وکالت په اړه د يوناما د ۲۰۱۳ کال د نيمايی راپور د وړانديزونو په غبرګون کې معرفی شو. د افغان سيمه ييزو پوليسو د ځانګړو عملياتو د مرستيال رييس ،د ناټو د خاصو عملياتو د افغانستان د جزء د قوماندی ، ايساف سره د يوناما د ايميل تبادله ، د جنوری ۱۷ ، ۲۰۱۴ کال ، کابل.

زیاتېدونکی زغم مشخص کړي. دا د ملکي کسانو په وړاندې د افغان پولیسو د سرغړونو په حواله څوک چې ګمان کیږي د دولت ضد عناصرو سره تړاو لري یو خاص حالت بني.

یوناما د دې سربېره مشاهده کړې چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو ځینې غړي په دې نظر دي چې د هغوي افسران ، د افغان سیمه ییزو پولیسو په شمول باید د هر ډول ناوړه عملونو لپاره مسول و نه ګڼل شي ځکه چې د دولت ضد عناصر د تاو تریخوالي پاروونکي دي. د یوناما په نظر ، د یوه نا سم کار په وړاندې د بل نا سم کار پواسطه د مبارزی لاره کیدای شي په دې وروستیو کلونو کې د حساب ورکونې په برخه کی لاسته راوړنی په چټکی سره له منځه یوسی.

یوناما همدارنګه یادونه کوي چې د افغانستان دولت د افغان او نړیوالو قوانینو لاندې اړ دی څو د هیواد د مامورینو لخوا د تېرلو ادعا شویو جنایتونو او د بشري حقونو د سرغړونو لپاره تر تحقیق او عدلي تعقیب لاندې ونیسي. یوناما څرګندوی چې د کورنیو چارو د وزارت او د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د پایدارو ،اړوندو او همغږی هڅو او اصلاحی تدبیرونو د نیولو پرته ، د ملکي کسانو په وړاندې د افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د بشري حقونو سرغړونی به د حجم او اهمیت له لحاظه دوام ومومی او زیاتې به شي.

## د افغان سیمه ییزو پولیسو په هکله وړاندېزونه

یوناما وړاندېز کوي چې د افغان سیمه ییزو پولیسو د استخدام د تجویز شویو طرزالعملونو سره په مطابقت کې ، د افغانستان دولت د افغان سیمه ییزو پولیسو نوي ګمارل شوی کسان په خاص ډول قومندانان په سمه توګه ارزیابی کړي. د افغان سیمه ییزو پولیسو هر غړی چې د بشري حقونو په جدی سرغړونو کې ښکیل وي ، باید سمدستي د هغوي د سیاسي اړیکو په نظر کې نه نیولو سره له دندې ګوښه ،بې وسلې ، تحقیق او د عدلي تعقیب لاندې ونیول شي. د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست د ظرفیت د لوړولو په موخه باید هڅې ترسره شي څو د سیاسي ملاتړ ، عملي مرستو ، تجهیزاتو ، پرسونلو او سرچینو د برابرولو له لارې د افغان سیمه ییزو پولیسو د سرغړونو لپاره د حساب ورکونې څخه ډاډ حاصل شي.

د دې لپاره چې په محلي کچه د مداخلو څخه مخنیوی وشي ،یوناما په خپلو وړاندېزونو ټینګار کوي څو د کورنیو چارو وزارت د سیمه ییزو پولیسو د ریاست لپاره یو پوځي څارنوال په دنده وګماری چې په ملي کچه د څېړنو رهبري وکړي. د کورنیو چارو وزارت باید همدارنګه د بشري حقونو د لوړې رتبی یو ذمه وار شخص هم و ټاکي څو د څېړنو خپلواک نظارت ته لار هواره کړي او د حساب ورکونې د تدبیرونو څخه ملاتړ وکړي.٠

## د حساب ورکونې نشتوالی: حکومت پلوه وسله وال ګروپونه [۲۴۲]

*دلته په حکومت کې دننه یو بل حکومت شته ، داسې حکومت چې عدالت یې زمونږ لپاره نا ممکن ګرزولی دی. دا حکومت یوازې ددې لپاره شته چې پخپله په ځواک کې پاتې شي او موږ تر فشار لاندې ونیسي.* [۲۴۳]
*-- قومی مشر ، کنم کلان کلی ، کندز ، د اپریل ۶مه ، ۲۰۱۳*

یوناما په ۲۰۱۳ کال کې څو داسې پیښې څېړلې دي چې ځینی دولت پلوه ګروپونه د بشري حقونو د نقض په اړه حساب ورکونې ته حاضر شوي نه دي. د نقض دغه پېښې د دوي د امنیتي عملیاتو په ترڅ کې رامنځ ته شوې دي. هغه پیښې چې یوناما ثبت کړې دي ، ورته څرګنده شوه مجرمین د ټولنی خلکو او امنیتي چارواکو ته معلوم او کیدای شوای چې د تعقیب په ذریعه یې ځای معلوم کړی وای او د حساب ورکونې خبره د محلي حکومت په سیاسی ارادې او هڅو پورې تړلې ده.

د بشري حقونو د بین المللي قانون له مخې چې د وسله والې جګړې په وخت کې د تطبیق وړ ګڼل کیږي ، حکومت د دې مسوولیت لري چې د حکومت پلوه وسله والو ګروپونو په ګډون د خپلو استازو له خوا د مرګوني قوې د استعمال په اړه

---

[۲۴۲] د ( وسله والی ډلی ) د تعریف لپاره وګوری ددی راپور قانونی برخه.
[۲۴۳] د کانام د کلیو له مشرانو سره د یوناما کتنه ، اپریل ، ۲۰۱۳ ، کندز .

تحقیقات وکړي[٢٤٤]. دغه مسوولیت او له هغه سره یو ځای له دې قانون څخه احتمالي غفلت د ژوند له حق او نورو حقونو څخه سرچینه اخلي. د دولت له خوا تحقیقات باید فوري ، بشپړ او بې پلوه وي او په خپلواک ډول تر سره شي چې د اغیز منو تحقیقاتو غوښتنې پوره کړي او د عامه نظارت لپاره خلاص وي.

یوناما په تیرو وختونو کې هم د حکومت پلوه ګروپونو له خوا په ملکي کسانو باندې د بریدونو او د دوی د حقونو د نقض د قضیو په اړه راپورونه ورکړي دي چې د چارواکو له خوا په اغیزمن ډول تر تحقیق او تعقیب لاندی نه دي نیول شوي[٢٤٥]. یوناما دا هم مشاهده کړې ده چې په ځینو قضیو کې مجرمین بیا هم لا په ځواک کې پاتې شوي ، دوی د قوماندې ورکوونکي دي او سیمې تر کنترول لاندی لري او پرله پسې ډول په هغو سیمو کې چې دوي عملیات کوي د ملکي خلکو لپاره خطر جوړوي[٢٤٦].

په ٢٠١٣ کې یوناما د حکومت پلوه وسله والو ګروپونو له خوا د عملیاتو په ترځ کې د ملکي کسانو د تلفاتو او نقض ٥٥ قضیې (١٨ د ملکي کسانو د مړینې او ٣٧ د ژوبلې قضیې) ثبتي کړي دي[٢٤٧]. د نقض په قضیو کې عمدي وژنې ، تاقانونه عملیات ، وهل ، تهدیدونه او د ملکیتونو تخریبول او غلا کول شامل دي. نژدې ټولې قضیې چې یوناما ثبتي کړي دي په کندز او فاریاب ولایتونو کې پیښې شوې دي چې د حساب ورکونې نشتوالی په کې لیدل کیږي.

**قضیه: د کندز ولایت په کنم کلان کلي کې د عامو خلکو وژنه او د بشري حقونو نقض**

د ٢٠١٢ کال د سپټمبر په ٢مه حکومت پلوه وسله وال ګروپ د کندز ښار ته نژدې د کنم کلان په کلي برید وکړ چې د ټوپکو او راکټونو په ذریعه یې د کلي نارینه کسان تر برید لاندې ونیول چې ١٢ ملکي کسان پکې مړه شول او ٨ نور ژوبل شول. د راپورونو له مخې یوه ښځه په داسې حال کې ژوبله او و وژل شوه چې هڅه یې کوله خپل میره وژغوري ، په ٢٠١٣ کې د ټولنې د خلکو د اعتراض په پایله کې ٨ ټیټ رتبه غړی د وسله واله ګروپونو څخه ونیول شول. دوه تنه یې د اتلسو میاشتو په قید محکوم شول ، چې وروسته دغه فیصله د استیناف د محکمې له خوا مسترده شوه او دوي خلاص شول.

هغه قوماندانان چې د برید مسوولیت یې درلود ، نیول شوي نه دي ، سره د دې چې د کندز ولایت د څارنوالۍ له خوا یې د نیولو امر صادر شوي دی. د خان اباد د ولسوالۍ ډیرو منبعو په شمول د پولیس او نورو حکومتي چارواکو یو ناما ته ویلي دي چې د قوماندانانو ځایونه معلوم دي او که د کندز چارواکي وغواړی کیدای شي چې دغه کسان ونیول شي.

د ٢٠١٣ د اپریل په ٦مه د کنم کلان یو تن مشر چې په محلي او ملي کچه د ٢٠١٢ کال د عامه وژنې په رسوا کولو کې ډیر فعاله و ، د دوو تنو موټر سایکل سپرو له خوا و وژل شو. محلي چارواکو دغه قضیه د دښمنۍ د یوې شخصي قضیې په څیر له پامه و غورځوله[٢٤٨].

د ٢٠١٣ کال د اپریل په ١٦ مه یو بل نامتو پښتون مشر په عین شرایطو کې و وژل شو او دغه قضیه هم د شخصي دښمنۍ تر عنوان لاندې له پامه غورځول شوې[٢٤٩]. د کنم مشرانو او کلیوالو چې یوناما ورسره مرکې کړې دي په دې ټینګار کاوه چې د وژنې دغه دواړه قضیې په ٢٠١٢ کال د کنم د عامه وژنې له قضیې سره اړیکه لري.

د ٢٠١٣ د سپټمبر په ٢٠ مه د کندز ولایت په یوه ولسوالی کې د طالبانو او د حکومت پلوه وسله واله ګروپونو تر منځ یوه وسله واله نښته وشوه. وسله والو ګروپونو ، چې تر دې د مخه د کنم د عامې وژنې په قضیه کې شامل وو او په سیمه کې حکومت ضد عناصر له سیمې وباسل ، کلي یې لوټ کړل ، او د کلیو ملکي خلک یې تر برید لاندی ونیول. یوناما باوری او

[٢٤٤] دویمه برخه وګورئ ، حساب ورکونه او د قربانیانو حقونه ، په وسله واله جګړه کې د بشري حقونو د ساتنې لپاره نړیوال حقوقي محافظت ، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنر دفتر ، ژنیو ، ٢٠١١

[٢٤٥] په وسله واله جګړو کې د ملکی کسانو د ساتنی په باب د یو ناما د ٢٠١٢ او ٢٠١٣ کلونو کلنی او نیم کلن راپورونه په دی پته وګورئ: http://www.unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=13941&language=en-US

[٢٤٦] له محلي چارواکو سره د یوناما مرکی ، ١٦ اپریل ، ٢٠١٣ کندز ښار.

[٢٤٧] په ٢٠١٢ کې یوناما ٥٥ ملکی تلفات ( ٣٨ مړینې او ١٧ ژوبلې ) مستندی کړی دی چې د دولت پلوه وسله واله ډلو له خوا تر سره شوي.

[٢٤٨] له محلي چارواکو سره د یوناما مرکی ، ٦ اپریل ، ٢٠١٣ کندز.

[٢٤٩] له محلي چارواکو سره د یوناما مرکه ، ١٦ اپریل ، ٢٠١٣ کندز.

پرله پسې راپورونه تر لاسه کړي دي چې وسله وال ګروپ یو تن ملکي کس په وهلو و واژه یو بل مشر ملکي تن يې و ویشت او ویې واژه او دوه تنه نور ملکي کسان يې ژوبل کړل[۲۵۰].

د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۲ کلونو په ترڅ کې همدغه وسله وال ګروپونه چې د کندز ولایت په کلیو يې بریدونه کړي وو ، د راپورونو له مخې په سیمه کې په جنایی فعالیتونو او په بشري حقونو په تیریو کې شامل وو.

**ملاحظې:**

یوناما مشاهده کړې ده چې د داسې حکومت پلوه وسله والو ډلو په اړه د حساب ورکونی هڅې زیاتره له دی امله په جوړ جاړی باندې ختمې شوې چې مجرمین په محلي او ملي کچو د ځواکمنو کسانو سره اړیکې لري. حمایتی شبکې چې په ښکاره مجرمین حمایه کوي له کلیو څخه نیولې تر ملي کچې پورې غځیدلې او فساد ته وده ورکوی ، دنشه يي توکو صنعت او د کورنیو ، قبیلوي او له ځواکمنانو سره د اړیکو پربنسټ فعالې دی.

یوناما ویلي دی چې دا ډول شبکې ډیر ځله د بشري حقونو د ساتنې لپاره خنډ ګرزیدلی دي او د قانون د واکمنی په برخه کې يې په سختی سره لاس ته راوړنې په دې ذریعه فسخ کړی دي چې د بیرونو ، واسطې یا بډو په ورکولو يې د بشري حقونو د سرغړوونکو لپاره مصوونیت برابر کړی او د دوي د تعقیب مخه يې نیولی ده[۲۵۱].

یوناما په څو مواردو کې مشاهده کړې ده چې د مجرمینو په تعقیبولو کې غفلت د دې ویرې له امله شوی دی چې د دولت پلوه ډلو له خوا د بشري حقونو د نقض په اړه د حساب ورکونې هڅې ښایی هغه کوښښونه بند کړي چې د حکومت ضد عناصرو د کنترول په ضد په دغو سیمو کې تر سره کیږي[۲۵۲]. د مثال په توګه د کنم په کلي باندې له برید څخه وروسته د کندز امنیتي چارواکو یوناما ته ویلي دي چې دوی دغه قوماندانان د دې لپاره مهم نظامي قوتونه شمیری چې د طالبانو لاس ته د خان اباد د ولسوالی د بیرته لویدلو مخنیوی کوي.

یوناما په دی ټینګار کوې چې د بشري حقونو نقض او په هغوی تیری د دې خطر را پیدا کوي چې نا امني او خړپړتیا زیاته شي او د افغانستان د حکومت مشروعیت زیان و مومي.

---

[۲۵۰] د بوته د ټولنی له مشرانو سره د یوناما تیلیفونی مرکه ، اکتوبر ۲۰۱۳.

[۲۵۱] د یوناما تحلیل په هغو یو شمیر مرکو باندی ولاړ دی چې دی سازمان د ۲۰۱۳ په دوهمه نیمایی کې د خپلو کتنو په ترڅ کې د کندز د ولایت په خان اباد ، امام صاحب او قلعه زال په ولسوالیو کې تر سره کړی دی. په دی مرکو کې خارنوالانو ، محلي رسمي چارواکو ، د روغتیا کارمندانو ، ښوونکو ، ژور نالستانو ، او د ښځو مشرانو برخه اخیستی وه چې ټولو د زور مندانو او حمایت کوونکو مداخلو ته اشاره کړې ده چې د کندز په ولایت کې د بشري حقونو سرغړونو ته له جزا څخه د معافیت مهم لامل ګڼل کیږي.

[۲۵۲] یوناما مرکه: د کندز ولایت د امنیه قوماندان سره ، اکتوبر ۸ ، ۲۰۱۳. د قوماندان په قول ، د سیمه ییز پولیسو ایجادول چې د دولت پلوه وسله واله ځایی ډلو حساب ورکونی په لوری په خان اباد کې یو مهم ګام دی.

## ۴. د نښتو په ساحه کې د بشري حقونو ساتنه

### ماشومان او وسله واله جګړه

*یوه محلي طالب قوماندان ماته وویل چې د لیرې ښخه د کنترول شوي الی بتن ، چې د سیمه ییزو پولیسو ډلې ته نژدی ځای په ځای شوې ده په ګوته تېنګه کړم. کله چې ما له دی کار څخه انکار وکړ ، هغه بیا زه او زما مور او پلار په مرګ تهدید کړل. هغه ماته وویل چې زه به جنت ته ولاړ شم او ډیر ثوابونه به وګټم. ما د لیری کنترول اله واخیسته. کله چې زه هدف ته نژدی کیدم ډیر و بیریدلم. هغه زه هم تر هدف لاندی نیولی وم ، او اشاره یې راکوله چې په بټن ګوته تېنګه کړم. ما هغسې وکړل.*

-- پینځلس کلن هلک چې د ۲۰۱۳ کال د می په ۵ مه د لیری ښخه د ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکو له برید څخه وروسته په بغلان ولایت کې د ملي امنیت د اداری له خوا توقیف شوي[۲۵۳]

۲۰۱۳ د افغان نجونو او ماشومانو لپاره له ۲۰۰۹ څخه راهیسی تر ټولو بد کال و. په دې کال کې د ماشومانو د مړینې او ژوبلې ډیرې زیاتې پیښې ثبتې شوې دي. په جګړو پورې مربوط د ماشومانو تلفات ۱۷۵۶ (۵۶۱ ماشومان مړه او ۱۱۹۵ تنه ژوبل شوي) دي. دغه شمیر د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۳۴ سلنه زیاتوالی ښرګندوي. د ماشومانو تلفات د ټولو تاکتیکونو په اثر رامنځ ته شوي دی خو د ماشومانو اکثریت د ځای پر ځای شو یو چاودیدونکو توکو او د مځکنیو جګړو په ترڅ کې ژوبل شوي دي. د افغان ماشومانو د ۱۷۵۶ تنو تلفاتو او ژوبلو څخه ۹۶۴ هغه (۳۲۸ مړینې او ۶۳۶ ژوبلی دي) یې یا ۵۵ سلنه د ټولو تلفاتو څخه د حکومت ضد عناصرو د عملیاتو په پایله کې را منځ ته شوي دی. ۲۶۶ د ماشومانو تلفات (۹۳مړینې او ۱۷۳ ژوبلې) یا د ټولو تلفانو ۱۵ سلنه یې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوې ده. ۲۴۵ د ماشومانو تلفات (۵۰ مړینې او ۱۹۵ ژوبلې) یا د ټولو تلفاتو ۱۴ سلنه د دولت پلوه او دولتی ضد قوتونو تر منځ د نښتو په پایله کې را منځ ته شوي او ۱۳ سلنه تلفات (دوه مړینې او ۱۱ ژوبلې) د متقابلو ډزو په اثر پیدا شوي دي. پاتې د ماشومانو ۲۶۸ تلفات (۸۸ مړینې او ۱۸۰ ژوبلې) هیڅ لوری ته نه دی منسوب شوي او په ډیری یې د پریښودل شویو چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي دي.

که څه هم مځکنیو جګړو ماشومانوته زیات زیانونه رسولي دي ، ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو تر ټولو زیات افغان ماشومان وژلي دي. یوناما د ماشومانو ۵۱۱ تلفات (۱۹۲ مړینې او ۳۱۹ ژوبلې) مستند کړې دي چې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په ذریعه را پیدا شوي دي. دغه شمیر د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۲۸ سلنه زیاتوالی ښرګندوي. یوناما د ماشومانو ۶۴۱ تلفات (۱۳۷ مړینې او ۵۰۴ ژوبلې) مستند کړی دی چې د مځکنیو نښتو په اثر رامنځ ته شوي او د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۵۹ ٪ زیاتوالی ښرګندوي.

د ماشومانو تلفات له جګړو څخه د پاتې شویو چاودیدونکو توکو په ذریعه د رامنځ ته شویو ټولو تلفاتو ۸۳ ٪ جوړوی او په دی ډول ماشومان د دغو توکو څخه تر ټولو زیات زیانمنیدونکی ډله ده ، چې له جګړو څخه د پاتې شویو چاودیدونکو توکو له امله د ۳۴۳ تلفاتو څخه ۲۸۴ یوازې د ماشومانو په منځ کې رامنځ ته شوي (۹۳ مړینې او ۱۹۱ ژوبلې). دغه شمیر د ۲۰۱۲ کال پر پرتله ۷۴ سلنه زیاتوالی ښرګندوي.

### اختطافونه او وژنې

په ۲۰۱۳ کې یوناما د ۳۰ هلکانو او ۴ نجونو د اختطاف پیښې په ۱۶ حادثو کی تصدیق کړی دي چې ټولې یې د دولت ضد عناصرو له خوا تر سره شوي دي. د اختطاف ۸ قضیې په شرقي سیمو کې ، ۵ یې په جنوبي سیمو او دوه یې له دواړو جنوبي او غربي سیمو څخه راپور شوې دي. د ماشومانو د اختطاف لاملونه په ظاهري ډول داسې ښودل شوي چې دوي حکومت ته د جاسوسي او له هغه سره د مرستې په تور او په جبری ډول په وسله واله ډلو کې شامیلیدل شوي دي.

یوناما مستنده کړی ده چې د دولت ضد عناصرو له خوا له اختطاف څخه وروسته لس تنه هلکان اعدام شوي دي[۲۵۴]. د مثال په ډول د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر په ۱۲مه دولت ضد عناصرو دوه تنه هلکان چې عمرونه یې ۸ او ۱۰ کاله وو د کنړ

[۲۵۳] د ملي امنیت په ریاست کې د یوناما مرکه ، پلخمری ښار ،بغلان ولایت ، می ۸ ، ۲۰۱۳.

ولایت د وټه پور له ولسوالۍ څخه و تښتول او دوي یې دولت پلوه قواوو ته په جاسوسي تورن کړل او یوه ورځ وروسته یې و وژل[۲۵۵].

### د وسله واله ځواکونو او ډلو له خوا د ماشومانو استخدام او په کار اچول

یوناما له دی درکه ډیره اندیښمنه ده چې وسله وال ځواکونه او ډلې ماشومان استخداموی او له هغوی څخه کار اخلي. یوناما ۲۵ داسې پیښې تصدیق کړی دی چې په هغو کې په ۲۰۱۳ کال کې ۴۳ کم عمره ماشومان استخدام شوي دي. ۶۷٪ دا ډول قضیې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوې ، چې طالبان هم پکی شامیلږي او ۳۳ سلنه یې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوې. د ماشومانو استخدام او په کار اچول په جګړو کې د ښکیلو خواوو په ذریعه ، لکه د افغان ملي پولیس ، افغان سیمه ییز پولیس ، او همدارنګه د دولت ضد عناصرو په ذریعه په ډیرو سیمو کې مشاهده شوي دی. د راپورونو له مخې وسله واله ډلو ماشومان د دې لپاره استخدام کړي دي چې ځان مرګی بریدونه وکړي ، چاودیدونکي توکي ځای پر ځای کړي او مالونه انتقال کړي.

افغان ملي امنیتي ځواکونه په خاص ډول افغان ملي پولیس او افغان سیمه ییز پولیس چې ماشومان استخداموي په هغه لست کې شامل دي چې د ملګرو ملتونو د عمومی منشي له خوا په وسله واله جګړو کې د ماشومانو په اړه په هر کال کې ورکول کیږي. په دې لست کې د شاملیدو د مخنیوی لپاره افغان حکومت یو عملي پلان تصویب کړ چې د کم عمره ماشومانو استخدامول منع کوي (د حکومت او ملګرو ملتونو په منځ کې د ۲۰۱۱ کال د جنورۍ په ۳۰ مه لاسلیک شو).

که څه هم د عمل د پلان په اړه څه پرمختګونه شوي دی ، د ملګرو ملتونو څارونکو ویلي دي چې د کم عمره ماشومانو استخدامول د افغان امنیتي ځواکونو له خوا ، په خاص ډول د افغان ملي پولیس په ذریعه لا تر اوسه جریان لري. د عمر د تعیین دقیق طرزالعملونه ، په ملک کې د زیږیدنی د ثبتولو ټیټه کچه او په تذکرو پورې اړوندې ستونزې د دې سبب ګرځیدلې چې ماشومان د افغان ملي امنیتي ځواکونو په لیکو کې استخدام شي.

د افغان ملي پولیس او افغان سیمه ییز پولیس له خوا د ماشومانو استخدام په پوستو کې چې د چای جوړولو او پیغامونو د وړلو لپاره تری کار اخیستل کیږي اوس هم یوه ستونزه ده. یوناما په ۲۰۱۳ کال کې دې ته ادامه ورکړه چې د افغان ځواکونو له خوا د ماشومانو د استخدام او په کار اچونې راپورونه تصدیق کړي.

- د مارچ په ۱۵ مه له لېرې څخه کنترول شوي چاودیدونکي توکي دیوه ۱۵ کلن هلک په وړاندې د کنړ ولایت د سرکانو په ولسوالی کې و چاودیدل. دې هلک د افغان ملي اردو پوستې ته په خره باندې د ښناک اوبه رسولې.
- د مۍ په ۴مه یوناما د جلال اباد په ښار کې په یوه روزنیز مرکز کې یو ۱۷ کلن هلک ولید. دې هلک و ویل چې مخکې له دې چې دې مرکز ته راشي ، ده د دایکندی ولایت په کیتی ولسوالی کې د پولیس افسر په حیث دنده درلودله.
- د اکتوبر په ۲۹ ،یوناما د کندهار د ماشومانو د اصلاح په مرکز کې یو ۱۱ کلن هلک ولید. هلک و ویل چې دی د کندهار ولایت د میوند په ولسوالی کې د سیمه ییز پولیسو له خوا استخدام شوی دی او هلته یې د اشپزي وظیفه اجرا کوله. د سپټمبر په ۴مه ، ده په غیر قصدی ډول د سیمه ییز پولیسو افسر د کلاشینکوف په ذریعه و ویشت او ویې واژه چې ججوره یې نه درلودله ، خو د سیمه ییز پولیسو افسر په دې نه پوهیده چې په ججوره کې یوه ګولۍ شته.

### له وسله والو ډلو سره د یووالی په تور د ماشومانو بندیانول

یوناما په پرله پسې ډول راپورونه تر لاسه کړي دي چې افغان ملي امنیتي ځواکونو هلکان په دې تور نیولي او بندیان کړي چې د ملي امنیت په ضد فعال وو. د ۲۰۱۳ کال د ډسمبر تر ۳۱ پورې د عدلیې وزارت سندونه ښیې چې ۱۹۶ ماشومان (ټول

---

[۲۵۴] د څارنې او راپور ورکونې هیوادنی کاری قوه —د ملګرو ملتونو له خوا رهبری شوي د څارنی میکانیزم ، چې د ماشومانو د حقونو د نقض د جدی قضیو په باب معلومات را غونډوی چې په افغانستان کې د وسله واله جګړو په شرایطو کې تر سره کیږي . د ماشومانو د نقض د ډیرو جدی قضیو په باب معلومات چې د یوناما په ذریعه مستند کیږي د هیوادنی کاری قوی سره شریک کیږي. یوناما له یونیسیف سره د څارنې کار د کاري قوې سره یوځآی رهبری کوي

[۲۵۵] د یوناما پلټنې ۱۳-۳۱ ، اکتوبر ، ۲۰۱۳ ، قربانیانو د کورنیو غړو ، ملي پولیسو ، ملي امنیت او قومی مشرانو سره مرکی

هلکان) په هیواد کی په د ماشومانو د اصلاح په ټولو مرکزونو کې په دې تور ساتل کیدل چې یا یې له دولت ضد عناصرو سره اړیکې درلودې او یایی د امنیت ضد کارونو کې لاس درلود. د مثال په توګه ، د ۲۰۱۳ د می په ۵ مه ، یوناما له یوه ۱۵ کلن هلک سره مرکه وکړه چې د بغلان ولایت د ملي امنیت د ریاست له خوا له هغه وروسته بندي شو چې له لیرې څخه د کنترول شویو چاودیدونکو توکو یو برید د سیمه ییز پولیسو په ضد وشو. دې هلک یوناما ته وویل چې یو محلي طالب دې ته اړ ایست چې د سیمه ییز پولیسو په ضد دغه وسیله وچوي.

## جنسي تیري او د جنسي تاوتریخوالي نور شکلونه

یوناما په پرله پسې ډول په جګړو کې د ښکیلو خواوو په ذریعه د ماشومانو په وړاندې د جنسي تاوتریخوالي راپورونه تر لاسه کړي دي. یوناما مشاهده کړې ده چې د داسي جرمونو په وړاندې د معافیت یوه عمومي فضا شتون لري چې د رسمي چارواکو له خوا د غفلت له وجې چې دغه مجرمین تر تحقیق ، تعقیب لاندی ونیسی او هغوی ته جزا ور کړی ، کلتوری بدنامی او بې ځایه شرم ، غچ اخیستنی ، ویره ، او د داسي میکانیزمونو نشتوالی چې شکایتونه واوری او په نا امنو سیمو کې د اجتماعي خدمتونو نشتوالی د دې سبب ګرځیدلی چې دغه ډول جرمونه واقع شي. په ډیرو مواردو کې ، هغه ماشومان چې د جنسي تیري د قربانیانو په څیر یې راپورونه ورکړي دي ، پخپله په جرم کولو تورن شوي دي.

که څه هم ډیر کم راپورونه ورکول کیږي ، یوناما په ۲۰۱۳ کال کې د هلکانو په وړاندې د جنسي تاوتریخوالي ۸ راپورونه تر لاسه کړي دي ، چې څلور یې تصدیق شوي (په دریو راپورونو کې افغان ملي امنیتي ځواکونه او په یوه کې دولت ضد عناصر تورن شوي).

- د جنوري په ۱۵مه ، د کندهار په ښار کې یو ۱۶ کلن هلک چې ورځنی جسمانی کارونه یې کول د ملي امنیت ضد فعالیت په تور ونیول شو ، ده ادعا کوله چې د پولیس قوماندان او د هغه مرستیال ده ته شکنجه ورکړې. هلک یوې بلې بندیخانی ته ولیږدول شو ، چیري چې هغه د ۱۸ شپو لپاره توقیف شو. هلک وویل چې پولیس هغه په پښه و ویشت ځکه ده د جنسی اړیکو له ټینګولو څخه انکار وکړ. هغه و ویل چې وروسته دریو پولیس افسرانو په ده باندې جنسي تیری وکړ.
- د فبروري په ۲ مه ، ملي پولیس په کندهار کې یو ۱۶ کلن هلک چې په مدرسه کې یې سبق لوست ، ونیو. هلک یوناما ته و ویل چې دی او دد هـ دوه تنه نور ټولګی وال ملي پولیس ونیول ، هغوی یې د پولیسو ماموریت ته را وستل او هلته یې دوی و وهل ، جنسي تیری یې پرېوکړ او شکنجه یې کړل.
- د فبروري په مه۱۶مه ، دوه تنه هلکان د کندز ولایت د امام صاحب په ولسوالۍ کې د سیمه ییز پولیسو قوماندان او د هغه د ساتونکوله پرې جنسي تیری وکړ. دسیمه ییزو پولیسو قوماندان ونیول شو خو بې له کوم تور څخه بیرته خوشی کړای شو. یوه ۱۶ کلن هلک چې چارواکو ته یې شکایت کړی و د هم جنس بازۍ په تور تورن شو او له هغه وروسته پاکستان ته وتښتید.

## په ښوونځیو بریدونه او هغه حادثې چې تعلیم ته یې لاس رسی اغیزمن کړی[۲۵۶]

په ۲۰۱۳ کې یوناما ۶۲ په شخړو پورې دا ړوندو پیښو راپورونه تر لاسه کړي دي چې تعلیمی وضعه یې متاثره کړې ده. په دې پیښو کې تهدیدونه ، د شاګردانو او ښوونکو بیروني ، د ښوونځیو اشغالول او په هغوی بریدونه ، د ښوونځیو سره نژدې نظامي عملیات چې ښوونځیو ته د ماشومانو په حاضري یې تاثیر کړی دی.

یوناما ۷ داسې پیښې تصدیق کړې دي چې افغان امنیتي ځواکونو ښوونځي اشغال کړي دي. په هره قضیه کې د دریو څخه تر شپږو پورې ښونځي اشغال شوي وو. د مثال په ډول ، د ۲۰۱۳ د اکتوبر په میاشت کې افغان ملي اردو او افغان ملي سرحدي پولیسو د بدخشان د ولایت د وردوج په ولسوالۍ کې درې ښوونځي نیولي وو. د راپورنو له مخې توپونه د ښوونځی په بامونو نصب شوي وو او په ښوونځې کې د ننه سرتیری لیدل کیدل. د دې اشغال په موده کې شاګردانو او ښوونکو ته اجازه نه وه چې ښوونځي ته داخل شي.

---

[۲۵۶] په وسله واله جګړه کې د ماشومانو د ځارنې هیوادنی کاري قوی له خوا تایید شوي.

يوناما په دې باور ده او ددې اندېښنه لري چې د نظامي هدفونو لپاره د ښوونځيو کارول د ښوونځيو بې پلوې ته زيان رسوي ، چې د بشر پالنې د نړيوال قانون له مخې خوندي ځايونه شمېرل کيږي او دغه ډول استفاده ښايي ښوونځی داشغال په موده کې په نظامي هدف واړوي او ماشومان د تعليم او زده کړې څخه چې د دوی بنسټيز حق دی ، محروم شي.په يوه پېښه کې چې په زده کړه يې منفي اثر کړی دی ، د زابل والی د ۲۰۱۳ کال د مۍ په ۱۴مه د دې ولايت د شاجوی په ولسوالی کې د موټر سايکل په استعمال باندې بنديز ولګاوه ، ځکه چې فکر کيده چې موټر سايکلونه د دولت ضد عناصرو له خوا د هدفي وژنو لپاره په کار لويدل. د دغه بنديز په ځواب کې طالبانو په دې ولايت کې په جبری ډول ۴۰ ښوونځی وتړل.

## ښځې او وسله واله جګړه

په ۲۰۱۳ کال کې ، يوناما له ۲۰۰۹ څخه راهيسی ، د ښځو په منځ کې د مړينې او ژوبلې تر ټولو لوی شمير چې په جګړو کې ښځو ته او ښتي دی ، ثبت کړی. يوناما د ښځو ۷۴۶ تلفات مستند کړی دی (۲۳۵ مړينې او ۵۱۱ ژوبلې دی). دغه شمير د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۳۶ سلنه زياتوالی ځرګندوي[257].

ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو ، چې د دولت ضد عناصرو له خوا په کارول کيږي بيا هم زيات شمير ښځې ووژلې ، چې په ۲۰۱۳ کې ۸۶ تنه ښځې وژلی او ۹۱ تنه نورې يې ژوبلې کړې دي (۱۷۷ ښځينه تلفات)[258] ، دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۲۰ سلنه زياتوالی ښيی. د مثال په ډول د نومبر په ۸ ، د زابل ولايت د قلات په ولسوالۍ کې د سرک د غاړې يو ځای پر ځای شوي چاوديدونکی توکي د موټر لاندې و چاوديده چې ۵ تنه ښځې ، دوه تنه ماشومان او ډرايور يې و وژل.

که څه هم ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو چې د دولت ضد عناصرو له خوا په کارول کيږي تر بل هر تاکتيک زياتې ښځې وژلې دي ، مځکنيو جګړو ښځوته تر ټولو زياتي ژوبلې رسولی دی چې د ښځو په منځ کې د تلفاتو سبب ګرځيدلی (۳۳۴ تلفات ،۷۳ مړينې او ۲۶۱ ژوبلې)[259] چې په فيصدی لحاظ ۴۶ سلنه زياتوالی ښيي او په ۲۰۱۳ کال کې ښځو ته د اوښتو ټولو تلفاتو ۴۵ سلنه جوړوی. د دغو ښځو اکثريت په متقابلو ډزو کې او يا د په ړندو مرميو په ذريعه ژوبلې شوي چې د دوی کورونه يې متاثره کړي دي. د مثال په ډول ، د ډسمبر په ۶مه ، دولت ضد عناصرو د لغمان ولايت د اليشنګ په ولسوالی کې د افغان امنيتي ځواکونو يو کاروان تر بريد لاندی ونيو چې هلته يې عمليات کول. يوه مرمۍ په يوه کور ولګېده چې يوه ښځه او يو ماشوم يې و وژل او دوې ښځې او درې ماشومان يې ژوبل کړل.

## په طبي پرسونل او تاسيساتو بريدونه

په ۲۰۱۳ کال کې ، په طبي پرسونل او اسانتياوو بريدونه زيات شول. يوناما په طبي مرکزونو او طبي پرسونل باندې په دې کال کې ۳۲ پېښې مستندې کړې دي. په ۲۰۱۲ کې دغه ډول پېښې ۲۰ ته رسيدلې دي[260]. په ۲۰۱۳ کې ۵ ملکي مړينې او ۴ ژوبلې مستندې شوې[261]. په ۲۰۱۳ کال کې يوناما د ۳۲ پيښو له جملې څخه ۲۹ پيښې دولت ضد عناصرو ته منسوبې کړې دي چې ۳ تنه ملکيان پکې وژل شوي او ۴ نور ژوبل شوي (۷ ملکي تلفات).

د بشر پالنې نړيوال قانون په ښکاره ډول به جګړو کې د ښکيلو خواوو له طرفه په روغتيايي مرکزونو او پرسونل بريدونه منع کوي.د طبي پرسونل چې په مختص ډول د روغتيايي چارو لپاره موظف وی بايد احترام وشی او په ټولو شرايطو کې وساتل شي[262]. همدارنګه د تاوتريخوالي تهديدونه چې د طبي پرسونل ، ناروغانو ، داسانتياوو او د انتقالاتو په وړاندې کيږي چې د روغتيايي چارو کارونه له خنډ سره مخامخ کوي ، هم منع دی.

[257] په ۲۰۱۲ کې ، يوناما ۵۴۸ د ښځو تلفات ( ۱۹۶ مړينې او ۳۵۲ ژوبلې ) مستندی کړی دی چې د هر ډول حادثو له امله رامنځ ته شوي دي

[258] په ۲۰۱۲ کې ، يوناما ۱۴۸ د ښځو تلفات ( ۸۱ مړينې او ۶۷ ژوبلې ) مستندی کړی دی چې د ځای پر ځای شويو چاوديدنکی توکو په ذريعه رامنځ ته شوي دي

[259] په ۲۰۱۲ کې ، يوناما ۲۲۹ د ښځو تلفات ( ۵۳ مړينې او ۱۷۶ ژوبلې ) ثبتی کړی دی چې د مځکنيو نښتو له امله پيښې شوي دي

[260] په روغتيايی اسانتياوو کې روغتونونه ، کلينيکونه ، د لومړنيو مرستو مرکزونه ، لابراتوارونه ، د وينی بانکونه او طبی ذخيرې شامليږي . په روغتيايی پرسونل کې ډاکټران ، نرسان ، د لومړنيو مرستو کارمندان ، نظامي طبی کارمندان او کومکی کارمندان چې په روغتيايی چارو کې بوخت وی ، يو روغتيايی مرکز اداره کوی يا امبولانس چلوی ، شامليږي . روغتيايی پاملرنه په خطر کې ، يو تريخ حقيقت ، د نړيوال سره صليب کميټه ، کابل ، ۲۰۱۳

[261] په ۲۰۱۲ کې يوناما ۱۲ ملکی تلفات مستند کړی دی ( درې تنه روغتيايی کارمندان وژل شوي او ۹ تنه ټپيان شوي ) چې په ۲۰ جلا پيښو کې رامنځ ته شوي دي

[262] ۲۵ قاعده ، روغتيايی او مذهبی پرسونل او اجناس ، د نړيوال سره صليب کميټه ، عرفی نړيوال بشر دوستانه قانون ، ۱ جلد ، قواعد . چاپ جان ماری هينګرز ، او لويس دوسوال بيک سی پی /نړيوال سره صليب کميټه ، کمبريج ، ۲۰۰۵ (د نړيوال سره صليب څيړنه)

په اکثریت پېښو کې تهدیدونه ، بیروني او ځوروني شاملې وی چې اختطافونه او د طبي پرسونل هدفي وژنې په دویمه درجه کې راځي[٢٦٣]. د ۲۰۱۳ کال په لومړۍ نیمايي کې د دې پېښو په تعقیب ، د طبي پرسونل او اسانتیاوو په ضد ۶۲ سلنه بریدونه په شرقي سیمو کې مستند شوي دي[٢٦٤].

یوناما مشاهده کړې ده چې د تهدیدونو او د کلینیکونو له لوټ کولو څخه معلومیږي چې دولت ضد عناصرو د دې هڅې کړې چې کلینیکونه د خپلو جنګیالیو د درملنې لپاره ونیسي. د مثال په ډول ، د ۲۰۱۳ د اکتوبر په ۲۱ مه دولت ضد عناصرو دوه لارۍ و درولې چې د وردګو د ولایت د جلریز ولسوالی کلینیک ته یې دواګانې لېږدولې. دوي د لارۍ موټروان اختطاف کړ او لارۍ یې ونیوله. دولت ضد عناصرو دریور په همدې ورځ له څو ساعته وروسته خوشی کړ. دوه ورځې وروسته یوه لارۍ له دوا ګانو سره او بله لارۍ بې له دوا ګانو خوشې شوې.

په نورو حادثو کې له کلینیکونو څخه غلاوې شوې دي. د مثال په ډول ، د سپټمبر په ۲۸مه ، د لغمان ولایت د الینګار په ولسوالۍ کې دولت ضد عناصر د یوې غیر حکومتي موسسې کلینیک ته ننوتل ، کلینیک یې تلاشي کړ ، سامانونه یې لوټ کړل او د کلینیک د کارمندانو مالونه یې غلا کړل.

په ډېری قضیو کې د طبي پرسونل د اختطاف او وژنې څخه مخکې د بیرونو او تهدیدونو کمپاین شوی دی. د ښځینه نرسانو بیروني او ښځینه طبي پرسونل تهدیدونی په خاص ډول د جون په میاشت کې د جوزجان ولایت د قرقین په ولسوالی کې مستندې شوي دی. د بیروني له دی کمپاین څخه وروسته د همدې میاشتی په لومړیو ورځو کې د همدې کلینیک یوه ښځینه طبي کارمنده ووژل شوه.

د ۲۰۱۳ په ترڅ کې یوناما څو داسې راپورونه تر لاسه کړي چې پکی ادعا شوي چې افغان امنیتي ځواکونو او نړیوالو نظامي ځواکونو کلینیکونه نیولی دی او له هغو ځایونو څخه یې نظامي عملیات کړی دی. د جولای په ۲۴مه ، د ملي اردو عسکرو د ننګرهار ولایت د حصارک په ولسوالی کې د غیر حکومتي موسسې یوه کلینیک ته ننوتل او کارمندانو ته یی وویل چې کلینیک پرېږدی. ملي اردو دغه کلینیک د اګست تر ۱۸ نیټی پورې اشغال کړی و ، له هغه څخه یې دیوه موقتی مرکز په حیث استفاده کوله له کومه ځایه چې دوی د یو روان نظامي عملیاتو همغږي کوله.

دغه راز یوناما داسې راپورونه هم تر لاسه کړي چې وسله وال ځواکونه کلینکونو ته ننوتي دي ، هلته یې تلاشي کړې ده او طبي سامانونه یی تخریب کړي دي. د مثال په ډول ، د فبرورۍ په ۱۱مه افغان او نړیوال نظامي ځواکونه د وردګ ولایت د سید اباد په ولسوالی کې یوه په ښکاره نښه شوي طبي کلینیک ته ننوتل ، هغه یې د دریو ساعتونو لپاره اشغال کړ و او کمه اندازه زیان یې ورته ورساوه. د راپورونو له مخې ، د کلینیک ساتونکو د دې هڅې وکړې چې نړیوال نظامي ځواکونه کلینیک ته د ننه نه شي ، خو دی ځواکونو په تکرار سره ټینګار کاوه چې د طالبانو یو قوماندان په کلینیک کې د ننه پټ دی. دغه خبرو وروسته ناسمه وخته. کلینیک یوې دینې مدرسې ته نژدې واقع و چې دا مدرسه هم تلاشي شوه او د راپورونو له مخې څلور تنه نیول شوي وو.

### د پولیو د واکسیناسیون کمپاین

د پولیو د محوه کولو کمپاین په افغانستان کې د ۲۰۱۳ کال په ترڅ کې ښه پرمختګ وکړ ، چې په پایله کې د پولیو قضیې په زیاته اندازه را کمې شوې. په ۲۰۱۳ کې د پولیو ۱۳ قضیې ثبتې شوې چې د دغو قضیو شمیر په ۲۰۱۲ کې ۳۷ ته رسیده. په ۲۰۱۳ کال کې نا امني او نا امنو سیمو ته نه رسیدل داسې یو فکتور و چې د واکیسناسیون کمپاین یې متاثره کړی دی.[٢٦٥]

---

[٢٦٣] د ۳۲ حادثو څخه چې د یوناما له خوا مستندی شوي دی په ۸ هغو کې د طبی پرسونل تښتول شامل و چې ملکی تلفات یی نه درلودل ، خو کیدای شي چې د روغتیایی خدمتونو په رسولو ، د بشر پالنی د سازمانو نو په لاس رسی او د دی ساحې په امنیتی وضعی باندی بد اثر غورځولی وي.

[٢٦٤] په وسله واله جګړو کې د ملکی کسانو د ساتنی په باب د یوناما د ۲۰۱۳ کال د نیمایی کال راپور ، مخ ۶۷ په لاندی پته وګورئ:
http://unama.unmissions.org/LinkClick.aspx?fileticket=EZoxNuqDtps%3d&tabid=12254&language=en-US

[٢٦٥] نا امني او د لاس رسی نشتوالی هم د داسی فکتورونو په څیر یاد شوي دی چې په ۲۰۱۲ کې د واکسیناسیون مخنیوی کړی دی . په وسله واله جګړه کې د ملکی کسانو د ۲۰۱۲ کال د یوناما د نیمايي کال راپور مخ ۲۸ په دې پته وګورئ:
http://unama.unmissions.org/LinkClick.aspx?fileticket=-_vDVBQY1OA%3d&tabid=12254&language=en-US

واکسیناتورانو په جنوبي سیمو کې ماشومانو ته د لاس رسی په لار کې اسانتیاوې موندلې دي ، خو په شرقي سیمو ، کنړ او لغمان ولایتونو کې ماشومانو ته لاس رسی ستونزمن و. په کنړ او نورستان کې د هغو ماشومانو شمیر چې لاس رسی ورته مشکل و څرګندوی چې ډیر بدلونونه نه دی راغلی او نژدې ۲۰۰۰۰ ماشومان له واکسیناسیون څخه پاتې شول ، که څه هم طالبانو په ښکاره ویلي دی چې دوی د پولیو د واکسیناسیون د کمپاین ملاتړ کوي[۲۶۶] . ددې نه لاس رسی عمده لاملونو کې د دولت ضد عناصرو کوچنۍ ډلو لخوا د واکسیناتورانو کارته نه پریښودل ، محلي اختلافونه او په جګړو پوري اړونده نا امنۍ ، وو.

د روغتیا حق د بشري حقونو د نړیوال قانون او د بشر پالنې د نړیوال قانون په ذریعه خوندي دی چې ټول اتباع د روغتیا د ممکن لوړ روغتیایي معیار مستحق ګڼی[۲۶۷] چې حتی د جګړو په شرایطو کې هم اعتبار لري[۲۶۸] .

## د جګړو څخه چاودیدونکي پاتې شونې توکي

د ۲۰۱۳ کال په ترڅ کې له جګړو څخه پاتې شویو چاودیدونکو توکو[۲۶۹] په پرله پسې ډول د ملکي خلکو ژوند او د دوي د ژوندانه وسایل له خطر سره مخامخ کړي او په ډیرو سیمو کې یې افغانان ، په خاص ډول ماشومان د وژنې او عیبي کېدنې له خطر سره پرې ایښي دي. یوناما د ناچاودوتوکو ۱۶۲ داسې پیښې تصدیق کړې چې د چاودنې له امله یې ۳۴۳ ملکي تلفات (۱۱۴مړیني او ۲۲۹ ژوبلې) او ښتي دي. دغه شمیر د ملکي وګړو په تلفاتو کې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۶۳ سلنه زیات و[۲۷۰] . د ۳۴۳ ملکي تلفاتو څخه ۲۸۴ – ۸۳٪ هغه یې ماشومانو ته منسوب شوي دي.

د مځکنیو جګړو او ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو څخه وروسته له جګړو څخه پاتې شویو چاودیدونکو توکو له بل هر ډول حادثې زیات زیانونه ماشومانو ته اړولي دي. د نا چاودو توکو له ۱۶۲ پیښو څخه چې ملکي تلفات یې اړولی دي ، یوناما ۱۰ یې نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب کړې دي ، او نورې پیښې هیڅ لوری ته نه دي منسوب شوي او له پخوانیو جګړو څخه پاتې نا چاودي توکي یې درلودل[۲۷۱] .

په داسې حال کې چې یوناما له جګړو څخه د پاتې شونو ناچاودوتوکو له امله د ملکي تلفاتو په شمیر کې یو څه زیاتوالی په پخوا کې مستند کړي وه ، په ۲۰۱۳ کې ډیر زیاتوالی له هغو زیاتو تلفاتو سره یو ځای شوي چې د مځکنیو نښتو په پایله کې ملکي وګړو ته اوښتی دی[۲۷۲] او له دی سره یی خپل بیسونه او نظامي تمرین ځایونه په چټکۍ سره تړلی دی چې د دې اندېښنه یې راپیدا کړی چې له تړلو څخه مخکي تمرین ځایونه له نا چاودو توکو څخه په پوره ډول پاک شوي نه دي.[۲۷۳]

ایساف د ۱۸۴ داسې نظامي تمرین ځایونو موجودیت تصدیق کړی چې د لوړې قوې چاودیدونکي توکي لري[۲۷۴] او هغو بیسونو ته نژدې پراته دي چې په پخوا کې او یا اوس د ایساف او افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا په کارول کیږي ، ایساف

---

[۲۶۶] طالبانو د ۲۰۱۳ د می په ۱۳ یوه وینا خپره کړه ، چې په هغې کې د واکسیناسیون له کمپاین سره ملاتړ څرګند کړ ، په دی شرط چې دغه کمپاین د افغانانو له خوا ترسره شي او له اسلامی ارزښتونو سره سم وي. د طالبانو وینا( د پولیو د واکسیناسیون په باب د اسلامی امارت وینا ) ۲۰۱۳ ، می ۱۳ وګورۍ :
http://shahamat-english.com/index.php/paighamoona/31412-declaration-of-the-islamic-emirate-of-afghanistan-regarding-the-polio-vaccination, accessed 13 January 2014.

[۲۶۷] د اقتصادی ، اجتماعی او کلتوری حقونو نړیوال تړون ، ۱۲ ماده

[۲۶۸] په جګړو کې د روغتیایی پاملرنې په اړه د بشري حقونو روش ، کاترین ،اچ ای ، فوتړ او لیونارد ، اس روبنشتاین ، د سره صلیب نړیواله بیا کتنه ، مقاله ، مخ ۱-۲۱ ، په انټرنیټ کې نشر شوې ، اګست ۱۹ ، ۲۰۱۳.

[۲۶۹] له جګړو څخه چاودیدونکي پاتی شونی: له جګړو څخه پاتی شونی چاودیدونکي توکي ناچاودی توکي او پریښودل شوي چاودیدونکي توکي دي

[۲۷۰] یوناما په ۲۰۱۲ کې ، ۲۱۱ ملکی تلفات ( ۷۴ مړینې او ۱۳۷ ژوبلې ) په ۸۳ حادثو کې مستند کړی دی


[۲۷۱] د هغو ملکی تلفاتو شمیر چې د نړیوال نظامي ځواکونو په ذریعه له جګړو څخه د پریښودل شویو ناچاودو توکو له امله رامنځ ته شوي ښایی لوړ وي . یوناما د دې مسوولیت ایساف ته نه دی منسوب کړی ، مګر که ایساف هغه تایید کړی وی او یا نورو صلاحیت لرونکو منابعو لکه د افغانستان د ماین پاکی مرکز او افغانی ملي امنیتی ځواکونو هغه تایید کړی وي . یوناما ښایی د هغو ملکی تلفاتو ټول شمیر نه وی ښودلی چې د نا چاودو توکو له امله رامنځ ته شوي وي

[۲۷۲] د مځکنیو نښتو په پایله کې دملکی تلفاتو په شمیر کې زیاتوالی د دی څرګندونه کوی چې د استوګنې په ځایونو کې نښتی ډیری شوي ، چې ښایی له جګړو څخه نا چاودی چاودیدونکي توکي هلته پاته شي ، کله چې په غیر مستقیم ډول یا هوایی فیرونه کیږي ، د مثال په ډول: له هوا څخه غورځول شوي وسلی ، ګولۍ ، راکټونه ، چاودیدونکي ګولۍ او بمونه

[۲۷۳] د نا چاودو توکو د اصلیت معلومول ګران کار دی ، خاصتا په هغه وخت کې چې توکي وچاودل شي . له دی امله ، د نا چاودو توکو په ذریعه د ملکی تلفاتو تحلیل چې د یوناما له خوا تر سره کیږي ، هغه چاپیریال ته بیا کتنه کوي چیري چې پیښه رامنځ ته شوي وی ، لکه دا چې ناچاودی توکي د ایساف په پخواني بیس کې وچاودل شي ، خو د نا چاودو توکو مسوولیت د وسلی د نوعیت تایید څخه پرته نه منسوبوي

[۲۷۴] ایساف و نه شو کولای چې په تفصیل سره څرګند کړی چې د ۱۸۴ عملی تمرین ځایونو څخه چې چاودیدونکي توکي لري ، کوم یی د ایساف او/ یا د افغان ملي امنیتی ځواکونو له خوا کارول کیږي او کوم ځینی یی خالی دي

له ۷۵۰ څخه زيات بيسونه يا تړلی او يا يې ليږدولي دی ، چې په دې کې نږدې ۱۰۰ هغه يې په تيرو شپږو مياشتو کې تړل شوي دي. له پنځوسو څخه کم بيسونه پرانستي پاتې دي[٢٧٥]. د بيسونو له تړلو څخه وروسته ، د اتو ځايونو څخه پرته ، په نورو ټولو کې نظامي تمرين ځايونه له چاودېدونکو توکو څخه پاک نه شول ،[٢٧٦] ځکه ايساف او افغان ملي امنيتي ځواکونه دا پريکړه کوې چې د ۱۸۴ تمرين ځايونو څخه به کوم ځينې د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا وکارول شي[٢٧٧].




په ۲۰۱۳ کال ک د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د يوناما د نيمايی کال راپور څرګندوی چې ايساف د پاليسي داسي يو چوکاټ (او په عمل کې) نه لری چې له مخې يې په بيسونو او تمرين ځايونو کې له تړلو څخه د مخه چاودېدونکي توکي پاک کړي. راپور په ايساف کې دننه د يوه مرکزي سيستم نشتوالی ته اشاره کوي چې له مخې يې په دقيق ډول مستنده کړی چې کوم بيسونه او تمرين ځايونه که چيرې وی له چاودېدونکو توکو څخه پاک شوي دی او کوم تخنيکی معيارونه په کارول کيږي چې په ځمکه برسيره يا د ځمکې لاندې ځايونه له تړلو څخه مخکې يا له هغه وروسته پاک کړي.

راپور هغه خطر ته اشاره کړی ده چې چاودېدونکي پاتې شوني يې د ملکي وګړو لپاره لري ، که چيرې دغه ځايونه په نښه او له تړلو څخه د مخه پاک نه شي. د يوناما راپور همدارنګه په دی هم اندېښنه ښودلې چې هوايی عمليات او مځکنۍ نښت هم چاودېدونکي يا نا چاودي توکي په ځای پريږدي ، د ۲۰۱۳ کال د جولای له نيمايي راهيسې ، ايساف مشخص کامونه پورته کړی چې دغه مسلې هوارې کړي. که څه هم په راتلونکي کې د بيسونو د تړلو او د خطرناکه ساحو د تشخيص په اړه د پاليسيو په برخه کې د پام وړ پر مختګ شوي دی ، اوس هم لا ډيرې هڅې بايد وشي څو هغه نا چاودي توکي له تمرين ځايونو څخه پاک کړي چې پخوا تړل شوي دي.

### د پاليسي چوکاټ: نوی معياري عملياتي کړنلاره د دې غوښتنه کوي چې له تړل شويو تمرين ځايونو څخه له جګړو څخه پاتې شوي نا چاودي توکي په نښه او پاک شي

د ډسمبر په ۷مه ، ايساف د خپلو تمرين ځايونو او نښتو د ساحو د پاک کولو او عملياتو په اړه معياري عملياتي کړنلاره خپره کړه. دغه کړنلاره هغو ملګونو ته چې عسکر يې د ايساف په ليکو کې مرسته کوي ، د انتخاب لپاره امکانات ورکوي ، که چيرې دوی و غواړي چې هغه تمرين ځايونه پاک کړی کوم چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا په کارول کيږي. دغې

[٢٧٥] د جنرال دنفورډ وينا ، دايساف قوماندان ، مطبوعاتي کنفرانس ، کابل جنوری ۹ ، ۲۰۱۴
[٢٧٦] ايساف تاييد کړی ده چې اوس مهال ۸ تمرين ځايونه د پاک کولو په حال کې دی . د ايساف د معلوماتو پاڼه چې يوناما ته رسيدلی ده ، جنوری ۱۷ ، ۲۰۱۳
[٢٧٧] د ايساف د معلوماتو پاڼه چې يوناما ته رسيدلې ده ، جنوری ۱۷ ، ۲۰۱۳

کړنلارې له ملکونو څخه نه دی غوښتلي چې له تړل شویو انتقال شویو او یا هغو تمرین ځایونو څخه چې اوس هم په کارول کیږي ، له جګړو څخه پاتې شوني او نا چاودي توکي پاک کړي.

معیاري عملي کړنلاره هغو ملکونو ته چې غواړي پاک کاري وکړي لارښوونه کوي چې پاک کاري د افغانستان د ماینونو د پاک کولو له معیارونو سره سم تر سره کړي او د ماینونو د پاک کولو د مرکز له خپل قصد څخه چې د تمرین ځایونو پاک کول دي ، خبر کړي څو هغه دغه معلومات د افغانستان د ماینونو د پاک کولو مرکز ته واستوي[۲۷۸] . که څه هم معیاری عملي کړنلاره له جګړو څخه د پاتې شویو چاودیدونکو توکو پاک کول په راتلونکي کې د تمرین ځایونو او بیسونو د بندولو لپاره تقویه کوي ، خو کړنلاره دغه ملکونه په دې پابند نه شمیري چې د تړل شویو یا لېږدول شویو تمرین ځایونو څخه چاودیدونکي توکي پاک کړي. لکه څنګه چې و ویل شول د ایساف اکثریت بیسونه او تمرین ځایونه یا تړل شوي یا لېږدول شوي دي. په دې اړه ډیري اندېښني شته. هغه ساحې چې هلته د ډیرو چاودیدونکو توکو تمرین ځایونه موجود وه ، په نښه شوي یا پاک شوي نه دي او په دې ځایونو کې د ملکي کسانو د تلفاتو لپاره د جګړو څخه د پاتې شویو چاودیدونکي توکو له امله ، لا اوس هم لوی خطر شته.

## په تمرین ځایونو کې له جګړې څخه چاودیدونکي پاتې شوني: د ۱۸۴ داسې ساحو پیژندنه چې د زورورو چاودیدنکو توکو تمرین ځایونه لري

ایساف ۱۸۴ داسي ساحې په ګوته کړي دي چې هلته په شته تمرین ځایونو کې ډیر زورور چاودیدونکو توکي موجود وو. ایساف و نه شو کولای یوناما ته و وایی چې د دغو ۱۸۴ تمرین ځایونو څخه اوس هم ایساف یا افغان امنیتي ځواکونه استفاده کوي او څومره یې تړل شوي دي. همدارنګه له ۸ تمرین ځایونو او بیسونو څخه پرته چې په ۲۰۱۳ کې تړل شوي دي ، د ایساف د ماین پاکي په مرکز کې داسي شواهد نشته چې له تړلو څخه مخکې تمرین ځایونه د جګړو له پاتې شونو څخه دی پاک شوي وي[۲۷۹] .

د ۲۰۱۴ د جنوري په ۶مه ، د ایساف قوماندان یوه کاري ګروپ ته امر وکړ څو معلومه کړي چې ایساف کومو تمرین ځایونو ته د خپلو عملیاتو لپاره اړتیا لري او څومره ځایونه باید افغان امنیتي ځواکونو ته او چیري ولېږدول شي. دغه راپور باید د ۲۰۱۳ د فبروري تر نیمایی پوري بشپړ شي[۲۸۰] . څرنګه چې د تمرین ځایونه او بیسونه اکثریت یا تړل شوي او یا افغان ځواکونو ته لېږدول شوي دی ، له دې امله د جګړو څخه د پاتې شونو د پاک کولو په اړه د اندازې وړ پایلی پوره نه دي څرګندې. له هغه وروسته چې افغان ځواکونو ته د لېږدیدونکو ځایونو له تعیینولو وروسته که څه هم دغه ځواکونه په اوس مهال کې یوازې له څو ځایونو څخه استفاده کوي ، داسې بریښي چې ایساف د دې پلان نه لري چې له تړل شویو تمرین ځایونو څخه له جګړو څخه پاتې شوني چې د چاودیدلو لوړ ظرفیت لري ، پاک کړي[۲۸۱] .

د ډیری اندېښنې خبره دا ده چې د ایساف موقف د تمرین ځایونو څخه د چاودیدونکو توکو د پاکولو په اړه یو شرط نه دی ، بلکه په ایساف کې شامل ملکونه اختیار لري چې د پاک کولو پریکړه کوي او که نه. آیساف ویلي دي: (د عسکرو کومک کوونکي ملکونه او ایساف ددې قانوني مکلفیت نه لري چې له جګړو پاتې شوني پاک کړي) ځکه افغانستان پینځم پروتوکول نه دی لاسلیک کړی[۲۸۲] . دغه راز ایساف دا هم ویلي دي چې (ایساف د دې صلاحیت نه لري چې عسکر یې کومک کوونکو ملکونو ته د تمرین ځایونو په نښه کولو یا پاک کولو امر وکړي. پاکول او په نښه کول یوه ملي مسله ده)[۲۸۳] .

---

[۲۷۸] د ایساف د معلوماتو پاڼه چې یوناما ته رسیدلی ده ، جنوری ۱۷ ، ۲۰۱۴.

[۲۷۹] د ۲۰۱۴ د جنوری په ۲۴ ، د یوناما او ایساف په یوه غونډه کې ، امریکایی نظامي انجینرانو تایید کړه چې ۸ ځایونه لکه په ترینکوټ ، فراه ، سالیرنو ، هادریان او حیرتان کې اوس د پاک کولو په حال کې دی خو په دی باب یی معلومات ور نه کړل چې تمرین ځایونه کله تړل شوي او که نه دی او یا افغانی قواوو ته لېږدول شوي او که څنګه.

[۲۸۰] مخکینی ماخذ.

[۲۸۱] له ایساف سره د یوناما غونډه ، جنوری ۲۴ ، ۲۰۱۴ ، د ایساف مرکزي دفتر ، کابل.

[۲۸۲] د راپور قانونی برخه وګورئ.

[۲۸۳] ۲۸ فقره ، ناتو / د ایساف غیری محرمی تبصری چې یوناما ته رسیدلی دی ، جنوری ۳۱ ، ۲۰۱۴.

## د تجهیزاتو او وسلو له انبارونو څخه د جګړې پاتې شوني:[۲۸۴] د ملکي کسانو د تلفاتو د مخنیوی لپاره نوې پالیسي

په اوس مهال کې، په افغانستان کې ۳۲ د تجهیزاتو او وسلو د ساتلو ځایونه فعال ساتل شوي[۲۸۵]. د اګست په ۱۸، د بشرپالنې یوه ماین پاک کوونکی سازمان یوه زیاته اندازه وسلتون وموند، چې په هغو کې نا چاودې توکي هم شامل وو چې د بلخ ولایت د ده دادي په ولسوالۍ کې د وسلو د ویجاړولو له مرکز څخه تر سلو مترو په هر لورې خواره شوي وو. یوناما داسې راپورونه نه دی تایید کړی چې د دې نا چاودو توکو د چاودیدنې په ذریعه ملکي تلفات اوښتي وي.

یوناما او د افغانستان د ماین پاکي مرکز له ایساف سره یو تفصیلی راپور شریک کړی چې په هغه کې پلټنې شوې او تایید شوي او په دې اړه د پالیسي عملي ګامونه اوچت شوي دي. د سپتمبر په ۲۰مه، د ایساف قوماندان یو نیمګړی امر صادر کړ چې فرعي مرکزي ادارې د ټولو وسلتونو د ساحو او په هر وسلتون کې د ځای په ځای شویو وسلو د اندازې راپور ورکړي او د تخریب له هر عمل څخه وروسته هر وسلتون معاینه کړي[۲۸۶].

## له مځکنیو نښتو څخه د جګړو پاتې شوني : د معلوماتو د شریکولو او همغږۍ په برخه کې پرمختګ

د ۲۰۱۳ د نیمایی کال راپور چې د یوناما له خوا د ملکي کسانو د ساتنې په اړه خپور شو هم د دې اندېښنه څرګندوي چې د ایساف، افغان امنیتي ځواکونو، او حکومت له خوا د افغانستان د ماین پاکۍ له مرکز سره په دی اړه همغږي نشته چې د پاک کولو او مستند کولو پالیسي ترتیب کړي او هغه عملي کړی چې د جنګ له میدانونو څخه، د مثال په ډول، د ایساف له مځکنیو عملیاتو څخه د جګړو څخه پاتې شوي نا چاودي توکي ایسته کړي. یوناما او د افغانستان د ماین پاکۍ مرکز د ایساف په ذریعه داسې عملی اقدام نه دی لیدلی چې له جګړو څخه د پاتې شونو د همغږۍ لپاره مسولو چارواکو ته د احتمالی نا چاودو توکو په اړه خبر ورکړل شوي وي څو یقینی کړي چې د خطر لاندی شکمنې ساحې په نښه شي او خلکو ته د هغو خطرونو په اړه خبرداری ورکړل شي[۲۸۷].

یوناما د ایساف له خوا اخیستل شوي ګامونه تقدیروي چې د پخوانیو هوایی او مځکنیو عملیاتو هغه ځایونه په نښه کړي چې ښایی په زیاته پیمانه نا چاودي توکي پکې پاتې وي. د جنوري تر ۲۴مه، ایساف په ایساف پورې تړلی د ۲۳۱ داسې ساحو د رسمي امنیتي ځایونو نومونه ښودلي دي چې د افغانستان د ماین پاکۍ په اړه د معلوماتو د منجمنټ د سیستم لپاره مسوول دي. دغه مرکز په افغانستان کې د جنګ د معلوماتو او د چاودیدونکو توکو د ډیټابیس د ساتلو وظیفه لري[۲۸۸].

## نور ګامونه: د عسکرو کومک کونکي ملکونه باید د پاک کارۍ لپاره پانګې تخصیص کړي

د ۲۰۱۳ له نیمایی راهیسې ایساف، د افغانستان دماین پاکۍ د چارو همغږۍ مرکز، یوناما او UNMAS په منظمه توګه "له جګړو څخه د نا چاودو توکو" په اړه کار شروع کړی دی، ایساف د پالیسیو او طرزالعملونو په تعیینولو کې څه پرمختګ کړی دی چې ناچاودي توکي، چې د دوی له عملیاتو او تمرین ځایونو د تړلو څخه وروسته راپیدا کیږي، کم کړي. ایساف ۱۸۴ داسې ساحې په ګوته کړې دي چې ډیر تمرین ځایونه لري چیرې چې د لوړ قوت چاودیدونکي توکي موجود وو. د دغو تمرین ځایونو څخه ډیریي بې نښې او خالي پریښودل شوي چې په راتلونکی کې د افغانانو لپاره ډیر خطرونه لري. په همدې

[۲۸۴] ایساف او افغان ملي امنیتی ځواکونه هغه مرمۍ او مهمات تخریبوی چې د دولت ضد عناصرو څخه یی لاس ته راوړي. په دغو ساتنځایونو کې چاودیدونکي توکي ذخیره شوي دی، ایساف او افغان ملي امنیتی ځواکونه هغه وسلی او ذخیری په خپلو تخریب ځایونو کې له منځه وړی چې د دولت ضد عناصرو څخه یی ضبطی کړې وی. دغه ځایونه په هغو تمرین ځایونو کې واقع دی چې چاودیدونکي توکي لري. وسلو ځواکونو په ۲۰۱۳ کې ۳۲۱۱۳۰ عدد مرمۍ او نوری وسلی ویجاړی کړی دی لکه : د دولت ضد عناصرو له خوا له جګړو څخه پریښودل شوي ناچاودی توکي، د فشار په ذریعه چاودیدنکی توکي، د پریښودل شویو ناچاودو توکو اجزاوی، د پریښودل شویو نا چاودو توکو جوړونکی مواد، پیژندل شوي او ناپیژندل شوي مرمۍ او نور مهمات په مختلفو اندازو کې، د پرسونل ضد مهمات، د چاودنی پیلونکی آلی، بمونه، د بمونو راکټونه، د چاودنی سرګولولی، ماینونه، ار پی جي راکټونه، د پی کې ایم وسلی (کلاشنیکوف، جی ۳ ټوپکان)، نظامي ماینونه، د وسلو تفکیک شوې ججورې، د کنترول د ویرونو پاکټونه، مختلف لوازم. منبع : د جګړو څخه د پاتی شویو چاودیدنکو توکو په باب د ایساف خبر پاڼه، چې یوناما ته یی له قیده رسیدلی، جنوری ۱۰ ۲۰۱۴.

[۲۸۵] له جګړو څخه د پاتی شونو په باب د ایساف خبر پاڼه، ۱۰ جنوری ۲۰۱۴.

[۲۸۶] له جګړو څخه د پاتی شونو په اړه د ایساف خبر پاڼه، جنوری ۱۷، ۲۰۱۴.

[۲۸۷] د طرزا لعمل له مخی ساحوی یونټونه باید د ناچاودو توکو د شتون په باب باید آی جی سی ته خبر ورکړی، مګر په عمل کې دغه کار همیشه نه تکرارېږی. د یوناما، ماکا، او ایساف غونډې، د ایساف مرکزي دفتر، جولای ۲۴، ۲۰۱۳، کابل.

[۲۸۸] له ایساف سره د یوناما غونډه، جنوری ۲۳، ۲۰۱۴، د ایساف مرکزی دفتر، کابل او د نا چاودو توکو په باب د ایساف خبر پاڼه، چې یوناما ته یی له قیده رسیدلی، جنوری ۱۰، ۲۰۱۴.

ډول ، د ایساف د ۲۳۱ ساحو له ډلې څخه چې دوی پکې فعالیت درلود ، یوه یې هم د داسې ساحې په څیر نه ده نښاني شوې چې خطرناک نا چاودې توکي دې ولري. سره د هغو خطرونو چې له داسې خطرناکو ځایونو څخه راولاړیږي ، او ناچاودي توکي په ۲۰۱۳ کې په ملکي تلفاتو کې ۶۳ ٪ د زیاتوالی سبب شوي دي ، خو بیا هم ایساف او د عسکرو ورکوونکو ملکونه داسې پلانونه نلري چې هغه ساحې پاکې کړي کومې چې ملکي افغانانو ته تلفات اړولی شي.

یوناما سپارښتنه کوي چې عسکر ورکوونکي ملکونه په سملاسي ډول د مالي پانګو داسې میکانیزمونه معرفي کړي چې وکارول شي او د لویې پیمانې د پاک کارۍ د تمویل لپاره پانګې تخصیص کړي. یو امکان د ادې چې د ماین پاکۍ لپاره له موجوده داوطلب اماني پانګې څخه ګټه واخستل شي چې اوس په نیویارک کې د UNMAS له خوا د ماین پاکۍ لپاره اداره کیږي. دغه پانګه په ۱۹۹۴ کې د غړو هیوادونو له خوا تاسیس شوه چې په نړۍ کې د ماین پاکي د بشر دوستانه فعالیتونو د تمویل لپاره په نظر کې وه. دغه میکانیزم د ایساف د جګړو څخه د پاتې شونو لپاره هم کارول کیدای شي. بل بدیل یې دا هم کیدای شي چې په افغانستان کې یوه نوې پانګه ایجاد شي او یا د عسکرو ورکوونکي ملکونه په مستقیم ډول د ماین پاکونو سازمانونو سره قراردادونه وکړي.

د جنګ له پاتې شویو چاودیدنکو توکو له امله د ملکي تلفاتو نمونې :

- د جولای په ۲۸مه ، د فراه ولایت د فراه په ښار کې ناچاودي توکي وچول شول او درې تنه ماشومان یې و وژل او څلور نور یې ټپیان کړل. ماشومانو له تمرین ځایونو څخه په فراه کې ناچاودي توکي راټول کړل او د دې قصد یې درلود چې دغه توکي په ځایي سوداګرو وپلوري.
- د اکتوبر په ۲۲ د فراه ولایت د فراه په ښار کې یو نا چاودی توکی وچاودید چې یوه ۱۲ کلنه نجلۍ یې ووژله. نجلۍ د فراه ولایت له تمرین ځای څخه یو ناچاودي توکي لیري کړ. د راپورونو له مخې نجلۍ هغه وخت و وژل شوه چې هڅه یې کوله ناچاودلی پوښ لیری کړي ، ښایی ددې لپاره چې د اوسپنې برخه یې د خرڅلاو لپاره وساتي.
- د نومبر په ۱۸مه ، د پکتیکا ولایت د خیر کوټ په ولسوالۍ کې یو ناچاودي توکی وچاودید چې شپږ تنه ماشومان یې و وژل او یو بل یې ژوبل کړ. هلکانو له مکتب څخه کور ته په لار کې د ملي پولیسو د یوې پریښودل شوي پوستې څخه کابو ۳۰۰ متره لیری یو ناچاودي توکي چې کیداشي راکیټ وي ، وموند-. منابعو نه شوای کولای تشخیص کړي چې یاد توکي د تلاشی له پوستې څخه پاتې شوي و او که د طالبانو له خوا ویشتل شوي و. د راپورونو له مخې ملي پولیسو د تلاشۍ دغه پوسته څکه پرې ایښی وه چې د استوګنې ځایونو ته ډیره نژدې وه او د خلکو لپاره خطر ګڼل کیده.
- د ډسمبر په ۲۹مه ، د غزني ولایت د غزنی په مرکز کې په یوه کور کې دننه یو لاسی بم و چاودید چې څلور تنه ملکي کسان یې و وژل ، چې یوه ښځه او ماشومه نجلۍ پکې شامله وه او دوه ځوان هلکان ژوبل شول. د راپورونو له مخې ماشومانو له لاسی بم سره لوبې کولې.

### د سرحد د بلې خوا څخه ګولۍ ورول

یوناما په ۲۰۱۳ کې د ملکي تلفاتو ۹ وژنې او ۲۸ ژوبلې[۲۸۹] (۳۷ ملکي تلفات) د ننګرهار او کنړ په ولایتونو کې مستندې کړي. دغه ټول تلفات په ۲۴ پیښو[۲۹۰] کې رامنځ ته شوي. په دغو پیښو کې چې د پولې له بلې خوا څخه پکی ګولۍ وریدلې د ۲۰۱۲ کال په پرتله په ملکي تلفاتو کې ۵۱ سلنه کموالی څرګندوي[۲۹۱].

یوناما د سرحد په اوږدو کې د ګولیو د اورولو پیښې او حادثې مستندې کړې چې ملکي کسانو او/ یا ملکیتونو ته یې زیان اړولی. دغه راز داسې پیښیې هم ثبتې شوې دي چې ملکي تلفات یې نه درلودل او د افغان چارواکو او ملي امنیتي ځواکونو له

---

[۲۸۹] یوناما هغه ملکی تلفات چې د سرحد په اوږد کې له فیرونو څخه را منځ ته کیږي له هغو ارقامو سره یو ځای کوی چې له مځکنیو نښتو څخه را پیدا کیږي

[۲۹۰] یوناما ۱۳۰ داسی حادثې ثبتې کړې دی چې له سرحد څخه له بلی خوا د افغانستان په خاوره اورول شوي ، د دغو حادثو په پایله کې ۲۴ ملکی تلفات پیښ شوي دی

[۲۹۱] په ۲۰۱۲ کې یوناما ۷۵ ملکی تلفات مستند کړی (۱۲ مړینې او ۶۳ ژوبلې) چې د سرحد په اوږدو کې په ۴۸ پیښو کې را منځ ته شوي ، او په کنړ ، ننګرهار ولایتونو کې وی.

خوا رامنځ ته شوي[۲۹۲]. ټولی حادثې چې ملکي تلفات یې درلودل د کنړ ولایت د دانګام سرکانو، مروري، خاص کنړ، شیګل او شلتن په ولسوالیو کې رامنځ ته شوي، چې اکثریت یې د دانګام په ولسوالی کې وی. پینځه نورې پېښې د نورستان ولایت د کامدیش ولسوالۍ او د ننګرهار ولایت د لعل پورې په ولسوالیو کې رامنځ ته شوي. یوناما د سرحد په اوردو کې له نورو ولسوالیو څخه د دې ډول پیښو راپورونه نه دی تر لاسه کړي.

په ملکي تلفاتو سربېره، یوناما د سرحد په اوردو کې د دې ډول پیښو داسې راپورونه هم تر لاسه کړي چې کورونو، جوماتونو او ځارویو ته پکې زیانونه رسیدلي دي. د مثال په ډول، د ۲۰۱۳ د نومبر په ۲۸مه، د کنړ ولایت د دانګام په ولسوالی کې د درنو توپونو ۱۵ ګولۍ ولګیدلې. په یوه داسې پیښه کې د غوزان مسجد ولګېد او سخت زیان یې ور واړاوه. د سرحد په اوردو کې بریدونه په پرله پسی ډول د محلي خلکو دغوسي سبب ګرځیدلي. د کنړ ولایت اوسیدونکو دا مسله له یوناما سره په غونډو کې څو وارې یاده کړې ده. په ۲۰۱۳ کې یوناما لږ تر لږه ۱۹ مظاهرې د سرحد په اوردو کې د نښتو په ضد ثبتې کړی چې د هغو له جملې نه ۱۳ یې یوائې د کنړ په ولایت کې وې.

د سرحد په اوردو کې د بریدونو مثالونه چې ملکي تلفات یې درلودل:

- د سپټمبر په ۲۳مه، نژدې ۶۰ د درنو ګولیو وارونه د افغانستان له سرحد څخه د کنړ ولایت د سرکانو په ولسوالۍ و شول. یو برید په یوه کور وشوه چې یوه ۱۴ کلنه نجلۍ یې و وژله او دوه تنه ملکي کسان یې ټپیان کړل.
- همدارنګه د سپټمبر په ۲۵مه، د کنړ ولایت د سرکانو په ولسوالی له سرحد څخه نږدې ۲۵ د درنو توپونو ګولۍ ولګېدلې. په دی لړ کې یو ملکي کور ولګېد، یو کس یې و واژه او دوه نور یې ټپیان کړل[۲۹۳].

## د جګړو له امله د ملکی کسانو بې ځایه کیدل

*موږ مجبور شوو چې کورونه پرېږدو. شورشیانو موږ ته اجازه را نه کړه چې د کور ضروری سامان له ځان سره واخلو-- نه کمپلی، نه د پخولو سامان، هیڅ شي چې موږ ور ته ضرورت درلود. ما او زما دوو ماشومانو کلی پرېښود. موږ لس کیلو متره پیاده ولاړو چې لویی لاری ته ورسیدلو. زما د وړو ماشومانو لپاره ډیره ګرانه وه چې لس کیلو متره پیاده مزل وکړي.*[۲۹٤]

-- یوه ښځه چې د جرم په ولسوالۍ، بدخشان کې داخلي بې ځایه شوې وه، چې میړه یې په افغان ملي امنیتي ځواکونو کې کار کوي او د دولت ضد عناصرو د تهدید له امله د کور پرېښودلو ته مجبوره شوې وه.

په ۲۰۱۳ کال کې نا امني او له جګړو سره تړلی تاوتریخوالي زیات شمیر خلک په افغانستان کې بې ځایه کړي دي. د داخلي بې ځایه شویو کسانو کاری قوې په ۲۰۱۳ کال کې د وسله واله جګړو له امله په افغانستان کې ۱۲۴۳۵۴ تنه داخلي بي ځایه شوي کسان ثبت کړي دي[۲۹٥]. دغه شمیر د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالی څرګندوي (دجګړو څخه ۱۰۲۰۰۰داخلي بې ځایه شوي کسان). د ۲۰۱۳ کال د دسمبر له ۳۱ مه راهیسی، د داخلي بې ځایه شویو کسانو ټول شمیر په افغانستان کې ۶۳۱۲۸۶ کسانو ته رسیدلی و چې له نیمایي څخه زیات یې په تیرو دریو کلونو کې بې ځایه شوي دي[۲۹٦].

په افغانستان کې د جګړو بدلیدونکی ماهیت په مستقیم ډول د داخلي بې ځایه کیدنې په ډول باندې اغیزه لري. د دولت ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ زیاتې مځکنۍ جګړې د دې لامل ګرځیدلې دي چې په ناڅاپي ډول په زرهاوو کسان په

---

[۲۹۲] یوناما د سرحد په اوردو کې د نښتو حادثې په دی ډول څارې چې هره حادثه د مختلفو سرچینو څخه تاییدیږي، لکه قربانیان، شاهدان، قومی مشران، ډاکټران، ملي پولیس، ملي سرحدی پولیس، د ملي امنیت اداره او نور چارواکی.

[۲۹۳] په دوارو حادثو کې تلفات د سرحد په اوردو کې د ازادو قبایلو د مومند ایجنسۍ په سیمه کې رامنځ ته شوي.

[۲۹٤] له ښځې سره د یوناما مرکه ډسمبر ۶، ۲۰۱۳ خوشتک وادی، د جرم ولسوالی، د بدخشان ولایت.

[۲۹٥] د داخلی بی ځایه شویو کسانو لپاره کاري قوه د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمیشنری دفتر ( یو این ایچ سی ار ) او د افغانستان د مهاجرینو او راستندونکو د وزارت له خوا په ګډه رهبری کیږي. دغه هغه میکانیزمونه تیاروی چې داخلي بی ځایه شوي کسان په ګوته کوی او مرستی ورسره کوي. د یو این ایچ سی ار خبر پاڼه وګورۍ: د جګړو له امله داخلي بی ځایه کېدنه، میاشتنۍ معلومات، ډسمبر ۲۰۱۳، یوناما ته د ۲۰۱۴ کال د جنوری په ۱۴ رسیدلی دي.

[۲۹٦] د یو این ایچ سی ار خبر پاڼه، د جګړو له امله د داخلی بی ځایه کیدنې جریانونه — ۲۰۱۳.

خاص ډول له کليو څخه ښارونو ته وخوځوي. د داخلي بې ځايه شويو اکثريت کسان په خپلو ولسواليو کې او يا د خپل ولايت په ګاونډيو ولسواليو کې خوندي ځايونو ته کډه شوي دي[۲۹۷]. په ۲۰۱۳ کال کې ډيری بې ځايه شويو کسانو د کډوالۍ لاملونه جګړې او دښمنۍ ، د امنيتی وضعي خرابوالی ، او د دولت ضد عناصرو له خوا تهديدونه ښودلي دي.

يو اين ايچ سی آر په ۲۰۱۳ کې په جغرافيايی لحاظ په جنوبي سيمو کې د داخلي بې ځايه شويو ملکيانو لوړه اندازه څرګندوي[۲۹۸]. د مثال په ډول ، د ۲۰۱۳ په مۍ کې د هلمند ولايت په شمال کې ۲۷۰۰۰ کسان د نظامي عملياتو له امله بې ځايه شوي دي. د دغو او دې ته ورته پيښو په پايله کې په ۲۰۱۳ کال کې د ثبت شويو داخلي بې ځايه شويو کسانو نيمايی د هلمند په ولايت کې وو[۲۹۹]. په تيرو دريو کلونو کې ، د جنوبي سيمو زيات شمير خلک بې ځايه شوي دي او اوس مهال په افغانستان کې د داخلي بې ځايه شويو کسانو زيات شمير جوړوي[۳۰۰].

په شرقي ، لويديځو او شمالی سيمو کې د داخلی بې ځايه شويو کسانو شمير په پرله پسې ډول زيات شوی دی. په شرقي برخه کې ،داخلي بې ځايه شوي کسان په دوامداره ډول د کنړ او ننګرهار په ولايتونو کې پاتې شوي. په شرقي سيمو کې داخلي بې ځايه شويو کسانو ، د دولت ضد عناصرو له خوا تهديدونه او بيروني په داخل کې د بې ځايه کېدنې اصلی لاملونه ښودلي دي[۳۰۱]. د شرقي سيمو داخلي بې ځايه شويو کسانو دا ښه وګڼله چې د غټو ډلو په ځای چې د وسله والو جګړو سره په معمولی ډول تړلی وی (د مثال په ډول چې بيلګه يې د هلمند په ولايت کې ليدل شوې) په کوچنيو ډلو کې وخوځيږی (. په شمالی سيمو کې ، فارياب ولايت تر ټولو زيات داخلی بې ځايه شوي کسان لري ،[۳۰۲] او له د سره په دی ولايت کې د مځکنيو جګړو له امله په ملکي تلفاتو کې ۴۷ سلنه زياتوالی راغلی[۳۰۳].

په ۲۰۱۳ کال کې په دويم ځل او د راستانه شويو مهاجرينو په بې ځايه کيدنه کې موجوده ميلان څرګند شوي دی. د لوی شمير تکراري دويمې بې ځايه کېدنې يوه بيلګه د هلمند په ولايت کې د ۲۰۱۳ کال د مۍ او اکتوبر تر منځ هغه مهال پيښه شوه چې ډير شمير کورنۍ چې د سنګين ولسوالۍ ته د مځکنيو جګړو له امله بې ځايه شوې وې ، خو د دې په تعقيب دغه کورنی د نويو جګړو له امله د دويم ځل لپاره لشکر ګاه ته بې ځايه شولې. ځينو داخلی بې ځايه شويو کسانو د دې هڅه وکړه چې خپلو اصلي ځايونو ته وګرزي ، خو د جګړو او نا امنۍ له امله يې ونه شو کولای چې هلته بيرته مېشت شي او په دې ډول دوباره بې ځايه شول.

---

[۲۹۷] د يو اين ايچ سی ار خبر پاڼه ، د جګړو له امله د داخلی بی ځايه کيدنې جريانونه –۲۰۱۳.

[۲۹۸] د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ په پرتله د داخلی بی ځايه شويو کسانو اکثريت په لويديځو برخو کې ليدل کيږي.

[۲۹۹] يو اين ايچ سی ار په ۲۰۱۳ کې په هلمند ولايت کې ۵۲۰۰۰ داخلی بی ځايه شوي کسان ثبت کړی دی.

[۳۰۰] د داخلی بی ځايه شويو کسانو ٪۲۹ په جنوبی ، ٪۲۶ په لويديځو ، ٪۲۰ په ختيځو ، ٪ ۱۳شمالی ، ٪ ۱۰په مرکزی برخو او ٪۲ په جنوب شرقی برخو کې دی.

[۳۰۱] په شرقی برخو کې ، د داخلی بی ځايه شويو کسانو په شمير کې ۳۲۳۰۰ راستنيدونکی شامل دی چې د ناامني او نورو انديښنو له امله يی ونه شو کولای چې په خپلو اصلی ځايونو کې بيرته مېشته شي.

[۳۰۲] د يو اين ايچ سی ار خبرپاڼه ؛ د جګړو له امله د داخلی بی ځايه کېدنې جريانونه ۲۰۱۳.

[۳۰۳] يوناما په ۲۰۱۳ کې ۱۵۲ ملکی تلفات ( ۵۰ مړينې او ۱۰۲ ژوبلې ) په فارياب کې د مځکنيو نښتو له امله ثبت کړی دی چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۴۸ سلنه (۳۳ مړينې ، ۷۰ ژوبلې –۱۰۳تلفات ) زياتوالی څرګندوي.

## لومړی ضمیمه: د طالبانو د میاشتني (جنګي جرمونه) تر عنوان لاندی دبیانیو په هکله د یوناما تحلیل:

په ۲۰۱۳ کی طالبانو په خپلو میاشتنیو بیانیو کې د "جنګي جرمونو " ۲۷۷ حادثې ښودلې دي چې یوناما هغه تعقیب کړ دي. له ۲۷۷ حادثو څخه یوناما ددوی ۹۱ حادثې مستند کړی دی. او ۸۳ حادثې تعقیب شوي او د یوناما له خوا مستندې شوي او یونانا ونشو کړلی چې پاتې ۱۰۳ حادثې تصدیق کړي.

### هغه حادثې چې یوناما د طالبانو له ویناوو څخه مخکې مستند کړې دي

له ۹۱ هغو حادثو څخه چې یوناما د طالبانو له وینا وو څخه مخکی مستندې کړې دي ، په ۳۲ هغو کې یوناما د ملکي کسانو د تلفاتو شمیر هغومره ښودلی چې د طالبانو په ویناوو کې راغلی دي. یوناما ویلي دی چې د دغو تلفاتو ۲۷ پیښې دولت پلوه ځواکونو ته منسوبیږي ، درې یې د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو د ډزو تبادلې ته منسوبې دی او یوه قضیه دولت ضد عناصرو ته منسوبه ده او په یوه حادثه کې د ملکي تلفاتو لامل هیڅ لوري ته نه دی په ګوته شوی.

په ۲۲ دغو پیښو کې ، یوناما د ملکي تلفاتو شمیر د طالبانو د ویناوو په خلاف کم ښودلی. یوناما مشاهده کړی ده چې په ۱۵ حادثو کې ملکي تلفات دولت پلوه ځواکونو ته ، په څلورو حادثو کې دغه تلفات دولت ضد عناصرو ته او په دریو حادثو کې ملکي تلفات د د د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو د تبادلې له منسوب شوي دي.

په ۲۰ حادثو کې ، یوناما و موندله چې د ملکي تلفاتو اندازه تر هغه شمیر زیاته وه چې طالبانو ښودل ده ، په داسې قضیو کې دولت پلوه ځواکونه د ۱۴ قضیو لپاره مسوول ګڼل شوي او په څلورو قضیو کې دغه تلفات د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو تبادلې له امله ښودل شوي ، په دوو نورو قضیو کې تلفات هیڅ لوري ته منسوب شوي نه دي.

په پاتې ۱۷ حادثو کې ، دوه یې لا اوس هم تر څېړنې لاندې دي ، په څلورو قضیو کې یوناما دې نتیجې ته ورسیده چې دغه حادثې په وسله واله جګړو پورې نه وې تړلې ، په څلورو قضیو کې یوناما د تلفاتو په اړه ویلي چې هغه ملکي کسان نه وو ، په یوه قضیه کې یوناما و نه شو کولای تشخیص کړی چې ایا تلفات په وسله واله جګړو پورې تړاو درلود او که نه ، په یوه بله قضیه کې یوناما و نه شو کولای چې د ژوبل شویو او وژل شویو کسانو موقف تشخیص کړی او په پنځو قضیو کې ملکي تلفات نه دی رامنځ ته شوي.

### هغه پیښې چې یوناما د طالبانو له بیانیو څخه وروسته مستندې کړې دي

له ۸۳ قضیو څخه چې یوناما د طالبانو له ویناوو څخه وروسته تعقیب کړې دي ، په لسو قضیو کې د ملکي کسانو د تلفاتو شمیر د یوناما او طالبانو د بیانیو تر منځ یو شانته وو. د یوناما په وینا ، ۸ دغه تلفات دولت پلوه ځواکونو ته او یو یې دولت ضد عناصرو ته منسوب و او په یوه قضیه کې تلفات یوه لوري ته هم نه شو منسوب نه شول.

په شپږو قضیو کې ، یوناما ویلي دی چې د ملکي تلفاتو شمیر تر هغه شمیر کم دی چې طالبانو یې ادعا کړې ده. یوناما دغه ۶ حادثې دولت پلوه ځواکونو ته منسوبې ګڼي. په څلورو قضیو کې ، یوناما د ملکي تلفاتو شمیر تر هغه شمیر زیات مستند کړی دی چې طالبانو ښودلي دی.

په یوه قضیه کې مسوولیت دولت پلوه ځواکونو ته اړول شوي دی ، په یوه بله قضیه کې دغه مسوولیت د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو تبادلې ته او په دوو قضیو کې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي دي.

په پاتې ۶۲ قضیو کې ، یوناما ویلي دی چې ۹ قضیې په وسله واله جګړې سره کومه اړیکه نه لرله ، د ۲۱ قضیو به مرګ ژوبله کې ملکیان نه وو ، په یوه قضیه کې یوناما و نه شو کولای تشخیص کړی چې تلفات په وسله واله جګړو پورې تړاو لري او که نه او په یوه قضیه کې د وژل شویو او ژوبل شویو کسانو موقف نه دی تشخیص شوی. په یوه پیښه کې یوناما مستنده کړی ده چې حادثه نه ده پیښه شوې ، په بله پیښه کې یوناما قضیه کومې خوا ته نه ده منسوبه کړې ، درې قضیې مستندې نه شوې ځکه چې طالبانو د قضیو ځای نه دې ښودلی او په ۲۵ قضیو کې یوناما ملکي تلفات نه دي مستند کړي.

**لنډيز**

د طالبانو په میاشتنیو ویناوو کې له ۲۷۷ حادثو څخه د یوناما په نظر په ۴۲ هغو کې د ملکي تلفاتو شمیر له هغو ارقامو سره سمون لري چې یوناما مستند کړی دی. په ۲۸ حادثو کې د ملکي کسانو تلفات تر هغه زیات ښودل شوي چې د طالبانو په ویناوو کې راغلی او ۲۴ قضیې د ملکي تلفاتو لږ شمیر څرګندوي.

یوناما مشاهده کړې ده چې طالبانو په ټولو ۲۷۷ قضیو کې د ملکي تلفاتو پړه په دولت پلوه ځواکونو اچولی ده. د یوناما څېړنو او شواهدو دغه پړه په ۷۱ قضیو کې دولت پلوه ځواکونو ته منسوبه کړی ده.

په ۱۱ نورو حادثو کې یوناما مستنده کړی ده چې ملکي تلفات د متقابلو فیرونو په اثر رامنځ ته شوي او په اتو حادثو کې دغه تلفات دولت ضد عناصرو ته منسوب ګڼي او په څلورو قضیو کې ملکي تلفات هیڅ لوری ته نه شي منسوبولی. یوناما په ۳۰ قضیو کې هیڅ ملکي تلفات نه دی مستند کړي. په ۲۵ قضیو کې د یوناما په نظر د طالبانو په خلاف تلفات ملکي کسانو ته اوښتي نه دي. د یوناما موندنې ښايي چې ۱۳ ادعا ګاني په وسله واله جګړو پورې تړلې نه وې او په پاتي ۱۱۵ قضیو کې د حادثو او تلفاتو موقف نه شو تعیین کیدای.

| مجموعه | د یوناما سندونه | پایلې | منسوبونې |
|---|---|---|---|
| ۲۷۷ | ۹۱ قضیې چې د یوناما له خوا د طالبانو تر ویناوو د مخه مستندې شوي دي. | په ۳۲ قضیو کې د ملکي تلفاتو شمیر یو شانته وو. | ۲۷ دولت پلوه ځواکونو ، ۳ دولت پلوه او دولت ضد عناصرو تر منځ متقابلو ډزو ته ، یوه هیڅ لوري ته او یوه د دولت ضد عناصرو ته. |
| | | ۲۲ قضیو ملکي تلفات کم ښودلي دي . | ۱۵ دولت پلوه ، ۳ ددوی په منځ کې متقابله فیرونو او ۴ دولت ضد عناصرو ته . |
| | | ۲۰ قضیو لوړ شمیر تلفات ښودلي دي. | ۱۴ دولت پلوه ځواکونو ته ۴ د دوی په منځ کې متقابلو فیرونو او ۲ هیڅ لوري ته |
| | | دوه قضیې تر څېړنې لاندې وې | |
| | | ۴ قضیې وسله واله جګړو ته منسوب شوې نه وې | |
| | | ۱ قضیه وسله واله جګړو ته نه شوای منسوبیدای | |
| | | یوناما د یوې قضیې د هدف موقف او تلفات نه شو تعینولای | |
| | | ۵ قضیو ملکي تلفات نه درلودل | |
| | | په ۴ قضیو کې تلفات ملکي کسان نه وو | |
| | 83 قضیې د یوناما له خوا د طالبانو د ویناوو له نشر څخه تر مخه مستندې شوي دي. | په لسو قضیو کې د تلفاتو شمیر یو شانته و | ۸ دولت پلوه ځواکونو ته ۱ دولت ضد عناصرو ته ۱ هیڅ لوری ته |
| | | په ۶ قضیو کې د تلفاتو شمیر لږ ښودل شوی | ۶ دولت پلوه ځواکونو ته |
| | | په ۴ قضیو کې د تلفاتو شمیر زیات ښودل شوی | ۱ دولت پلوه ځواکونو ته ، ۱ د دوی په منځ کې متقابله فیرونو ته ، ۲ دولت ضد عناصرو ته |
| | | یوه قضیه تر څېړنې لاندې وه ۹ قضیې د وسله والې جګړې نه وې. | |

| | | |
|---|---|---|
| | | یوناما یوه قضیه وسله والې جګړې ته نه شوای منسوبولای. |
| | | یوناما په یوه قضیه کې د هدف موقف / تلفات نه شو معلومولای. |
| | | ۲۵ قضیو ملکي تلفات نه درلودل. |
| | | په ۲۱ قضیو کې تلفات ملکي کسان نه وو. |
| | | د یوې قضیې پیښېدل یوناما نه دي تایید کړي. |
| | | یوناما نه شو کولای چې ۳ قضیې تایید کړي ځکه چې ځای یې معلوم نه وو. |
| | | یوه قضیه په اړوندو پیښو پورې مربوطه وموندل شوه. |
| | یوناما ۱۰۳ قضیې تایئد نه کړای شوي. | |